# دعوت

**ملي، خپلواکه خپرونه**

www.dawatmedia24.com

ISBN: 978-82-691395-2-5

Vol. 246 Dec. 2020 پرله پسي ګڼې ۲۴۶


**ملي سندره**

څو چې دا مځکه آسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
څو چې پاتې يو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوريت
تل دې وي ملي وحدت

د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصيحت سـره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سـره په داسـې ډول مباحثه وکړه چې ډيره غوره وي. ( سـوره النحل ، 125 ايت )


موسس او مسئول چلوونکی:

**محمد طارق بزګر**

د تأسيس نيټه: 1367ل،(۱۹۸۸م)

Dawat Media,
V/M. Tariq Bazger
Vold gt. 37A, 2000
Lillestrom, Norway
Tel. +47- 63844384 Mobile. +47-90856195
dawatmedia@gmail.com
www.dawatmedia24.com


## د دعوت خپرونې څلور ديرشمه (۳۴)

## کليزه مو مبارک

موږ د دعوت دا ګڼه په داسې وخت کې خپروو چې د دې مجلې د عمر ۳۴ کاله پوره کيږي. لومړی ځل لومړی ګڼه د ۱۹۸۸ عيسوي کال د دسمبر مياشت کې د ناروې د يوې ليرې پرتې جزيزې هارايد چې ټول نفوس يې ۵۰۰۰ تنه وو، خپره شوه. لومړي په ناروې کې ميشتو او نوو راغلو افغانانو او بيا ورپسې سويډن او ډنمارک ورپسې ډيرو اروپايي هېوادونو او په لږ وخت کې د نړې کوټ کوټ ته ورسيده چې تل يې ښکته پورتهاو لوړې ژورې درلودې. خو د خپرونکی، مسئوول او د درنو همکارانو په ملاتړ تر دې ځايه راورسېده. دا ګڼه بايد د تير کال ۲۰۲۲ ډسمبر مياشت کې خپره شوی وای خو د مسئول مدير د سفر او ورپسې د پرله پسې صحي ستونزو له امله په يو څه ځنډ خپريږي.
په هر حال مينه والو ته يې د دې اوږد سفر مبارکی وايم او د خپلو ټولو همکارانو د زړه له تله مننه کوم.
زموږ ګران هېواد د اوږدې ناکرارۍ وروسته اوس د نورو ستونزو سره چې ولږه، بېکاری، د تعليم مخنيوی او ملايی واکمنۍ او ميم زر ما ټوله له زما د سياست لاندې د يوې ژورې فاجعې خواته روان دی. له هېواد دننه او بهر ټول خبرونه د افغانانو د بدبختيو، ستونزو او سپکاوي ډک دی.
د وخت غوښتنه دا ده چې ټول افغانان پرته له توپيره يو بل ته لاس ورکړی، د يو بل مرسته وکړی او يوازې د افغانيت تر شعار او د ملي درې رنګه بيرغ د تلپاتې سولې او د افغان ولس په خوښه د يوې واکمنۍ د جوړيدو او د جنګ جګړو د مخنيوي له پاره لاس په کار شي.
دعوت رسنيز مرکز ستاسې او ستاسو له پاره دی د دې فرهنګی مرکز ملاتړ وکړئ، له خپلو نظرياتو مو خبر کړی. او دا بله ډېوه تر ډيره روښانه وساتی. ستاسو د هر ډول قلمي، علمي او مالي همکاريو په هيله



**اغلې لايبه يوسفزی د دعوت سره په مرکه کې:**

**امريکا – برېتانيا او نور هېوادونه په دې افغان سيمه کې خپلې موخې لري**



**د دې ګڼې هنری او ادبي ځيره**

**حفيظ الله تُراب**



**مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلي، آباد او يو موټي افغانستان په لور**

# د دعوت خپروني څلوردیرشمه (۳۴) کلیزه دي ټولو مینه والو ته مبارک وي

## دعوت مېډیا د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت رسنیز مرکز وياړي چې د خپلو بېلابېلو رسنیزو فعالیتونو د لیارې د هیواد په دې ټاکونکو او حساسو شیبو کې په ملي افغاني روحیه تر خپله وسه هڅه کوي چې خپلو خلکو ته د خدمت مصدر وګرځي.

د دعوت ملي خپرونه د خاوري تمامیت، ملي ګټو او د ملي یووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، لیکوالانو، او روڼفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانیستلی سنګر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هیواد او ولس کورني او بهرني دښمنان وروپیژني او تر ممکن حده د دوی خاینانه دسیسې او توطیې شنډې او خنثی کړي.

په هیواد کې د سولې، ولسواکی، ټولنیز عدالت، وګړیزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بیان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنیو بنسټیزو اسانتیاو د برابرولو، او په لنډه که ووایو د دموکراتیکو لارو، نه د "زور، زر، او تزویر" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثریت په خوښه د یو غښتلی او ملي مرکزي ملي حکومت د جوړیدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بیائي. خو!

د دې ځراغ د روښانه ساتلو د پاره د ګرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاریو ته د هر وخت نه خورا زیات ضرورت دئ، که زموږ د پالیسی او د دعوت د ملي خپروني د محتوا سره موافق یاست نو موږ د دې جوګه کړی چې د دعوت میډیا خپروني او دعوت خپرونه د نړۍ او ګران افغانستان ګوټ ګوټ ته ورسوو، او د هغه نا امیده هیوادوالو له پاره د امید ډیوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله یې خپل امید د لاسه ورکړی دی، او داسې چیرته چې افغان وي هلته دعوت وي یانې دا چې ډیرو هیوادوالو ته دعوت ورسیږي او زموږ هڅې به هله بیځایه نه وي چې یو زیات شمیر هیودوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسیدل ستاسو درنو هیوادوالو او د دعوت مینه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هیله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په لیکل شوې پته راواستوئ:

د بانک او یا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.

یو ځل بیا وایو :

((دعوت میډیا د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي ډلې نمایندګي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پورې تړلې ده. دعوت میډیا د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپروني کوي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د پخوا نه زیات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتیا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه

د دعوت اداره

## دعوت مېډیا ستاسې او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هیواد نه خپریږي. د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي او غیر سیاسي ډلې استازیتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپریږي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو لیکنو مسئولیت د درنو لیکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره لیکنه دې د دعوت د نشراتي پالیسی سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER,**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384
Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5

Orgnr (Reg#): 985160058

د انترنت په نړیواله شبکه‌زموږ د ویبپاڼې پته

www.dawatmedia24.com

زموږ د برېښنا لیک پته:

dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب

Account for international payments:
NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره: Vipps: #557320

خنګه کولی شئ د دعوت مېډیا مالي مرسته وکړی:

خپلې مرستې (پیسې) د بانک په پته راولیږئ. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلک دي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د بریالیتوب او لاښه پرمختګ زیری دی. هر افغان باید تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسئولیت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

اغلې لايبه يوسفزۍ له دعوت سره په مرکه کې:

# اصل کې امريکا – برېتانيا او نور هېوادونه په دې افغان سيمه کې خپلې موخې لري

اصل کې امريکا – برطانيه او نور هېوادونه دلته په دې افغان سيمه کې خپلې موخې لري

**پوښتنه: که دا راته ووایاست چې لايبه يوسفزۍ څوک ده؟**

**لايبه يوسفزۍ:** زه د پښتونخوا رسالپور کېنټ کی پیدا شوی یم په بنسټیزه توګه د صوابۍ سره تعلق لرم او هم هلته له لوړو تعلیمی ادارو نه می تر BA زده کړې کړې دي. وروسته مې د پېښور پوهنتون ژوناليزم کې ماسټري کړې ده.

لومړی ځل ې د اولنی خیبر نیوز د بنسټګرې په توګه ورسره یو ځای شوم او د لومړنی ډایریکټرې، پروډیسر سکرپټ لیکواله او د بیلابیلو پروګرامونو ویانده (نطاقه) په توګه مې کار کړی او په ځنګ کې مې ایم ای انګلیسی، بی ایډ، او د بشری حقونو په برخه کی هم ډګریانې تر لاسه کړی دي.

وروسته مې راډیو فری یورپ مشال سره له اسلام اباد څخه د سینر ژورنالیستې په توګه کار کړی کار کړی . بیا مې بی بی سی اردو سیلاب پروژې د مشری په توګه له اسلام اباد څخه کار وکړ. بیا په نادره اسلام اباد او پختونخوا کې د ډپټی ډاریکټرې په توګه کار وکړ او ورسره بی بی سی پښتو چینل کی هم د خبریالې په توګه تر ۲۰۱۷ پورې ګار وکړ. بیا مې له امریکا غږ اشنا راډیو سره کار وکړ. د پښتو، اردو او انګلیسی رسنیو سره په افغانستان او پاکستان انلاین ویبپاڼو سره په بی شمیره او بیلابیلو موضوعاتو لیکنی کړی دي. دی سره د پاکستان نیشنل میډیا لکه راډیو پاکستان، پی ټی وی، پی ټی ورلډ کې د ویاندې په توګه اردو پښتو نیوز او ښځینه پروګرامونه مخته وړې دي.

2009نه په سوشل میډیا د مظلوم پاکستانیانو ، زنانه ، ماشومانو او په ځانګړی توګه لروبر افغانانو ته می مبارزه تر نن وخت کوم د پی ټی ایم مرکزی کمیټی غړی او واک تحریک بنسټګره یم. او سوشل سیکټر کی می ورسره په ریسرچ، هم کارونه کړی دی

**پوښتنه: تاسو په څو برخو کې کار کوئ لکه د ښځو حقونه، د ماشومانو حقونه، د پښتنو د حقونو، پی ټي ایم، او رسنیزو کارونو کې بوخت یاست، اوس څه کوئ او ډېر مصروفیت مو په څه وی.؟**



**لايبه يوسفزۍ:** نن وخت کی دوبی خبری اداره کی لیکنی، انټرویوز او ډاکومنټریز، راپوروںه کوم. د پښتون غورځنګ د کمیټی غړی په توګه او خزینه تحریک واک له هلی ځلی کوم.

**پوښتنه: ولې مو خپل وروستۍ دنده (وظیفه) له لاسه ورکړه علت يې څه وو؟**

**لايبه يوسفزۍ:** اکثر کارونه می کال دوه دری څلور نه زیات اونه کړی شو . علت یی د پاکستان اسټیبلشمنټ دی چې مونږ رقم خپل قام غږ اوچتولو او ورته کار کولو باندی جوخت نظر ساتی، خنډونه جوړوی او وظیفو نه مو په جلا جلا طریقی لری

کړی یم . آخری وظیفه اشنا غږ نه د خړ کمر پیښه باندی زما سخت تقریر چی احتجاج کی می کړی وی . راپسی لوی فایل د تورونو تیار کړو د وظیفی نه په وباسلم.

**پوښتنه: تاسو په غونډو، جلسو او هم د ټولنیزو رسنیو د لارې د پښتنو د حقونو له پاره مبارزه کوئ او داسې ښکاري چې د هېچا پروا نه کوئ او نه مو له چا ویره وي ستاسو د دې زړورتیا علت څه دی؟**

**لایبه یوسفزی:** زړورتیا علت د فطرت نه مجبوره یم حساسه یم مظلوم انسانانو او بیا د خپلو محکومو افغانانو په هکله بی حده حساسه یم. زما پلار زما تربیت ډیر زړه ور کړی دی هغه به ویل هلک او جینۍ کې هیڅ فرق نشته باید یوه تعلیم یافته جینۍ زیاته بهادره او مضبوطه وی او مثال به یې راوړ چی پخوا جنګونو کی ایسپزو (یوسفزو) ښځو خپل د شهیدانو پلرونو او ورونو ته قبرونه پخپله جوړ کړی دي. ډارن خلک نه نر او نه ښځې خوښوي. مونږ ته یې زمونږ د نارینه اولاد نه زیات توجه او مینه راکړی ده. ما کله خپل کورنی کی دا محسوس کړی نه ده چی ایا جینۍ هلک سره فرق وی دا زمونږ د پلار، مور هاغه لوړ تربیت وجه ده. زه پیدایشي هم زړه وړه ووم.

**پوښتنه: په پښتونخوا او بلوچستان کې چې اکثریت اوسېدونکی یې پښتانه دی خو ستونزه دا ده چې په خپلو منابعو او حتې له خپلې ژبې بې برخې او بېواکه دی علت یې څه دی؟**

**لایبه یوسفزی:** دا وطن پیرنګیانو د خپلو هدفونو له پاره په اسیا کی په چل ول او زور جوړ کړی دی دلته یی څو قامونه غلامان او محکوم ساتلی دی چې په هغې کې پښتانه هم شامل دي دلته د افغانستان د وهلو او پښتانه د خپل تاریخ، کلتور، ژبی، اتلانو او جغرافیې نه بی خبره ساتلو، تر څو پښتانه په خپلو کی یو نشي. د د دې له پاره له میډیا، د ښوونځیو د نصاب د لارې، او پنجابی فوج د خپل مسلسل پروپګنډو د افغان ولس د دین اسلام په نوم ټکولی دی تر څو یې له خپل شناخت افغانیت نه لری کړی. او د خپلو وسایلو، جغرافیې، تاریخ، کلتور، اتلانو او ژبې د ارزښت نه یې بی خبره او لرې ساتي.

**پوښتنه: څه باید وشي چې پښتانه له خپلو برحقه حقونو څخه برخمن شي؟**

**لایبه یوسفزی:** لر او بر پښتنو د یووالی پرته بله لار نشته که مونږ بهرینو قوتونو ته ګورو که مونږ ته به څه وکړي هغوئ ته زمونږ ژوند هیڅ ارزښت نه لري او د نورو پرته اسلامي نړۍ هم زمونږ په کیسه کې نه ده. د پښتنو تحریکونو او د پښتون ژغورنې غورځنګ سره به ودرېږو. د هرې ناجایز او ناجایزو په وړاندې به احتجاجونه به کوو، پاڅونونه به کوو.



نړیوالو ته به د خبرو بلنه ورکوو د خپل افغانیت او ژوند قام احساس به ورکوو چې مونږ امن او د خپل وطن واک غواړو او پاکو افغانانو فکري مرکز به جوړوو. خپلو ځوانانو ته به د تعلیم لارې چارې برابروو، اروپا او نورې نړۍ ته یې په دې شرط لیږو چې بیرته به خپل وطن ته د خدمت له پاره راځي.

**پوښتنه: د پښتنو د جرګو او د وروستۍ جرګې په اړه ستاسو نظر څه دی او څه د دې سبب شول چې دغه جرګه چې ډیر پښتانه پکې راغونډ شوي وو جوړه شوه تاسو دغه جرګه بریالۍ ګڼئ او که باید نور کار هم په دې هکله وشي؟**

**لایبه یوسفزی:** ما کلونه کلونه د لروبر پښتنو سیاسي مشرانو، ټولنیز مشرانو د جرګو غږ کاوه خو کله چې سردار عارف شهید شو په هغه ورځ ما یوه لیکنه د ټولنیزو رسنیو د لارې وکړه د جرګو غږ زه له کلونو کلونو کوم دغه مې ولیکل چې لویه جرګه شئ، کلی په کلی جرګه شئ او بیا لراوبر جرګه شئ چې کله یو شئ بیا ملګرو ملتونو ته جرګه ولیږئ.

د دغو جرګو تسلسل د لروبر پښتنو / افغانانو له پاره ډیر ښه دی چې د خپل وطن او قام جغرافیه، تاریخ،کلتور، ژبه او جنګونه چې

دلته خلکو راوړي دی د ټولو په وړاند باید مو یو موټی شو نو د ټولو ستونزې به حل شي چې دا کار په یو تن او یوه جرګه نه کیږي ځکه د افغان په وطن دا جنګونه له ۴۵ کلونو روان دي نو ځکه د ستونزو حل به وخت نیسي.

**پوښتنه: ولې په پښتنو کې مذهبی افراطیت او ترهګری ډیره ده او د دې مذهبي افراطیت ډیری قربانیان هم همدا پښتانه دی، ستاسو په نظر د دې علت څه دی؟**

**لایبه یوسفزی:** پښتانه له اوله مذهبي خلک دي، دې سیمې ته د تاریخ په اوږدو کې چې کوم مذهب راغلی افغان قام په پراخه سینه قبول کړی دی، خو مذهبي افراطیت په کې کله هم نه وو، خو له کومه وخته چې پیرنګیانديې سیمې ته راغلی نو په ډیره هوښیارتیا او چالاکی یې د یوې منصوبې له مخې د افغانانو په منځ کې په مذهبي افراطیت کار کړی دی او د انګریز له وتلو وروسته یې خپل کار دلته په سیمه کې د تور پنجابي په لاس جاری ساتلی دی او په منظم ډول د پښتنو په مذهبي افراطیت منظم او پرله پسې کار شوی دی. د اصل اسلام په ځای، خپلو اهدافو ته د رسیدو له پاره بدلون راوستلی دی او دغه دین چې دوی جوړ کړی او د دغې لارې پنجابیانو او پیرنګیانو نن په افغانانو کې مذهبي دهشتګردي او افراطیت زیات کړی دی.
دوهم علت یې دا دی چې افغانان د دنیا او دین دواړو علم او پوهه نه لري له همدې امله نور قامونه د دوئ ماغزه د خپلو هدفونو له پاره د مذهب د لارې کاروي.

**پوښتنه: تیر کال په افغانستان کې جمهوری نظام ړنګ او طالبان بیا واک ته ورسیدل او که واک ته ورسول شول؟ ستاسو په نظر څه وشو چې په افغانستان کې جمهوریت سقوط او طالبان واکمن شول؟**

**لایبه یوسفزی:** لومړنی علت یې خپله دننه جمهوریت کې وو چې خپله اردو او دفاعي نظام یط هغه ډول غښتلی او مضبوط نه کرای شو کوم ډول چې په کار وو او همدا شان په اقتصادي لحاظ مضبوط نه وو. طالیبانو سره امریکایی، پنجابي او نور لکه عربي قطر مرسته کوله. نو د افغانستان دننی چارو جوړول داسې اسان هم نه وو. بل دا چې جمهوري دولت کې دننه د خاینانو کمی نه وو. ځکه دغه قوتونو افغانان جمهوري ډله او طالیبان کله هم خپلو کې کینولو ته جوګه نشول یا پرېښودل شول. اوس یې وخت دی چې دا دریمګړی دا له مینځه ټول وویستل شي او خپلو کې جرګه شي، مرکه شي د یو بل واوري څه ومني او څه پر بل ومني.

**پوښتنه: ستاسو نظر د طالبانو په باره کې څه دی؟**

**لایبه یوسفزی:** طالبان نه له اسمانه راغلی او نه فضایي مخلوق دی همدغه د افغانستان بچي دي. کله کله په یو کور کې څه کسان د بهر دښمن په لاس ورشي او اصل لار یې بېلارې کړي. دا ۴۵ کلنو جنګونو نه وروسته افغانستان او افغان ولس د بدامنۍ او نورو جنګونو حوصله او توان نه نه لري. طالیبانو کې داسې خلک هم شته چې غواړي خپل جمهوري او نورو افغانانو سره کښيني، خپلو کې خبرې اترې وکړي او د امن او تلپاتې سولې لار پیدا کړي. او ځینې کارونه بیا د بربادۍ پرته بل څه نه لکه د جینکو پر وړاندې د ښوونځیو دروازې تړل.
بعضې قوانین چې نن د ۲۱مې پیړۍ کې د منلو وړ نه دي باید داسې شرعی قوانینو باندې د پوهان او علما اجتهاد وکړي ځکه اسلام کې پیغمبر علیه السلام داسې وخت د اجتهاد اجازه ورکړې ده.

**پوښتنه: طالبانو په افغانستان کې د انجونو ښوونځې تړلی او تر ډیره یې ورله د کار مخه نیولې ده تاسو د یوې پښتنې او د ښځو د حقوقونو د یوې مبارزې په توګه په دې اړه څه وایاست؟**

**لایبه یوسفزی:** د ښځو د علم او کار دروازې تړل افغان ولس او افغان وطن سره لویه ناځواني ده. ځکه د کوم هیواد چې ښځینه قشر له سواده پاتې شي هغه هیواد د ډیرو زماني ته رسي او د پرمختګ لارې یې د تل له پاره بندې شي. ښځې او نارینه دواړه د یوه هیواد د پرمختګ د ګاډې دوه ټیرونه دي، دا داسې شوه دا داسې شوه لکه یو ټیر چې پنچر شي نو د موټر تګ ګران شو او منزل ته رسیدی نه شي.

**پوښتنه: که وضع همداسې دوام وکړي او په افغانستان کې د تعليم او د جنکيو او د ښځو د پرمختګ، تعليم او کار مخه ونيول شي د دې کار تاثير به د افغانستان او د پښتنو په راتلونکې څه وي؟**

**لايبه يوسفزی:** ۲۱مه پيړی ښځو ته خپل ځانګړی اقتصاد خورا مهم دی بيا داسې هېواد چې چې ۴۵ کاله پکې جګړه شوې وي هلته به څومره کونډې رنډې او بېوسه ښځې شتون ولري که دا ښځې کار ونه کړي نو د دغو ښځو ژوند به څنګه وي؟
کارکوونکې ښځې د هېواد او کورنې پرمختګ دواړو کې مهم رول لوبوي، د افغان ميرمنو په وړاندې د علم او کار دروازې تړل دا ډير لوی ظلم دی. که چيرې طالبانو خپلې دې فيصلې ته دوام ورکړ نو انساني تاريخ او په ځانګړې توګه افغان تاريخ ته به همېش له پاره مختورن پاتې شي.

**پوښتنه: يو هېواد کې چې د علم او پرمختګ دروازې تړلې وي د دغه هېواد راتلونکې به ستاسو په نظر څنګه وي؟**

**لايبه يوسفزی:** دا بې شمېره ستونزې په هېواد دننه نظام کورنی او هېواد کورنې نظام کې پيدا کوي. افغانستان د پرله پسې جنګونو د لاسه داسې برباد شو او دې کار سره د ډېرو وخت ته هېواد او افغان ولس ورسوي، پرمختګ خو لويه خبره ده. د نړی سره به هيڅکله سيال نه شي خدای مه کړه.

**پوښتنه: يو زيات شمېر افغانان په دې نظر دی چې نظام او د تيرو شلو کلونو لاسته راوړنې په دوحه کې د امريکا او طالبانو خبرو او موافقې له منځه يوړې، افغان حکومت امريکا ښندې ته کړ او په پايله کې يې نظام طالبانو ته د يوې موافقې له لارې وسپاره تاسو تر کومه د دې نظر سره موافق ياست؟**

**لايبه يوسفزی:** اصل کې امريکا – برطانيه او نور هېوادونه دلته په دې افغان سيمه کې خپلې موخې لري. دې سيمه کې بېشمېره قيمتي وسايل شته. دې وسايلو ته لوی قوتونه او د سيمې ګرچاپير هېوادونه هم غله دي. دوهمه مهمه خبره د افغان جغرافيا اسيا کې د تجارت له پاره دا نور هېوادونه په ځانګړې توګه د اسيا هېوادونه لا مهم دي. دلته دا نړی دوه غټ قوتونه چين او روس هم پراته دي چين د اقتصاد له امله ډير مخکې دی. او افغان سيمه کې تجارت هڅې هم کوي افغانستان او پښتونخوا د اسيا د تجارت له پاره يوه تجارتي لاره ده. دا ځکه امريکا او اروپا دا دواړه قوتونه د نړی اول لمبر قوت جوړولو لار نيولو، د افغانستان او پښتونخوا خاوره باندې بل پراکسي جنګ ته تيار دی او افغان اولس دا دی جنګ يو ځل بيا خاشاک جوړول غواړي، ځکه افغانستان او دې محکومه خاوره پښتونخوا کې دا رژيم بدلون او جنګي لوبې ټولې د امريکا او اروپا دی او دې کې هيڅ شک نشته.



**پوښتنه: د طالبانو د بيا راتلو سره په لکونو تعليميافته ځوانان له افغانستان څه ووتل او لا هم وځي او په تېښته دی ستاسو په نظر د يو هېواد څخه د تعليم کړو خلکو وتلو تاثير به د افغانستان په راتلونکې څه وي؟**

**لايبه يوسفزی:** لوستي ځوانان د يو هېواد د پرمختګ ستر قوت وي . له افغانستان څخه د لوستي ځوانانو تيښته به د افغانستان په لوی زيان تمامه شي؛ ځکه چې د وطن د پرمختګ او ساتنې

ذمه واري هم دغو ځوانان پورې اړونديږي؛ نو که چېرې دوی لاړ شي وطن خو بيرته ورانيږي.

هر هېواد لوستي کسانو ته اړتيا لري، چې د ژوند په هر برخه کې لکه: انجينيران، ډاکټران، د ښوونځي او پوهنتون استادان، تخنيکي ماهرين، ای تي ماهرين، د برېښنا او نور بيلابيلو برخو کې د ځانګړې روزنو سره کار وکړي. هر هېواد بيلابيلې شعبې لري او هره برخه ځانته مسلکي کسانو ته اړتيا لري. افغانستان جګړه ځپلی هېواد دی چې جغرافيي ساحې ته په کتو ګاونډ هېوادونه يې د اټومي وسايلو لرونکی هېوادونه دي. افغانستان کې نه يوازې خپل مسلکي وګړو ته اړتيا ده؛ بلکې بايد له نورو هېوادنو هم ورته مسلکي کسان وغوښتل شي. طالبانو کې هم لوستي او مسلکي کسان شته؛ خو ژوند سمبالونکي او د هر نظام ماهرين به نه وي. دا نشته والی به افغانستان له بربادۍ سره مخ کې. طالبان بايد مسلکي او وړ کسان د هېواد د نظام پرمختګ لپاره وګوماري؛ که داسې ونه شي لږه موده کې به حکومت له سترو ستونزو سره مخ شي.



**پوښتنه: ايا د طالبانو د واکمنۍ پر وړاندې جګړه د حل لار ده او که سوله ايزه مبارزه؟**

جګړه هېڅکله د يوې ستونزې حل لار نشي کېدای تاريخ د دې خبرې ګواه پاتې دی، چې که هر څومره اوږدې جګړې هم شوي دي پای کې دغه مخالف قوتونه خبرو ته ناست دي يا دواړه لورې سختو تاوانونو سره مخ شوي دي. طالبانو ته هم سوله ييزه مبارزه ستره او اخري حللاره ده. د افغانستان لوستي، کادرونه او پوهان به دغه مبارزه تر پايه کوي او طالبان بايد دې ته اړ کړي چې خبرو اترو ته ورسره کيني.

**پوښتنه: ايا د افغانستان په شان يو هېواد ټولو ضرورتونو او غوښتنو ته به د مدرسې طالبان، ملايان، او نيمچه ملايان چې په اصل کې يوه جنګي ډله ده ځواب ووېلی شي؟ په داسې حال کې چې دوئ په خپل يو کلن حاکميت کې ونه شو کړای يوازې يو بانکي سيستم بيرته فعال کړي د هېواد نورې چارې به څنګه تر سره کړي؟ په داسې حال کې چې افغانستان د اتومي ځواک درلودونکی، حريصو او بېرحمو او قوي ګاونډيانو په منځ کې پروت هېواد دی.**

**لايبه يوسفزۍ** طالبان حکومت په ديوالونو نه بلکې د افغانستان پر ولس يې کوي. که ژر تر ژره په خدمت او مينه د ولس زړه لاسته را نه وړي او که د نړيوالو حکومتونو تر منځ مشروعيت تر لاسه نه کړي، دا به د طالبانو ستره ناکامي او دا حکومت به ډېر دوام ونه کړي. پايله به يې يوازې پښېماني وي.

**پوښتنه: يو هېواد کې چې د علم او پرمختګ دروازې تړلې وي د دغه هېواد راتلونکې به ستاسو په نظر څنګه وي؟**

**لايبه يوسفزۍ:** يو هېواد کې چې علم او پرمختګ دروازې وتړلې شي، داسې هيواد به هيڅ پرمختګ ونه لري، يوازې تباهۍ سره به مخ شي. او که خدای مه کړه که د له منځه تلو خطر سره مخ شي بيا به هر څوک خپلې ګټې لټوي؛ ځکه د يو بېسواد هېواد پايله به تباهي وي.

اود افغانستان ګاونډي هيوادونو سره سره امريکا، يورپ او عربی ملکونو هم لوی دښمنان دي؛ خو طالبان يوازې پر دين او مذهب ټينګار کوي، مسلماني وايي او اسلامي هېوادونه لا دوی ته ارزښت هم نه ورکوي. هېوادونه پرمختګ، سيالۍ، اردو، منظم اقتصاد او نظام ته اړتيا لري، چې راتلونکې کې څوک د جګړې او نا امنۍ راوړلو ځواک ونه لري. وسايل يې څوک لوټ نه کړي، تجاراتي لويې لارې ته يې تګ راتګ او ګټه اخيستو جرات ونه کړي.

**پوښتنه: تاسو د افغانستان له داخله له خپلو اړیکو له لارې څه اورئ خلک څه وايي او څه غواړي؟ ایا تاسو کله له طالبانو سره خبرې کړي دي؟**

**لايبه یوسفزۍ:** د افغانستان ولس د نجونو پر مخ لومړۍ د ښوونځي او پوهنتونو دروازې د تل لپاره خلاصول غواړي. دویم د افغانو میرمنو د کار او پرمختګ اجازه ورکول غواړي. د طالبي چارواکي سخت چلند د افغان ولس د کرکې لامل شوی، دا وګړي خپل ځان محفوظ نه ګڼي او ترې یریږي. بل افغان ولس غواړي طالبان او جمهوري غوښتونکي ډلې دې په خپلو کې پرته له کومې جګړې جرګه شي. نجونې دې زده کړو ته پرېښودل شي او دا ستونزې دې حلې شي. طالبان چې له ما سره خبرې کړې او مشورې یې غوښتې همدا ویلې چې څه ستونزې حلې شوې او ځینې باندې لا هم کار روان دی. جرګې ته هم تیار دي او د



افغانانو یو کېدل غواړي. خپګانونه دې له منځه لاړ شي، د میډیا له لارې دې د خینې طالبانو په هکله تبلیغات بند شي او په دې لړۍ کې دې د طالبانو او ولس تر منځ لرې والې او کرکه ختمه شي.

**پوښتنه: په ځانګړي ډول مو بهر مېشتو افغانانو ته مو پیغام څه دی؟**

**لايبه یوسفزۍ:** بهر میشت افغانان دې اول خپلو کې متحد شي، مرکې وکړي او خپلې ډلې دې جوړې کړي. طالبانو سره دې د ناستې خبرو اترو مسلسل هڅې وکړي، چې دغه هڅې کامیابې شي؛ نو طالبانو سره دې ناستې وکړي، په ارامۍ دې یو بل واوري. ځکه مشران وايي: دریېم ګړی تل کور ورانوي. نور هېوادونه خپل منځ کې مه راولئ هغوی ستاسو تباهي او بې اتفاقۍ ته اړتیا لري. یووالی، صلح، امن پرمختګ نه. نو طالبانو سره ناستې وکړئ څه یې ومنئ او څه پرې خپلې ومنئ. هر څومره تیروتنې چې د دواړو اړخونو نه شوې وي خو ټول افغانان يئ. کېدای شي تاسو ډېره پوهه ولرئ؛ نو خپل زیاتې پوهې له مخې زیات قناعت ورکړئ خو خپلو کې نور متحد شي. د هیواد د آبادۍ هیلې به هله جوړېږي، چې تاسې خپل منځ کې یو او دریېم ګړی ستاسو تر منځ نه وي.

**پوښتنه: په پښتونخوا، بلوچستان، سنده او پنجاب کې افغانان په دې وروستيو کې ډېر ځورولو کیږي، سپکیږي او ډېر بد برخورد ورسره کیږي چې حتې ښځې او ماشومانو زندانونه ته اچول کیږي او ټولې پیسې سره او سپین ترې پاکستاني پولیس او نور امنیتي کسان اخلي د دې علت څه دی؟**

**لايبه یوسفزۍ:** یو علت چې اوس بیا د طالبانو حکومت بدناموي دا دی، چې خپل ولس ته هېڅ نشي کولی. ولس یې نورو هېوادونو کې بې‌عزته او ځورول کيږي؛ خو دوی پوښتنه نه کوي. په دې وطن کې ولس او چارواکي یو بل سره په جنګ دي او دا د طالبانو حکومت کمزوری کوي. دویم جمهوري ډلې خپل شل کلن واک کې یو دوه لوی روغتونونه جوړ نه کړل. بل د لروبر تر منځ داسې مضبوط ولسي نظام جوړ نه شو، چې د بر اولس یا وګړي دلته راتګ سره د لر افغانان سره اړیکه وساتي او دوی یې بیا علاج ته ورسره ذمه وار کسان وټاکي نه طالب چارواکي. داسې لروبراولسي تړون جوړ نه کړ. نه یې هم پاکستان، ایران او ترکی حکومتونو سره په دی لړ کې څه نظام یا خبرې ونه کړې.

**پوښتنه: تاسو د یوې زړورې پښتنې ژورنالستې په توګه دا راته ویلی شئ چې د میډیا په ډګر پښتنانه د کومو ستونزو سره مخامخ دی او د خپلې غښتلې مېډیا له پاره باید څه وکړي؟**

**لایبه یوسفزی:** پښتنو افغانانو لروبر کی ډیر بی شمیره مالدار وګړی شته چی هر رقم غټ کاروبارونه لری خو بد مرغه د خپل افغان قام دی تاریخی بدامنی یرغل او ستونزو ته هس فکر نه لری میډیا نن 21پیړی بهترینه کاروبار هم دی او دا خپل قام هیواد لوی خدمت هم دی داسی خلق به تاریخ د خپل اولس هیواد اتلان ګرځوی . 21پیړی د میډیا دور دی او هر هیواد خپل قامونو د جنګونو لاری د میډیا دا پروپګنډی د لاری تری خپل بشری حقونه نړیوال اداروں نه غواړی خپل واکی او پرمختک میډیا لاری غواړی . خپل اولس ذهنونو کی څه تغیر هم د میډیا د لاری راولی . او دغه رقم پرمختګ کوی خپل اولس ته علمی او جوړ فکر دا میډیا دا لاری ورکوی . خو دا بده مرغه د افغان او ځانګری توګه د پښتنو داسی هس نامتو الیکترونک او پرنټ میډیا سه نیشته . چی افغانان تل په یرغلونه د هر هیواد نه شوی هر قام نه شوی تباهی سره مخ شوی تر نن وخته پوری او د لا وجی علم نه لری پاتی دی چی تل جنګونو کی ښکیل پاتی او لکه چرګانو زیات وژلی شوی بشری حقونه هر چا خپلو خپو لاندی کړی دی تر نن وخت . خو داسی خپله تکړه رسینی یا میډیا نه لری چی نړیوالو ته خپل د ستونزی او د ظلمونه په ګوته کی . نه یی داسی هسی کړی دی . نه ورسره چا مرسته کړی دا . د نړی هر هیواد چی جنګ پری راغلی او تباهی سره مخ شوی دی هر هیواد میډیا ورله کوریج څه ورکړی دی حالانکی هاغی هاغه رقم نسل کشی او تباهی سره مخ شوی نه دی کم سره چی لروبر افغان مخ دی . عن تر دی چی نړیوال وال بلبه هیوادونه او قامونه د افغانستان او افغان اولس ددتباهي یا شناخت نه هم خبر نه دی . دا وخت ضرورت دی چې دا لروبر افغان شتمن کاروباری خلق خپل مضبوطه میډیا اولری هم پرنټ او هم الیکټرونک چی هیواد والو فکر بدل کړي، د پرمختګ لارې ورته په ګوته کړي، نړیوال د خپل فکري او نسل وژنې نه خبر کړي ، خپل ستر تاریخ ، د ګلونو په څېر هېواد او ورسره نښتو ستونزو نه خبر کړي، او نورو هیوادونو سره په دی لړ کی اړیکې ونیسی . خپل هیواد ته د میډیا د لاری د امن، پرمختګ، فکری او علمی تبلیغ وکړي. خپل تاریخ، جغرافیه، کلتور، اتلان، او ژبه نړی ته به ښه ډول وړاندی کړي او د نړۍ مینه او پام خپل هیواد او ټول افغان ولس ته راواړوی. دې لړ کې ډیر څه کیدای شي. که ستاسو د رسنیۍ د لاری هر څوک دی کاروبار او خدمت ته ملا تړی د کامیابی سره . مونږ یې ملاتړ کوو او چوپړ کې یې یو.



**پوښتنه: پي ټی ایم چې په ډیره میړانه یې د پښتنو د حقونو غږ پورته او په لر او بر وطن کې پښتانه له درانه خوبه راویښ کړل، د پښتنو دښمن یې په ګوته کړ. او تاسو هم د پښتون ژغورنې غورځنګ یوه مخکښه څېره یاست د پي ټي ایم راتلونکې څنګه وینئ؟**

**لایبه یوسفزی:** د پښتون ژغورنې غورځنګ لروبر افغان ولس کې ډېره بیداري راوستې، چې څنګه به دښمن په ګوته کوي؛ څنګه به خپل جغرافیه، تاریخ، کلتور، اتلان، ژبه رامخکې کوي او نوی نسل ته به شیي. خپل بشري حقونه وایلیشن نړیوال ته په ګوته اوغږ به څنګه پورته کوي. دا احتجاجونه، پاڅونونه، مرکې به کېږي. نو د تحریک راتلونکی ډیر روښانه ده. دې سره به لروبر پښتانه افغانان ژر به یو کېږي او پورته کېږي؛ ځکه د ولس زور د خدای زور وي. کله چې خدای پاک یو ولس څواکمن کوي او غلامۍ نه وباسي دغه رقم تحریکونه به پیدا کوي او انساني تحریک دا دی د دې خبرې ګواه دی، چې ډېری هیوادونو کې ولسي تحریکونو سره ولس ویښ شوي، یو شوي، پورته شوي او

غلامۍ  نه تر خپلواکۍ سفر یې په بریالتوب تمام شوی دی. څکه تاریخ وګورئ ډیر هیوادونو کې یو شمیر  قامونه غلامان پاتې شوي دي او دغسې تحریکونو له برکته له غلامۍ خلاص شوي دي.

**پوښتنه: د پي ټي ایم تر ټولو لویه ستونزه څه ده؟**

**لایبه یوسفزی:** پښتنو کې لویه ستونزه تر هر تاریخي تحریکونو د ولس خپلمنځي بې اتفاقي او د دښمن د نفاق پروپاګنډ ښکار کېدل دي. یو بل باندې اعتبار کول او یو بل ته شک په نظر نه کتل دي. پي ټي ایم تحریک لا ماشوم دی او دې ستونزو نه تیرېږي؛ خو لا جګېږي او پراخېږي، نعره د پښتنو نه علاوه نور مظلوم قامونه کې هم منبورېږي. وخت سره یې اعتماد په مظلومانو کې په زیاتیدو دی. یوازې د سیاسي مشرانو ودرېدل په مضبوطه توګه پاتې دی. لا نور مخلص افغانانو ارتیا ده څکه دا د قام د ازادۍ او خپلواکۍ لاره ده.



**پوښتنه: د ښاغلی منظور پښتین د مبارزې په اړه که راته وواياست ستاسو په نظر څنګه شخصیت دی او توپیر یې د نورو پښتنو مشرانو سره څه دی؟**

**لایبه یوسفزی:** منظور پښتین په عمر کم؛ خو پوهه ډېره لري. هره خبره دليلونو سره کوي، چې هر ځای ته تګ کوي او هر قام تا مخامخ کېږي د پښتنو افغانانو مقدمه داسې دليلونو او مثالونو سره وړاندې کوي چې د سندهي، پنجابي او کشميري قام وګړي یې هم اوري هم یې مريدان جوړېږي.  منظور زړه ور دی وېره نه لري. استقامت یې زيات، صبر او دليل سره روان دی . هاغه مشران څه ښه وايي: ورځه خو جوخت ځه.  ډېر جوخت روان دی د عدم تشدد بنسټ او سياست يې ازاد دی؛ خو لا وخت ورته پکار دی چې نور اعتماد او باور واخلي. د مطالعې او مشاهدې عادت یې ډېر ښه دی. له نورو مشرانو سره توپير دا دی، چې هر څوک اوری او هر چاته بې کچه احترام لري هر تن ځانته نږدې کوي او دا خبره خپل تحریک غړو ته هم کوي چې د چا خلاف مه ځئ او د پښتنو د یووالي هڅې وکړئ.

**پوښتنه: د ټولو پښتنو د لر او بر افغانانو د یووالی له پاره ستاسې نسخه څه ده؟**

**لایبه یوسفزی:** د لروبر پښتون د ازادۍ، خپلواکۍ، پرمختګ او امن واحده لاره یوالی دی. خپلو کې نفاق ختمول، پراخه سينه ساتل، ستونزې په خبرو اترو، په جرګو مرکو ختمول دي. لروبر پوهان به یوځای کيني هڅې به کوي. همداسې ځوانان او پيغلې به هم یوکېږي و حل لاری به ټاکي. یوه طبقه به هم جلا نه پاتې کېږي. هر مزدور، هر هنرمند، هر شعبه خلک به یو بل ته لروبر لاس ورکوي پښتون چې هر کار هر زحمت وباسي پښتون دی افغان دی.  د کار محنت باندی هېڅوک چانه کم نه دی، که هاغه جولا، نایی، نداف او که کلال دی دا ټول کارونه د فخر وړ دی. په کار هېڅوک ورکی یا غټ نه کېږي. محنت کې لویوالی دی خو اتفاق او یو بل ته احترام کول د انسان او افغان په صفت مهم دی

**پوښتنه: په عمومي ډول مو ټولو افغانانو ته پيغام څه دی چې هر افغان د خپل لر او بر وطن او خلکو په وړاندې څه مسئوليت لري او په دې حساس او ستونزمن وخت کې بايد څه وکړي؟**

**لایبه یوسفزۍ:** هر لروبر افغان دا نن وخت کې ستونزو سره مخ دی؛ خو لروبر یو افغان دی. د دوی تاریخ، جغرافیه، کلتور، اتلان، ژبه او نسل یو دی. باید یو بل ته چې هر کار کوي کوچنی که غټ، کم تعلیمه وي که پوهان؛ خو ستروالی یې دې کی دی، چې یوبل ته احترام مینه ولري. اتفاق وساتي، خپلو نسلونو ته هم اتفاق، مینه او احترام وښيي. ستونزو کې باید یو بل ته لاسونه ورکړي. دې کار لپاره دې کوچنۍ ټولنې جوړې او پر مخ دې یوسي.

**پوښتنه: که لږه شخصي پوښتنه وکړم په څه بوخت یاست او خپلې ورځې په څه لنډوئ؟**

**لایبه یوسفزۍ:** دا وخت خو خپل ښځینه تحریک " واک " چې کوفاونډر یمه هلې ځلې کوم چې پښتنې میرمنې سیاسي، ټولنیز، معاشی، او بشري اسلامی حقونو ته لار پیدا کړي. خپل تاریخ، کلتور، جغرافیه، اتلان ورته ښیو، نمانځو، او د موجوده حالاتو په نړیواله کچه د ښځو او په ځانګړي توګه د پښتنو افغانانو لروبر ښځینه ستونزې په ګوته کوو. پرته له دې د پي ټي ایم احتجاجونه او سوشل میډیا لارې مبارزه کوو. کله کله بهرنۍ میډیا ته پښتنو افغانانو ستونزو باندې لیکنې هم کوم.

**پوښتنه: د دعوت رسنیز مرکز چې له ۳۴ کلونو راپدیخوا د ناروې له هېواده فرهنګی فعالیت کوي ستاسو په نظر زموږ د کارونو په اړه څه دی؟ او موږ (دعوت رسنیز مرکز) په څه ډول خپل رسنیز خدمتونه په ښه او موثر ډول د هېواد دننه او بهر خپلو هېوادوالو ته کولای شي؟**

**لایبه یوسفزۍ:** دعوت خپل کار ښه په مخلصه او پروفېشنل طریقه کوي. دې سره پښتنو ته خپلې ستونزې خپل مبارزین پوهان هم ښيي. د ولس فکري رغښت او ودې ته کار کوي او دې کار کې هېڅ شک نشته . کولای شي نور پرمختګ هم وکړي، افغانان چې هر هېواد کې مېشت دي ورسره اړیکه کوي. باید د هیواد دننه او بهر خلک ورته خدمت او نړېوال سیاست باندې څېړنې وکړي. مننه

**ازادي، خپلواکی، پرمختګ او امن واحده د لروبر پښتون د لاره یووالی دی. خپلو کې نفاق ختمول، پراخه سینه ساتل، ستونزې په خبرو اترو، او جرګو مرکو ختمول دي**



لایبه یوسفزۍ

www.dawatmedia24.com

# د افغانستان اوسنی وضعیت او

# د ملي دیالوګ ضرورت!

دوکتور نور احمد خالدی



**پیژندنه**

په تېر یوه نیمه کال کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د افغانستان اقتصادي وضعیت خورا خراب شوی، کورني تولیدات کم شوي، سلګونه زره کسان بې کاره شوي، د بیو شاخص لوړ شوی، او د بلې خوا د خلکو عایدات کم شوي، د خلکو خوراکي خوندیتوب له منځه تللی چه په نتیجه کی د هیواد نیمایي نفوس په فقر او قحطۍ کې دی..

سربیره په دا په افغانستان کې د طالبانو په واکمنی د شرعي احکامو د ناقص، غیر منطقي، عامیانه او غیر عقلانی تعبیرونو له مخې د خلکو مدني حقونه په ځانګړې توګه د هیواد نیمایي نفوس، یعنې ښځې او نجونې د کار او زده کړې له حق څخه بې برخې کړې. دا سیاستونه په عملي ډول د طالبان واکمنی له مشروعیت څخه بې برخې کړي دي.

اسلامی امارت د یو متمدنی حکومت په شان د ملی مسایلو په مقابل واحد دریځ او کړنلاره نلری. کوم اساسی قانون موجود ندی او نور مدنی قوانین بی سرنوشته پاتی دی. مملکت په فرمانونو اداره کیږی او د طالبانو یو تعداد واکمن وزیران جاهلانه فرمانونه صادروی. یو یې په تیر شلو کلنو د معارف او عالی تحصیلاتو فارغان ته چې د هیواد مسلکی کدرونه دی کنځاوی کوی او هغوی بی فایده بولی، بل یې د علم زده کړه «مباح» بولی، بل یې د ښځو تعلیم فحشاٌ تعریفوی او دعالی تحصیلاتو وزیر یې علمی درجې د ماینونو د چاودلو د تعداد په شمیر تعینوی! په اوسنی عصر کې بی قانونه حکومتکول د منلو وړ ندی.

په پایله کې د هېواد په سلګونو زره ملي سرمایه له هېواده وتښتېدل او ډېر شمېر یې په هېواد بیکاره او بی روزګاره ژوند کوی. د بېکارۍ، د اقتصاد نشتوالي او د عوایدو کمښت د افغانستان خلک سخت. مات شوي او ویجاړ شوي او دا پروسه ورځ په ورځ ژوره کیږي.

پر دې سربیره د رژیم پر وړاندې د خلکو د نا رضایتۍ او مقاومت امکان له تصور څخه لرې نه دی. همدا اوس د هېواد له ګوټ ګوټ څخه د وسله والو نښتو خبرونه اورېدل کېږي .ترهګریز فعالیتونه یو ځل بیا امنیت ته ګواښ پېښوي او د قومي او مذهبي اقلیتونو په ځانګړې ډول هزاره ګان، هندوان او سکهان، د طریقت او تصوف د خلکو په نښه کولو سره بنسټپیز تعصب ته لمن وهي او د ملي وېش له خطر سره مخ کوي.

په افغانستان کې ترهګریز بریدونه دوام لري، چې طالبان یې د مخنیوي توان نه لري. په کابل کې د القاعدې د مشر ایمن الظواهري وژل کېدل له دغې نړیوالې تروریستي ډلې سره د طالبانو د همکارۍ د دوام ښودنه کوي. بلخوا پاکستان هم په افغانستان کې د ترهګرو ډلو د ځینو مشرانو شتون تایید کړی دی. په افغانستان کې د هند ضد، چین ضد، تاجکستان ضد، ازبکستان ضد، روس ضد او حتی د پاکستان ضد ترهګرو ډلو شتون د نیابتي جګړو د دوام او زموږ د خلکو د ژوند شرایط لا

خرابوي. د طالبانو تحریک د خپل ماهیت او ایډیالوژیکي محدودیتونو له امله نه یوازې دا چې په سیمه کې د تروریزم او تروریستي فعالیتونو د پراختیا مخه نه شي نیولی، بلکې د سیمې د حکومتونو د سیاسي ثبات لپاره هم جدي ګواښ ګڼل کیږی.

اوسنی کړکیچن حالت سیمه ییزو سیالانو او هغو هیوادونو ته فرصت ورکوي چې په سیمه کې د خپلو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره د اسلامی امارت له بې کفایتۍ ګټه پورته کړي او د بلې نیابتي جګړې خطر لا هم په جدی ډول موجود دی.

د اوسني حالت دوام به د افغان ملت راتلونکی له جدي خطر سره مخ کړي او د معاصر تمدن د جریان د شاته کیدو، اقتصادي، تخنیکي، ټولنیز، سیاسي، فرهنګي وروسته پاتې والي او له نړیوالې ټولنې څخه د انزوا کیدو له خطر سره به مخ شي.

برسیره پر دا اوسنیو نامناسبو شرایطو د افغانانو د ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یووالي پر ضد عناصرو او جریانونو ته دا فرصت ورکړی، چې د هیواد د وېش لپاره ډېر بیرغونه او غوښتنې پورته کړي او زموږ د هیواد بنسټونه یې له جدي ګواښ سره مخ کړي دي.

## د ملی یالوګ ضرورت!

افغانستان د خلکو د اوسني سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او کلتوري وضعیت او د طالبانو د اسلامي امارت د رژیم د نړیوالو د نه پیژندلو له امله، افغان سیاسي فعالانو څو ایتلافونه، اتحادونه او محاذونه جوړ کړي دي. خو ښکاره ده چې هیڅ بنسټ او ایتلاف په یوازې توګه نشي کولای افغانستان او زموږ خلک له اوسني حالت څخه وژغوري. د سیاسي فعالانو تر منځ د همغږۍ د نشتوالي په دوام سره به په افغانستان **کې د رجعت غوښتونکو، استبدادي واکمنۍ ژوند** اوږد شي.

په دې تاریخي پړاو کې دا د افغانستان د ټولو بنسټونو، ایتلافونو، متحدینو او سیاسي فعالانو اساسي، مهمه او جدي دنده ده چې په یوه ملي ایتلاف کې سره متحد شي، ترڅو د پرمختګ د موخو په مرکز کې د یوه مشترک ادرس او مرکز په جوړولو سره افغانستان وژغوري. ارزښتونه او ګډې ګټې، د افغان ولس د ګټو دفاع او په ورته وخت کې د نړیوالې ټولنې لپاره د ښه او سالم شریک په توګه او د اسلامی امارت پر وړاندې د افغان ملت د ټولو طبقو د افکارو د انعکاس لپاره یوه مرجع وګرځي. نن ورځ زموږ اساسي دنده دا ده چې د ملي شخصیتونو، بنسټونو، ایتلافونو، ګوندونو او اتحادونو یوه پراخه جبهه جوړه کړو، تر یوې چترۍ لاندې خپل فعالیتونه په ملي او نړیواله کچه همغږي کړو، که نه نو دا نوښت، څنګه چې دتوماس وست او عبدالله او نور پخوانی مفسدینو د تماسونو نه معلومیږی، پخوانی معامله ګر په لاس ونیسی او د څو حکومتی څوکیو او امتیازاتو په بدل لکه پخوا په شان د هیواد له برخلیک سره بیا هم سوداګري وکړي.

طالبان باید ومنی چې د ملایانو اوسنی بی قانونه انحصاری امارت اسلامی د افغانستان خلک او جامعهٔ جهانی ته د منلو وړ نده. د افغانستان ښځې چې د هیواد نیمایی نفوس دی په جامعه کی د شمولیت حق لری. طالبان باید ومنی چې د شرعي احکامو د ناقص، غیر منطقي، عامیانه او غیر عقلانی تعبیرونو له مخې حکومتکول د ټولنیز او د خلکو د اوسنی عصر ضرورتونه نه ترسره کیږی. هیواد اساسی قانون او نورو مدنی قوانینو ته ضرورت لری چې د خلکو د نمایندګانو لخوا تصویب شوی وی. افغانستان څو قومي او څو ژبه ییز هیواد دی چی ملی هویت جوړوی. دا هویت باید په اساسی قانون کې د اتباعو مدني، ټولنیز، سیاسي حقوق او مکلفیتونه په تعریف کی انعکاس ومومی.

د هیواد د ستونزې د ماهیت او په تېره بیا د سیمې هیوادونو او زبرځواکونو د استخباراتي کړیو د ښکېلتیا په پام کې نیولو سره، د افغانستان د کړکېچ د هواري لپاره د افغان سیاسي ډلو ترمنځ هر ډول ایتلاف باید له نړیوالې همکارۍ برخمن وي. له اوسنیو ناخوالو څخه د افغانستان ژغورل نه یوازې د افغان ملت او روڼ اندو دنده ده، بلکې د نړیوالې ټولنې مسوولیت هم دی.

په عین وخت کی دا په طالبانو پورې اړه لري چې په افغانستان کې د ملی یووالی تامین، د خلکو مدنی او سیاسی حقوقو ضمانت، د افغانستان پ پرمختګ کی د نارینه او ښځو د برخه نیولو امکانات برابرول، د بهرنیو لاسوهنو لپاره د زمینو د رامنځته کیدو مخه ونیسي، د استخباراتي نیابتي جګړو د رامنځ ته کیدو او دوام مخه ونیسي او د بیلتون غوښتونکو د زمینې د رامنځ ته کیدو د مخنیوي لپاره **له نورو سیاسي او مدني ډلو سره د تفاهم یوه ملي پروسه چې مونږ یی دلته «ملی دیالوګ» پروسه (National Discourse) یادوو ترسره کړي.**

### د ملی دیالوګ موخی؟

- په حکومت کې د ټولنې د مختلفو طبقو د دیموکراتیک ګډون تضمین کول؛

- د هیواد د ملي یووالي او ځمکنۍ بشپړتیا ساتل؛
- د اساسي قانون او مدني قوانینو حاکمیت ته راستنیدل؛
- د اوسني بدمرغه حالت څخه د وطن ژغورل او د خرابیدو د خطر مخنیوی؛
- د خلکو د مدني حقونو تامین او ضمانت؛
- د هیواد ښځو او نارینه وو ته بیا د زده کړې، مطالعې او کار زمینې برابرول؛
- د جنسیتي توپیر پای ته رسول؛
- نړیوالې ټولنې ته د افغانستان راستنېدل؛ او
- له قومي او ژبني تفرقې سره چې د دولتي نظام کمزوری مقابله کول او د بېلتون غوښتونکو دسیسو پر وړاندې مبارزه کول.

## ملي دیالوګ څنګه پر مخ بوزو؟

د جګړې لاره زموږ لاره نه ده یوازې په بین الافغاني مذاکراتو او سیاسي مذاکراتو سره بحران ته د پای ټکی کېښودل کېدای شي او د هر اړخیزې حکومتولۍ په رامنځته کولو کې د هر چا ونډه به موږ عدالت ته نږدې کړي.

**ملي دیالوګ** دوه لارې لري:

1. لومړی لاره د افغانستان سیاسی فعالینو، خلک او د نړیوالې ټولنې پام د امریکا او طالبانو ترمنځ د فبرورۍ 2020 د دوحې تړون د پروسې تکمیلول دی. که څه هم د دوحې تړون په حقیقت کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حکومت د کمزورتیا او د طالبانو د بریا لامل شو، خو دغه تړونونه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا تصویب شول او لا هم له طالبانو سره د نړیوالې ټولنې د اړیکو قانوني چوکاټ جوړوی. په داسې حال کې چې امریکا او متحدینو یې د دوحې د ژمنو له مخې له افغانستانه خپل ځواکونه ایستلي، خو طالبانو تر اوسه له ترهګرۍ سره د مبارزې او د بین الافغاني خبرو له لارې د افغانستان لپاره د سیاسي حل لارې موندلو په برخه کې خپلې ژمنې نه دي عملي کړې.د طالبانو او د افغانانو د ربښتیني استازو ترمنځ د خبرو اترو له لارې سیاسي جوړجاړې ته لاره هواروي. دا پروسه نیمګړې پاتې ده او باید دا پروسه بیا راژوندۍ شي.

د دوحې د موافقې له مخې، طالبان ژمن دي چې "د افغانستان د راتلونکي سیاسي لارې نقشې په اړه د توافق لپاره" له افغان خواوو سره بین الافغاني مذاکرات وکړي. د دغو ژمنو د عملي کولو اړتیا، په ځانګړې توګه د افغانستان د راتلونکي سیاسي نقشې په اړه له افغان ګوندونو سره د توافق اړتیا لا هم پاتې ده. د دې توافقاتو پر وړاندې د خپلو ژمنو په عملي کولو کې د طالبانو پر مراعات ټینګار باید له طالبانو سره د نړیوالې ټولنې او افغان سیاسي فعالانو د اړیکو لپاره قانوني چوکاټ جوړ کړي.

دا په طالبانو او نړیواله ټولنه پورې اړه لري چې دغو ژمنو او قانوني اسنادو ته راوګرځي او په افغانستان کې د کړکیچ او تراژیدۍ د ژوربدو مخه ونیسي او افغانستان د نړۍ لپاره د تروریزم او خطر په ځاله بدل نه شي.

په اوسنیو حالاتو کې هغه سیاسي فعالان چې د خلکو په ربښتیني استازیتوب کولای شي، نه د تېر حکومت فاسد جهادي مشران او واکمنان، باید په دغو خبرو اترو «**ملي دیالوګ**» کې برخه واخلي.

**د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب د «افغان لوري» او طالبانو ترمنځ د خبرو موخه د ۲۰۲۰ کال د دوحې تړون سره سم د افغانستان د راتلونکي لپاره یوې سیاسي لارې نقشې ته رسېدل دي. د دې پلان وروستۍ موخه به په افغانستان کې د سیاسي ثبات او دایمي سوله او د قانون حاکمیت وي.**

د بین الافغاني مذاکراتو په پایله کې باید د دوو کلونو لپاره د یوه موقت حکومت د جوړیدو په اړه یوه توافق ته ورسیږي چې مشخص کارونه یې د طالبانو د وړ غړو په ګډون د ټولو ښکیلو خواوو له خوا شریک شي . د دغه حکومت جوړېدل په افغانستان کې د تېر حکومت له استعفا سره یوځای کېدلی شي. د موقت حکومت دنده دا ده چې د یوه کمیسیون له خوا چې د دولت جوړونې له کارپوهانو، تاریخ پوهانو او وکیلانو څخه جوړه وي، د اساسي قانون مسوده

جوړه کړي. همدارنګه د موقت حکومت دنده به د الکترونیکي تذکرو په بشپړه توګه وېشل ، ملي ټاکنې تر سره کول او د نوي اساسي قانون د تصویب لپاره د اساسي قانون د لویې جرګې د استازو د ټاکلو په موخه ترسره کېږي.

په ورته وخت کې ګوندونه ، بېلابېل سازمانونه او مدني ټولنې به د افغانستان د اساسي قانون په اړه خپل وړاندیزونه د اساسي قانون د بیاکتنې کمېسیون ته وړاندې کړي او د اساسي قانون د لویې جرګې د جوړېدو په موخه به په ملي ټاکنو کې برخه واخلي.

پورتنی پلان د تحقق لپاره که د طالبانو تحریک همکاري ته زړه نه ښه کوي ، نړیواله ټولنه او افغان ملت باید لاسونه سره یو کړي او لازمه همغږي او ګډې هلې ځلې وکړي چې افغان ملت د خپل برخلیک واکمن شي. د افغانستان ملت نه غواړي چې افغانستان د انسانیت د دښمنانو په لاس د وحشت او دهشت په ځاله بدل شي. په دې هدف کې نړۍ مکلفه ده چې د خپل امنیت لپاره مرسته وکړي.

د «**ملی دیالوګ**» جوړول دوهمه لار داده چې طالبانو **د ملګرو ملتونو په** نظارت د یوی لویې جرګې د جوړیدو پروګرام طرح او عملی کی چې د هیواد د پاره یو نوی اساسی قانون تصویب کړی. یعنی د موقت حکومت نه پرته د یوه کمیسیون له خوا چې د دولت جوړونې له کارپوهانو، سیاسی خیری، تاریخ پوهانو او حقوق پوهانو څخه جوړه وي، د اساسي قانون مسوده جوړه کړي. همدارنګه د الکترونیکي تذکرو په بشپړه توګه وېشل تکمیل شی، ملي ټاکنې د اساسي قانون د لویې جرګې د استازو د ټاکلو په موخه ترسره کړي.

د لویې جرګې غړي د هرې ولسوالۍ او هرې ښاري سیمې د خلکو په مستقیمو رایو ټاکل کېږي او د بهرمیشتو افغانانو استازی پکی ګډون کوی.

**په اساسی قانون کی د نوی نظام ارزښتونه او اساسات**

- په افغانستان کی د شرعي احکامو پیروي د ژوند د طریقې او رواجونو په توګه د خلکو د دنیا او آخرت له مکلفیتونو څخه ده؛
- د افغانستان دولت د اساسی قانون، او نورو مدنی قوانینو پر اساس اداره کیږی؛
- هیڅ قانون د اسلام د دین په مغایرت نه نافذیږی؛
- په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري چې د انتخاباتو له لارې د ولسمشر، د ملی شورا او د ناحیی، ولسوالۍ او ولایتی شوراګانو او د لویی جرګی داستازی د ټاکړو په پروسو عملی بڼه اخلی؛
- د نظام بڼه او ماهیت، د ریاستی متمرکز او یا د صدارتی غیر متمرکز سیستومونه، او یا د دواړو ترکیب، د اساسي قانون لخوا ټاکل کیږي؛
- د افغانستان ملت له ټولو هغو کسانو څخه دی چې د افغانستان تابعیت لري. د افغانستان ملت له پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوڅ، پشه یي، نورستاني، اماق، عرب، قرغزي، قزلباش، ګوجر، براهوي او نورو قومونو څخه جوړ. دی.د افغان کلمه د افغان ملت پر هر غړي اطلاق کېږي.
- د ولسوالیو، ښاري سیمو او ولایتونو په کچه خلک حق لري چې محلي شوراګانې وټاکي او د دې واحدونو د دولتي اداري مشري وکړي، ترڅو خلکو ته د لا ښه خدمتونو د وړاندې ضمانت وشی. په عین وخت کی کولو لپاره د لازمو تشکیلاتو په موجودیت کې د مرکزي حکومت لخوا ملي یووالي او ځمکنی بشپړتیا. ضمانت ډاډ ترلاسه شي..
- د افغانستان په نوی اساسي قانون کی د دولت د اجراییه، مقننه او قضاییه ثلاثه مستقل قواو نه جوړیږی؛
- ملي شورا د اساسي قانون له حکمونو سره سم ولسمشر، د حکومت غړي او د حکومت پالیسۍ تصویب کوي؛
- د مرکزي حکومت او محلي حکومتونو اداري ارګانونه مسلکي، غیر سیاسي غیر حزبی او بې طرفه دي او د ملکی خدمتونو د قانون له مخې دولت او خلکو ته خدمت کوي.
- په قانون کې د اتباعو مدني، ټولنیز، سیاسي او حقوق او مکلفیتونه پرته کوم لري تبعیض تسجیل کېږي

# موسم (فصل)

ژباړه : محمدالله آرين

يو بوډا ځلور زامن لرل،غوښتل يې زامنو ته د ژوند خواږه او ترخه ور وښيي، د ځلورو زامنو پلار په وقفه اي بڼه ځلور زامن له کوره لرې د گلاب يو بوټي پسې وليږل:

اول زوی يې په ژمي کې وليږه چې وګوري د ګلاب بوټی څنګه دی،دوهم يې په پسرلي کې وليږه،دريم يې په دوبي کې او ځلورم هم په مني کې. کله چې د ځلورو واړو نوبت ختم شو بوډا خپل زامن را غوښتل چې ووايي د ګلاب بوټی يا ونه څنګه وه؟

مشر زوی يې وويل: چندان بوټی نه وو،له اغزيو ډکه وه،ښاخونو يې ډيره سيمه نيولې وه او د سختو سړو له امله فکر نکوم که پسرلي ته را شنه هم شي.

دوهم وويل:نه دروغ وايي...د ګلاب بوټی تک شين وو زرګونو غوټۍ يې کړې وې چې د هوا په ګرميدو به را وغوړيږي.

دريم وويل: نه داسې نه وه،د ګلاب بوټي زرګونو ښکلي ګلان نيولي وو ټوله سيمه پرې ښکلې ښکاريده او بوی يې تر لرې محسوس کيده، که رښتيا ووايم ما کله هم دومره ښکلې منظره نه وه ليدلې.

ځلورم زوی وويل:دغسې هم نه وه بوټی د ډيرو کلونو وو زرګونو ګلان يې کړي وو او فکر کوم بل کال ته به تر دې هم ډير ګلان ونيسي.......

بوډا وخندل او ويې ويل: تاسو ټول رښتيا وايی د يوه خبره هم غلطه نه ده، خو له تاسو څخه هر يوه ددې ونې يا ستر بوټي د ژوند يوازې يو فصل ليدلی دی،تاسو نشئ کولای د يوې ونې يا انسان په اړه په يو فصل يا موسم کې قضاوت وکړئ.

که د ژوند ژمي ته تسليم شوی د پسرلي د غوړيدا، دوبي د ښکلا او مني د حاصلاتو اميد به له لاسه ورکړی.....

**يادونه:**

اجازه مه ورکوئ د يو موسم يا وخت دردونه، ستونزې، مايوسی او حقارتونه مو د نور عمر يا فصل ښکلاوې پيکه کړي.

ژوند ته د سختيو له هينداري مه ګورئ.

د ژوند ټول سخت موسمونه تيريدونکي دي.

سختې وزغمه ښې شيبې حتمن راتلونکې دي.



# عقد معاهدۀ مخفی بین احمد مسعود و تاجیکستان




**جان پدر! وطن بفروش**



نویسنده: داکتر میرعبدالرحیم عزیز ـ امریکا

احمد مسعود پسر احمد شاه مسعود واقعاً خلف الصدق است. به پیروی از ارشادات و رهنمائی پدر "بزرگش"، احمد مسعود راه خیانت به میهن را در پیش گرفته است که آرزوی دیرینۀ پدرش نیر همین بود. احمد مسعود معاهده ای با تاجیکستان به امضاء رسانیده که متن آن را در پائین ملاحظه می نمائید. تاجیکستان هنوز هم یکی از مستعمرات آسیای مرکزی روسیه محسوب میشود. روسیه بیش از 30 هزار عسکر در تاجیکستان دارد که منافع روسیه را د رمنطقه تضمین می کند و همچنان نمی گذارد که دولت مستبد تاجیکستان توسط اسلام گرایان و سائر مخالفان سرنگون گردد. معاهدۀ احمد مسعود با تاجیکستان شبیه معاهدۀ مخفی پدرش احمد شاه مسعود با شوروی بود که مخفیانه به امضاء رسید، اما چندی بعد خبرنگاران خارجی از اصل معاهدۀ مخفی بین احمد شاه مسعود و شوروی پرده برداشتند و هویت ضد ملی مسعود را افشاء نمودند.

حوادث تاریخی گاه گاهی تکرار میشود. این بار نوبت مسعود پسر است که طرح پدر در خیانت به افغانستان را بار دیگر به مرحلهٔ اجرا بگذارد. حس میهن فروشی و خیانت به افغانستان در خون و رگ مسعود ها جا دارد و تا زمانیکه مسعود ها در این جهان زیست دارند، از خیانت به افغانستان منصرف نخواهند شد.

آیا خیانت یک فرد و یا یک گروه به میهن شان سبب میشود که شخص و یا گروه دیگر هم به چنین عمل ضد ملی دست زند و خاک وطن را به اجانب پیشکش نماید؟ آیا خیانت به کشور میتواند قابل توجیه باشد که موافقان خاین به میهن به آن افتخار نمایند؟ یک عده به این باور اند که حوادث اخیر کشور و تسلط طالبان بر افغانستان مبنای انگیزهٔ احمد مسعود در امضای معاهدهٔ مخفی با تاجیکستان است. یعنی تو که خیانت کردی، من هم خیانت می کنم. لاکن همه میدانند که خاک فروشی و تجزیه طلبی در مسعود ها از دهٔ هفتاد میلادی آغاز شد و تا اکنون هم ادامه یافته است. کدام سازمان استخباراتی خارجی را سراغ دارید که اسمای مسعود ها در آن نباشد.

هم میهنان محترم عکس معاهده را بدون تغییر در پایان این مضمون مشاهده خواهند کرد. اما برای سهولت خواننده، معاهده را دوباره تایپ نموده و با بعضی اصلاحات جزئی املائی نه انشائی، آن را به دید خوانندگان قرار میدهم.

## متن موافقتنامه میان جمهوری تاجیکستان و جبهه مقاومت ملی افغانستان

مقدمه

جمهوری تاجیکستان که در متن این موافقتنامه تاجیکستان و جبهه مقاومت ملی افغانستان که درمتن این موافقتنامه جبهه و به طور جمع طرفین یاد میگردند ـــــــ بادرک روابط قلبی میان مردمان مان که ریشه های زبانی، فرهنگی، تاریخی، و سرانجام تباری داشته ؛ و با در نظرداشت اهمیت موضوعات مربوط به فعالیت های جبهه، حسب ذیل موافقت نمودند:

تعهد و مکلفیت های تاجیکستان

تاجیکستان با درک هدفمند از فعالیت های بیرونی سران جبهه و به هدف تقویت و حمایت و ارتقای سطع ظرفیت نیروهای این جبهه به انجام فعالیت های حمایوی ذیل می پردازد:

پشتیبانی سیاسی و دیپلوماتیک در مجامع و سازمان های بین المللی ـــــ اعتلای جایگاه جبهه. صدور پاسپورت های دیپلوماتیک به سران جبهه و پشتیبانی سیاسی از فعالیت های این جبهه در مجامع و نشست های بین المللی (جزئیات محتویات این بند محرم بوده و مندرج ضمیمه الف می باشد).

حمایت، تقویت، و ارتقای سطح ظرفیت محاربه جبهه. (۱) فراهم آوری مشاورت. آموزش، و تجیهزات نظامی، (۲) ارتقای سیستم تدارکاتی و حمل و نقلی، (۳) گسترش ظرفیت ها تشریک اطلاعات؛ (۴) و دسترسی به تأسیسات نظامی (جزئیات محتویات این بند محرم بوده و مندرج ضمیمه الف می باشد).

**تعهدات ومکلفیت های جبهه**

با درک توافق و اعتماد بلند مدت متقابل و روابط چند وجهی، جبهه موارد ذیل را تحقق خواهم بخشید:

**تکلیف مالی.** تأمین وجوه پولی به شکل سالانه از بنیه و حدود مالی بنیاد شهید احمد شاه مسعود، قهرمان ملی کشور برای حمایت از تعهدات نظامی تاجیکستان (حزئیات محتویات این بند محرم بوده و متدرج ضمیه ب می باشد).

**اعطای قرار داد استخراج معادن در ساحات تحت کنترول جبهه.** اعطا و حق دسترسی قرارد های استخراج معادن در ساحات تحت کنترول جبهه با همکاری و لزوم دید وزارت معادن و صنایع خفیفه تاجیکستان (جرئیات محتویات این بند محرم بوده و مندرج ضمیمه ب می باشد).

**تبلیغات علیه کشور های منطقه.** امتناع از هر نوع تبلیغات علیه کشور های متهم به دخالت در امور افغانستان و یا هم متهم به پشتیبانی از طالبان (جزئیات محتویات این بند محرم بوده و مندرج ضمیمه ب می باشد).

**مکانیزم های اجرایی و ضمانتی از سوی طرفین**

ذوات آتی به عنوان مجرا های اصلی مکلف اند تا طرق و مکانیزم مشترک را برای ارزیابی و بررسی به موقع و تحقق اهداف و ابعاد این موافقتنامه ( به دور از تنشها، ابهامات، و سوء تفاهمها) ایجاد نمایند: دگر جنرال امامعلی صابر زاده رئیس ستاد کل نیرو های مسلح تاجیکستان، احمد ولی مسعود رئیس بنیاد شهید احمد شاه مسعود قهرمان ملی افغانستان، دگر جنرال ظاهر اغبر سفیر اسبق افغانستان در تاجیکستان و دگر جنرال قدم شاه شهیم رئیس اسبق و سفیر اسبق افغانستان در کازاخستان (جزئیات محتویات این بند محرم بوده و مندرج ضمیمه ج می باشد).

**مکانیزم عقود و ضمانتی**

این موافقتنامه در شهر دوشنبه به تاریخ ۲۷ عقرب سال روان مطابق ۱۸ نوامبر ۲۰۲۲ در سه نسخه اصلی به زبانهای فارسی تاجیکی و انگلیسی به امضاء رسیده که هر سه نسخه آن از عین اعتبار حقوقی

برخوردار می باشد. در صورت بروز اختلاف، متن انگلیسی ارجحیت دارد.

یاداشت: کمپوندیم ضمائم ( الف، ب، ج) محرم بوده و در ریاست آرشیف و اسناد محرم وزارت امور خارجه جمهوری تاجیکستان نگهداری می شود.

**مظفر حسین زاده**

معاون سیاسی وزارت امور خارجه جمهوری تاجیکستان

**احمد مسعود**

امیر جبهه مقاومت ملی

## متن موافقتنامه میان جمهوری تاجیکستان وجبهه مقاومت ملی افغانستان

**مقدمه**

**جمهوری تاجیکستان که در متن این موافقتنامه تاجیکستان و جبهه مقاومت ملی افغانستان که درمتن این موافقتنامه جبهه و به طور جمع طرفین یاد میگردند— بادرک روابط قلبی میان مردمان مان که ریشه های زبانی، فرهنگی ، تاریخی، و سرانجام تباری داشته ؛ وبا در نظرداشت اهمیت موضوعات مربوط به فعالیت های جبهه، حسب ذیل موافقت نمودند:**

**تعهد و مکلفیت های تاجیکستان**

تاجیکستان با درک هدفمند از فعالیت های بیرونی سران جبهه و به هدف تقویت و حمایت و ارتقای سطح ظرفیت نیروهای این جبهه به انجام فعالیت های حمایوی ذیل می پردازد.

**پشتبانی سیاسی و دیپلوماتیک در مجامع و سازمان های بین المللی—اعتلای جایگاه جبهه.** صدور پاسپورت های دیپلوماتیک به سران جبهه وپشتبانی سیاسی از فعالیت های این جبهه در مجامع و نشست های بین المللی( جزئیات محتویات این بند محرم بوده و مندرج ضمیمه الف می باشد).

**حمایت، تقویت، و ارتقای سطح ظرفیت محاربه جبهه.** (۱) فراهم آوری مشاورت، آموزش، و تجیهزات نظامی، (۲) ارتقای سیستم تدارکاتی و حمل و نقلی، (۳) گسترش ظرفیت ها تشریک اطلاعات؛ (۴) و دسترسی به تأسیسات نظامی (جزئیات محتویات این بند محرم بوده و مندرج ضمیه الف می باشد).

**تعهدات ومکلفیت های جبهه**

با درک توافق و اعتماد بلند مدت متقابل و روابط چند وجهی، جبهه موارد ذیل را تحقق خواهم بخشید:

**تکلیف مالی.** تأمین وجوه پولی به شکل سالانه از بنیه و حدود مالی بنیاد شهید احمد شاه مسعود، قهرمان ملی کشور برای حمایت از تعهدات نظامی تاجیکستان (جزئیات محتویات این بند محرم بوده و مندرج ضمیه ب می باشد).

**اعطای قرارداد استخراج معادن در ساحات تحت کنترول جبهه.** اعطا و حق دسترسی قرارد های استخراج معادن در ساحات تحط کنترول جبهه با همکاری و لزوم دید وزارت معادن و صنایع خفیفه تاجیکستان ( جزئیات محتویات این بند محرم بوده و مندرج ضمیمه ب می باشد).

**تبلیغات علیه کشور های منطقه.** امتناع از هرنوع تبلیغات علیه کشور های متهم به دخالت در امور افغانستان وباهم متهم به پشتبانی از طالبان (جزئیات محتویات این بند محرم بوده و مندرج ضمیه ب می باشد).

**مکانیزم های اجرایی و ضمانتی از سوی طرفین**

ذوات آتی به عنوان مجرا های اصلی مکلف اند تا طرق و مکانیزم مشترک را برای ارزیابی و بررسی به موقع و تحقق اهداف و ابعاد این موافقتنامه ( به دور از تنشها، ابهامات، و سوء تفاهمها) ایجاد نمایند: دگروال امامعلی صابر زاده رئیس ستاد کل نیرو های مسلح تاجیکستان،احمد ولی مسعود رئیس بنیاد شهید احمد شاه مسعود قهرمان ملی افغانستان ،دگر جنرال ظاهر اغبر سفیر اسبق افغانستان در تاجیکستان؛ و دگر جنرال قدم شاه شهیم رئیس اسبق و سفیر اسبق افغانستان در کازاخستان (جزئیات محتویات این بند محرم بوده و مندرج ضمیمه ج می باشد).

**مکانیزم عقود و ضمانتی**

این موافقتنامه در شهر دوشنبه به تاریخ ۲۷ عقرب سال روان مطابق ۱۸ نوامبر ۲۰۲۲ در سه نسخه اصلی به زبانهای فارسی، تاجیکی، و انگلیسی به امضاء رسیده که هر سه نسخه آن از عین اعتبار حقوقی برخوردار می باشد. در صورت بروز اختلاف، متن انگلیسی ارجحیت دارد.

یاداشت: کمپوندیم ضمائم( الف، ب، ج) محرم بوده و در ریاست آرشیف و اسناد محرم وزارت امور خارجه جمهوری تاجیکستان نگهداری می شود.

**مظفر حسین زاده**

**معاون سیاسی وزارت امور خارجه جمهوری تاجیکستان**

**احمد مسعود**

**امیر جبهه مقاومت ملی**

# افغانستان او سیاسي سیکولر نظام

لیکوال: محمد محق - ژباړنه: هیله تبسم

دا څه موده په سیاسي جلسو کې د افغانستان په راتلونکې حکومت خبرې کېږي.

ځینې د نظر خاوندان په دې هېواد کې په سیاسي سکولرزم نظام تاکید او ټینګار کوي، داسې موضوع چې باید ډېر پخوا پرې بحث شوی وای.

د طالبانو او مجاهدینو د حاکمیت څخه په تجربې همدارنګه د سوډان او ایران حکومتونه چې په کافي اندازه مواد یې د همدې تجربې د تحلیل او خبرو اترو لپاره زموږ په اختیار او واک کې راکړي ول.

بنسټ اېښودونکو ډلو لکه: اخوان المسلمین، حزب تحریر، ال.قاعده، د.اعش د ایران او طالبانو حکومتونو سکولرزم د دیني مخالفت، الحاد او په بېلابېلو نورو نومونو معرفي کړی، او خلک یې وېرولي چې ګواکې له همدې لارې یې مقدسات او ارزښتونه د پایمال کېدو له ګواښ سره مخ دي.



په افغانستان کې د افراطي ډلو وژنې ترور او چاودنې د دې لامل کېدلې چې څوک د تبلیغاتو زړه ونکړي، او له همدې لارې و چې دا دروغ په مسلط باور بدلېدل او زموږ په وینا: بنسټ ایښودونکو کولی شوای چې خپل ځانونه د انتحاریو او وژنو په وسیله په ټولنه تحمیل کړي.

سکولرزم د دیني مخالفت په معنا نه ده او په سیاسي مانا د دوو نمونو/مثالونو د تفکیک او د هر یوه د صلاحیتونو د تعیین په معنا ده. یوه نمونه د ملایانو او هغو ډلو چې ځانونه د دین نمایندهګان ګڼي، بله نمونه د "دولت" ده چې هېڅوک یې د مطلق انحصار حق نه لري.

سکولرزم په ساده معنا دا دی چې هېڅوک نشي کولی دا ادعا وکړي چې" نایب الله یا خلیفه رسول الله" دی، او د ځان لپاره په عمومي عرصه کې لوړ امتیاز او حق ترلاسه کړي.

عمومي عرصه یانې چې په ټولو پورې اړه او تعلق ولري او دولت یې یوه برخه ده.

دا عرصه د ټولنیز ترون په وسیله د مدیریت وړ ده او د هغې ځانته کول یا ملکیت د یو فرد په لاس، یوې ډلې، یوه مذهب یا یوې طبقې په وسیله د خونړیو منازعاتو سبب ګرځي.

سیکولریزم په دې معنا دی چې عمومي عرصه بغیر له کوم تبعیضه د ټولو اوسېدونکو په واک او اختیار کې واوسي او د قانون په وسیله اداره شي، خو په ځانګړې عرصه کې هر څوک د خپلو عقایدو مطابق چلند وکړي.

قانون هم د ټول ګډونه مشارکت په وسیله د مقننه قوې په جوړښت کې بغیر له کوم تبعیض د اجتماع ترمنځ جوړېږي او هېڅوک له خپلو عقایدو څخه په دې ټول ګډونه مشارکت کې نه محرومېږي. په همدې اساس هغه اشخاص چې د هر دین لرونکې دي، کولی شي معبدونه، دیني مراکز، مدرسې، زده‌کړن ځایونه او رسنیز فعالیتونه ولري، همدارنګه ډېرې نور ښاریان به هم دا حقوق لري.

د همدې لیدلورې په وسیله د ښاریانو فعالیتونه د عمومي عرصې په وسیله د قانون په چوکاټ کې صورت نیسي، او هېڅوک بغیر له حکومته د "قهریه" قوې حق نه لري.

سکولر حکومت یانې هغه حکومت چې په دیني مسایلو کې بې طرفه دی، نه کوم دین تحمیلوي او نه هم کوم دین منعه کوي، او قانون په ټولو ښاریانو، که هغه په هر عقیده وي، په یو ډول تطبیقوي.

له تاریخي پلوه د سکولرزم پیدایښت له دی امله و تر څو هغه موارد لکه: فریبکاري، جبر، قدرت‌طلبي، ستم‌ګري چې د مذهب په نامه ترسره کېدل او د هغو اشخاصو لاسونه لنډ کړي چې له دین څخه یې د قدرت په ترلاسه کولو او ثروت زیاتولو کې ګټه اخیسته. هماغه ډول چې د اروپا په منځنیو پېړیو کې دا تجربه ترلاسه شوه چې د سیاسي حاکمانو واکمني او د کلیسا اتحاد د اروپا په تاریخ کې یوه توره او خونړۍ دوره رامنځته کړه.

په اسلامي نړۍ کې هم وروسته له زر کلونو د اموي خلفاوو، عباسي، عثماني او ځینو نورو ډلو لخوا چې د مذهب په وسیله یې سیاست ته مخه کړه، په مختلفو بڼو تکرار شوه.

سیاسي سکولرزم د دین په ګټه او د دین پلورونکو په زیان دی.

# آیا نړۍ موږ ته دریږي

## قدرت الله هېوادپال

که په فردي توګه ورته وګورئ نو هم ستاسې ملګري، همکاران، ورونه ټول روان دي خپل ژوند کوي، څوک به هوسا او څوک به په عذاب وي، خو خپل مزل لنډوي، همداسې په ملي او د هیواد په کچه نړۍ هم پر خپل مزل روانه ده، ټول د خپلو هیوادونو د پرمختګونو بحث کړي. نړۍ له یوه بدلونه تیریږي، او ضرور نه ده چې دا بدلون دې زموږ په ګټه وي.

د مریخ د تسخیر بحثونه روان دي، او ښايي تر ۲۰۳۰ پورې هلته د بشر لیږلو هڅه وشي، د څوان او غښتلي پاتې کیدو لپاره نانوټیک او روبوټس جوړیږي، کور په کور ماشینونو سپارلو لپاره کار کیږي چې د کور په چارو کې مرسته وکړي، هند کې د ښوونځي نجونې چې تر ټولو مشره یې ۱۵ کلنه وه کوچنۍ سپوږمکۍ جوړوي خپلو ساینسپوهانو ته یې ورکوي چې فضا ته یې لیږي تر څو د هوا حالات د هیواد له دهقانانو سره شریک کړي.



نړۍ د کاري څواک له ستونزې سره مخ ده، همدا ګاونډ پاکستاني څوانان په نړۍ کې آنلاین کار لپاره پیژندل کیږي، د نړۍ دریو مخکښو هیوادونو (هند، بنګله دیش) سره یوځای یادیږي، ایران له ۱۹۷۹ څخه د نړۍ له بندیزونو سره بیا هم په طبابت، فرهنګي چارو، د کمپیوټري پروګرامونو جوړولو او نورو کې په سیمه کې ممتاز دی، له بندیزونو سره روس ته بې پیلوټه الوتکې ورکوي، عربي هیوادونو له دومره پیسو سره یې بیا هم ورسره سیالي نه شی کولای.

جنګ، ښکنځلې، د هر چا له څانه شړل، ټولو ته بد ویل، پدې تمه کیناستل چې حالات ښه شو بیا به زه له څانه حرکت ښیم، له نورو زما د ژوند بدلولو تمه، او داسې نورې چارې د پوهې کموالي او څان تیر ویستو نښې دي، زموږ ټول بحث له پخوا راتاوو وي، له امان الله خانه نیولې تر ننیو چارواکو ټولو پسې بد رد وایو، د بل د اصلاح هڅه کړو، خو خپل ګریوان کې نه ګورو.

یوازې که پاکستان زموږ په کورنیو چارو کې لاس ونه وهي، که امریکا زموږ پیسې راپریږدي، ایران مو کډوال آزار نه کړي، هند راته ویزې راکړي، روس راته غنم او سلاوې راکړي، او داسې نور، نو بیا به دا وطن جنت شي، او زه به بیا د ماهیپر پر څوکو ناست د احمدشاه بابا د دهلي د فتحې او شاه رخ مرزا د کلتوري لاسته راوړنو زمزمې وایم.

د ناکامیو منل او خیرات ته کیناستل له ذهنه شروع کیږي، نړۍ دې زموږ په چارو کې ګوتې نه وهي، خو خیرات دې رابانديې نه بندوي، موږ به پر ټولنیزو شبکو خلکو ته ښکنځل کوو، د نظر اختلاف به نه منو خو دا ټولنیزې شبکې باید زموږ پاڼې او حسابونه بند نه کړي.

جاپان له دویمې نړیوالې جګړې وروسته له امریکایانو زده کړل، خو امریکایانو دوی ته څه نه ښودل، ولس به حکومت زده کړې لپاره امریکا ته لیږه، خو چا به په ټولګیو، د درس او کارڅای کې په ګټوره توګه نه پرېښودل، داسې ډیرې بیلګې وی چې دوی به د میزونو، څمکو پاکولو او نورو په بهانه تلل، د دوی نوټونه به یې لوستل، خبرې به یې اوریدلی او دا پوهه به یې خپلو خلکو ته رسوله.

دا د وردګو او نورې منې چې یادیږي، د ډاکټر صاحب وکیل تاریخچه ولولئ، چې څرنګه له هر سفر سره به یې په بکس کې د بوټو نمونې له څان سره راوړلې، د باغدارۍ او کرهڼې ودې لپاره یې څه ونه کړل، او د ده دا مزل آسانه نه وو، داسې بیلګې هم وې چې دا نمونې یې په پټه هیواد ته راوړې وي.

د هټلر او نازیانو په زمانه کې، د ستورمزلو او براعظمونو تر منځ کاریدونکو راکټونو مخکښه ساینسپوهانو سره لدې چې له حکومت سره وران وو خو بیا یې هم د راکټونو جوړولو لپاره له حکومت سره مرسته وکړه، کله چې د نازیانو حکومت سقوط وکړ، دا ساینسپوهان امریکا او روس له څان سره بوتلل، نن دواړه

هیوادونه د لیږي واټن ویشتلو په ټکنالوژیو کې له مخکښو هیوادونو څخه حسابیږي.

دلته عقیده سیاسي مفکورې مهمې نه دي، مهمه دا ده چې موږ داسې څه کولای شو چې د هیواد په ګټه وي، هیوادونه په خپله وده او پرمختګ کې له ډېر څه تیریږي، مهم د خلکو پر عقیدې برابرول نه دي، مهم له هر چا سره د خپلو هیوادونو ودې لپاره کار اخیستل دي.



چین په منځنیو پیړیو کې د نړۍ یو منل شوی اقتصاد وو، د وریښمو لار یې په وچه او لمده کې ساتله، هغه وخت کې چې اروپایي هیوادونه او غرب په مذهبي خرافاتو کې غرق وو، خپل منځي جنګونه وو، چین ته خلکو د پرمختللي او آبادې نړۍ په توګه کتل، هلته نظام په دوامداره توګه نورې نړۍ ته خپل خلک د کشفیاتو او ځان پوهولو لپاره لیږل، چې په دې کې د کښتیو مزلونه هم شامل وو، دا ټول د شاهي کورنۍ په ملاتړ روان وو، خو کله چې د هغې زماني شاه عزل شو، او ورپسې بل شاه راغی، نو هغې دا هر څه عبث وبلل او آن د هیواد کښتۍ یې وسوځولې او وګړو لپاره یې د کښتیو لرل جرم وګاڼه.

له چینایانو زده کړل شوو ټکنالوژیو او مهارتونو په مرسته نورې نړۍ نور کشفیات وکړل، او دوی ورځ په ورځ وروسته روان وو، چې د اپینو له جګړې نیولې تر قحطۍ هر څه یې وزغمل. د ملتونو په تاریخ کې لسګونه او سلګونه کلونه د مزل برخه وي، د نن ناوړه پریکړې راتلونکی نسل خوارووي، زموږ د نن زحمت د سبا هوساینې پالي، او د نن لټې مو سبا عذابوي.

د فرد په توګه د ځان رسول، او نظام په توګه د ځان او هیواد لپاره هدف ټاکل د پرمختګ بنیادونه دي، موږ په مهارتونو، اقتصادونو، زده کړو، آسانتیاوو او نور هر څه کې به له نورو سره سیالي کوو، ځکه که موږ د فرد له دندې نیولی د تجار له پانګونې پورې چارې راسپړو، نو مجبور یو هغه آسانتیاوې او ژبه وکاروو چې نړۍ پرې پوهیږي.

نړۍ موږ ته نه دریږي، او هر څومره ژر چې ځان دغې لار ته برابر کړو، همدومره ژر به مو چارې آسانې کړې وي.

## د دعوت مجلې په راتلونکې ګڼه کې د استاد ډاکتر م. عثمان تره کی مرکه مه هیروئ

**په پښتونخوا کې ناسیونالستي جذبات په ډېر شدت وده کوي. اوس مهال په افغانستان کې د بل هر وخت په پرتله پاکستان، ضد جذبات پیاوړې ښکاري**



**په لنډه توګه! د کنترول نه وتلی طالب کاروان «ترکستان» ته روان دی**

**ګومان نه کیږي دا افراطي ډله د افغانانو او ان نړۍ سره په اوسنۍ فکري جګړه کې بریالی شي**

**طالب مشرانو زموږ وړاندیزونو ته هرکلې وایه، خو د هغو د عملي کولو په اړه هیڅ ضمانت نه ورکول کېده**

**داسې څرګندیږي چې دعوت د ملي وحدت د ټینګښت رسالت ته ژمنه میډیا پاته شوی**

# د قوانینو په وړاندې د ښې اړخو اسلامکارو خنډونه

زبیر افغان

د نظام لپاره اسلام ځنیې اصولي لارښوونې کړې دي، یو نظام باید د هماغه اصولي هدایاتو په عملي کولو د فرعي مسلو، قضایاوو او موضوعاتو لپاره د وخت له غوښتنو سره سم قوانین جوړ کړي.

د فرعي قوانینو لپاره دې اساس هماغه د اسلام اصولي او کلي هدایات شي، د اسلام دغه اصولي لارښوونې دي د نورو قوانینو لپاره د اساسي قانون حیثیت ولري، بلکې د اساسي قانون په مادو کې دې ځای پر ځای شي، له دې ماسیوا قوانین به ټول پر هماغه معیار لیکل کېږي چې اساسي قانون یې ورته ړدي، په دې توګه به هم یو نظام اساسي اسلامي قانون ولري او هم به یې د وخت له غوښتنو سره سم د ټولنې ستونزو ته له قانوني پلوه رسېدګي کړې وي.

یو نظام په دې نه اسلامي کېږي چې یوازې د اسلامي نظام نوم پر ولاړ شي، اسلام د ټولنیز او فردي ژوند لپاره لارښوونې لري، که هغه لارښوونې یې عملي نه شي، هر څو چې یو فرد/ډله/ټولنه د اسلامیت نارې ووهي څوک یې نه ورسره مني او نه د الله په دربار کې د قبولیت مقام خپلولای شي.

اسلام د یوه دین په توګه له سیاسته، بیا تر سولې، اقتصاده، نړۍ والو اړیکو، فردي او ټولنیزه ژونده ځینې اصولي او کلي لارښوونې کړې دي، چې پېژندل او عمل په کول بیخي اسانه کار دی.

که داسې ووایم چې د قران کریم دغه لارښوونې د نورو موضوعاتو د حل لپاره د قوانینو ایجاد ډېر اسانه کړی دی، مثلن: قران کریم عدالت د ټولنې/فرد لپاره لازمي بولي، د پرېکړې په وخت کې یې خلکو ته د عدالت امر کړی دی، خو عدالت یې نه دی تعریف کړی، په دې توګه یې موږ ته یوازې یو اصل راکړ، ادا چې هره ټولنه ممکن د عدالت لپاره بېل تعریف ولري، نو به په فرعي قوانینو کې به یې هم توپیر حتمي ترسترګو کېږي، دا پروا نه لري، خو چې هغه ټولنه د عدالت پر همدې معیارونو سره متفقه وي، خلک پکې متضرر نه وي، قران د همدې امر کړی دی او ټول افراد یې په رعایتولو مکلف دي. نو هر قانون چې جوړېږي، عدالت به په نظر کې نیسي، دغه ډول نور هدایات هم.

په دې سره به هم اوس د بې قانونۍ خلا ډکه شي، هم به د خلکو ستونزو ته د قانون په چوکاټ کې د حل مرجع وموندل شي.

نور هغه وخت تېر دی چې ټولنه به په هر ډول مسایلو کې د یوه ملا او مفتي په فتوا چلېده، په نړۍ کې ددې لپاره نن قوانین موجود دي، د هغو قوانینو لپاره دې د قران کریم اساسي کلي ټکي معیار شي او نور دې په ازادانه توګه قوانین ولیکل شي، اسلام یې ممانعت نه دی کړی، بلکې د ټولنې اړتیا ته په کتو باید دا کار حتمي شي.

د عباداتو په برخه کې دې یوازې یوه مرجع وي چې ټول علماء یې منل شوي دیني عالمان، تقوا داره، د زمان، مکان او ټولنې له شرایطو باخبره کسان وټاکل شي چې هم د خلکو پوښتنو ته ځواب وویل شي او هم د اختلاف مخه ډب کړي.

ټولنه قانون ته ډېره اړتیا لري، له نړۍ سره اړیکې، سیاست، نظام، اقتصاد، ملي مسایل، د مشر ټاکنه، د واک موده، د چارواکو صلاحیتونه او ګڼ مسایل خو د ملا په فتوا نه حل کېږي، د دې لپاره خو د قوانینو اړتیا ده چې هر څه په مکمل ډول تشریح کړي، داسې خو نه کېږي چې له نړۍ سره د اړیکو لپاره یو ملا فتوا در کړي، نو که یوه ملا یوه فتوا در کړه او بل بیا بل ډول، بیا به څه کېږي؟

دا ډېره د شرم خبره ده چې په معاصره نړۍ کې د قانون پر ځای زموږ د هیواد چارواکي حکومتداري او سیاست د ملا په فتوا کوي، دا نه په اسلام کې اساس لري او نه د قانون له مخې جواز.

د عالم فتوا دې یوازې عبادت اړخ مسایلو پاتې شي چې هغه هم د دولت له دار الافتاء څخه حل و فصل شي، د هیواد ټولو علماء

دي په دې مكلف شي چې يوازې دې همدا فتوا بيان کړي، په دې سره به هم د خلکو پوښتنې ځواب شي او هم به د اختلافاتو مخه ونيول شي.

يو شمېر کسان فکر کوي چې مونږ ته را پاته علمي فقهي ميراث دومره بډايه دی چې د هر ډول مسايلو حل يې وړاندې کړی دی، د هر وخت او هر ځای لپاره بسنه کوي او هره ټولنه خپلو مسايلو ته په کتو له دې ميراث څخه ګټه اخيستلای شي او ستونزې يې په اوارېږي.

دا خبره تشه ادعا ده، نه يوازې دا چې حقيقت نه لري، بلکې غلطه هم ده، حتا که ووايم دغه ډول ادعا ناروا ده. ولې؟ ځکه يوه لور ته د انسان ګڼ محدوديتونه دي او بل لور ته په ژوند کې لا يتناهي مسايل دي، نو څنګه امکان لري چې مسايل دې پيدا شوي نه وي او يوه فقيه دې پخوا لا حل ورته موندلی وي؟ که داسې وي، نو د نويو مسلو لپاره دې د اجتهاد دروازه بنده کړي، قرضاوي، غزالي، وحيد الدين، ذاکر نايک، غامدي، سروش، محق او دې ته ورته د نړۍ په سلګونو علماء دې د نويو مسايلو د حل لپاره سرګردانه کېږي نه، بلکې دا هر څه په همدې ميراث کې حل و فصل پراته دي، زموږ د کلي ملا لا په خبر دی، نو ولې يې له قران او سنت څخه د بيا حل لپاره مجلسونه کېږي، غونډې دايرېږي، اجتهادونه کېږي او نوې فتواوې صادرېږي؟ هغه ادعا دغه عمل په خپله ردوي!!!

ناسمه ځکه ده چې ډېری مسايل اصلن ديني جنبه نه لري، نو څنګه به يوه فقيه له وړاندې چې مسايل لا پيدا شوي نه وي او نه هم له دين و شريعت سره سر و کار ولري، حل ورته پيدا کړی وي؟ که د اسلامي نړۍ په ډېرو پرمختللو هيوادونو کې موږ وګورو نو هغوی د دې وړ مسلو لپاره نور وضعي قوانين جوړ کړي دي څو غير شرعي مسايل پر هماغو قوانينو حل و فصل کړي. د دې لپاره خپل زموږ په فقه کې هم د استناد توکي شته، موږ چې کوم مسايل په قياس او اجتهاد حل کوو، د هغو يوه برخه د علت مشترکه له امله سمه ده چې شرعي مبنا پيدا کولای شي، مګر داسې هم شته چې هسې په زور يې سره تپلي دي، ځکه هغه د شريعت پر همدې مبنا نه جوړېږي، له دې امله يې ترمنځ خورا ژور اختلافات وي، دوه کسان يې پر يوه لار نه سره ځي، وجه يې داده چې اساس هغه ديني نه دي، دوی په زور له دين سره تړلي دي، ښه نو يو شی يا ستونزه چې له دينه را پيدا نه وي، او موږ يې په لوی لاس په دين پورې تړو بيا يې حل نه شو وړاندې کولای، د دې اړتيا څه ده؟ رسول الله ص واضح ويلي دي چې اوتيت جوامع الکلم، زه فارمولې بيانوم، موږ ته غټ چوکاټونه دين ايښې دي، د هغو په رڼا کې او د همدې چوکاټ په رعايتولو سره موږ حق لرو چې ځينې قوانين نويو مسايلو د حل لپاره جوړ کړو. د فقهې دغه تعزيري مسايل د کوم ايت يا حديث پر بنا ور کول کېږي؟ يوه کس ته نغدي جريمه ور کول کېږي، بل ته له جريمې سره بند هم، يو کس وهل کېږي او بل له وهلو سره بندي کېږي هم؟ دلته خو شريعت يوازې فارموله در کړې ده، د هغه لوی چوکاټ ته په کتو تاسو د همدې جزيو په اړه خپله پرېکړه کوئ، حالات، ټولنه، وخت، ځای، مجرم، جرم او دې ته ورته نکتې ټولې په نظر کې نيسئ او پرېکړه کوئ، دې ته تاسو حتمن د شرعي مسلې نوم ور کوئ، خو که يو څوک د شريعت له همدې فارمول څخه په استفادې د شرعي چوکاټ په رعايت سره د مدني قانون په نوم يو قانون جوړ کړي او د هغه قانون په ساحه کې مسايل په حل کړي، نو ستا ورسره څه مشکل دی؟ که يو فقيه د خپل اجتهاد په مټ سل، دوه سوه، درې سوه ان زر کاله مخکې د يوې مسلې په اړه نظر ور کولای شي چې لا هم هغه مسله ايجاد شوې نه ده، نه يې ټولنه په نظر کې نيول شوې، نه يې نوعيت ته پام شوی، نه وخت ورته مطرح دی، نه ځای، نو ستا عقل څنګه دا اجازه هغه چا ته نه ور کوي چې هم ټولنه په نظر کې ساتي، هم وخت او مکان ورته مطرح دي، هم نوعيت ته توجو کوي، هم د تېرو علماؤ تعبير د هغوی په وړاندې دی، هم د خپل وخت علمي پانګه ورسره ده او له دې ټولو سره د يوه فقيه يا قانون پوه پر ځای يوه درسته کمېټې دغه کار ته اوږه ور کوي، که څه هم

دا کار د فقهې په نوم نه کوي، د وضعي قانون په نوم یې کوي، نو ستا یوازې پر نوم ورسره شخړه ده او که تاته یواې اسلاف پرستي خوند در کوي د نن زماني علماء درته علماء نه ښکاري؟ ته مسایل او ستونزې حل کول غواړې او که په دې توګه نه یوازې ایجاد شوې ستونزې نه حلوې، بلکې د نورو ایجاد ته زمینه سازي کوې؟ له دې سره ته هم د یوه فقیه په کتاب یا فکر عمل نه کوې، د امام صاحب د مذهب په نوم دې مسلک کې څو سلنه مسایل د هغه خپل دي؟ څومره فقهي اصول د هغه لیکل شوي دي؟ څه د شاګردان به هم د هغه په شان فرض کړو، څومره مسایل ته اوس د هغه وخت د علماؤ په تعبیر حلوې؟ ایا تاسو اوس نوي اجتهادونه نه دي کړي؟ تا له یوه مسلک څخه بل ته منډه نه ده کړې؟ د مفقود په مسله کې پر خپل مسلک ولاړ یې که د امام مالک په مذهب دې عمل پیل کړی دی؟ که تاسو دا حق لرئ، نو نور ته ولې نه یاست په قایل؟

که دغه قانون مقدسه جنبه نه لري، نو ستا اجتهادي قوانین یې هم نه لري، ځکه دا خو له شرعي متن څخه د یوه انسان فهم دی، د هغه برداشت دی، انساني فهم او برداشت ته څنګه مقدسته صبغه ور کوې؟ تاسو په دې توګه دوه سنګین جرایم کوئ: یو د شریعت له مقدس متن سره خپل برداشت/فهم /کتاب په یوه درجه کې ږدئ او دویم دا چې په دې سره د خلکو خولې بندوئ او د واقعیت له درک پرته ستونزو ته ستاسو په اند رسېدګي کوئ چې د حل پر ځای یې نوره خرابي را منځته کوئ، دا تجربو ثابته کړې ده او هسې خوشي چټي ادعا نه ده!!!

دا خبره باید ومنل شي چې فقه د اسلامي امت یو ډېر غوره علمي میراث دی، پر خپل ځای له پوره اهمیت څخه برخمن دی، مګر د یوه شي تاریخي اهمیت دا معنا نه لري چې حتمي باید اوس هم نافذ شي، هغه تاریخي میراث موږ ته د خپلې ماضي په اړه معلومات راکوي، د هغوی د ټولنې، کلتور، علمیت، مسایلو، ستونزو، حل او فصل، حکومتداري، اقتصاد او نورو په اړه له موږ سره د موادو یوه بډایه ذخیره ده، خو له دې ټول اهمیت سره سره د اوس مسایلو ته له ځواب ور کولو عاجزه ده. دا اقعیت که درک نه شي، نو هم به د ځان تاوان وکړئ، هم د ملت و وطن او په خاص ډول دین ته به ځانګړې ضربه ور کړئ، تر کومه ځایه چې د پخوانو پوهانو تعبیر د اوس وخت له مسلو سره ربط لري، ځواب یې وایي، نافذ یې کړئ ستونزه نه لري، ورسره دا واقعیت باید ومنئ چې ډېر داسې مسایل شته چې نوي قوانین غواړي، دا قوانین دې ولیکل شي، بیا د فقهې نوم پر ږدې که د قوانینو، هغه ستاسو کار دی، مګر هو چې مسایلو ته یې سمه معقوله رسېدګي کړې وي، نه وخت صرف نظر شوی وي، نه مکان، نه ټولنه، نه اړتیاوې، مسایلو ته یې حل وړاندې کړی وي، داسې نه چې یوه حل کوي، لس نورې را ولاړې کړي، دا حل نه دی بلکې لا زیاته خرابي ده.

که په اخیر کې یو څه سپین ورېغږم نو فقه په خپل وخت کې د پوهانو له لوري د وخت مسایلو ته د حل یوه هڅه وه چې هغه وخت ورته فقه ویل کېده او اوس یې خلک د اساسي، مدني، حقوق تجارت او پلان و پلان د قوانینو په نوم پېژني، نور یې ماهیت یو شی دی، که څه هم نوم به یې سره جلا وي، د شکل له مخې ممکن یو او بل ډول اوډل شوي یا لیکل شوي وي، خو ماهیت، ماهیت دی په دې شیانو له منځه نه ځي. نو تر اشکالو را تېر شئ، ماهیت وپېژنئ، تېر ایله کړئ، په حال کې ژوند وکړئ، خیالونه پرېږدئ واقعیت درک کړئ، د خپل غرور له بامه را کښته شئ له ملت سره د ځمکې پر همدې متواضع مقام یوځای کېنئ، ستا د فهم تقدس او زما د فهم ناتقدس، تر دې کیسو تېر شئ ټول غیر مقدس دي، راځئ په ګډه د دې ملت د خادمانو او دې خاورې د ساتونکو په توګه یو بل ته لاسونه ور کړو، ستونزې حل کړو او د خپل دې ژوند او اینده ژوند لپاره یوه کارنده، معقوله نقشه تیاره کړو چې ستونزې راته ایجاد نه کړي، بلکې په عملي کېدای یې د ښه ژوند خاوندان شو.

# سیاست



عظم الدين عليمي

سیاستپوهانو سیاست ته هم علم او هم فن (هنر) ویلي دی.

د سیاست بېلابېل تعریفونه شوي دي. د سیاست نسبت د دولت یا سیاسي واحدونو څېړنې، فعالیت، پنځونې (تخلیق)، رهبرۍ کولو او اداره کولو ته کیداي شي. سیاست د یوې ټولنې د افرادو تر منځ پر اړیکو مشتمل وي، په تېره بیا پر هغو اړیکو چې د واک او قدرت بحث پکې دخیل وي. د سیاست فعالیتي برخه د سیاسي ګوندونو بسیج، د پالیسیو پرمختیا او د حکومتونو تشکل احتوا کوي. په سیاست کې تر یوې کچې سازش او د اجماع په لور هڅه او تلاش شامل وي.

که د یوې ټولنې بنسټ اقتصاد تشکیلوي، همدا شان د هرې ټولنې په روبنایي پدیدو کې سیاست اساس دی او د ټولو ټولنیزو پدیدو په سر کې واقع دی. د سیاست دوه تر ټولو مهم اړخونه جنګ او سوله دي. په جنګ کې د جنګ او په سوله کې د سوله ییز فعالیت لپاره هڅې کېږي، خو ډېرځلې په جنګ کې د سولې لپاره هڅې او تیارۍ کېږي. تر هر جنګ وروسته سوله هرومرو نه ټینګیږي. سوله هغه شان چې ځینې سیاستوال یې تعبیروي د جنګ وروستۍ ورځې ته نه ویل کېږي. ځکه داسې ټولنې شته چې د هغو په دنني (دروني) چوکاټ کې رښتینې سوله نه وي رامنځته شوي، خو توده جګړه هم پکې نه وي. په سیاست کې د شکل او ماهیت پیژندنه اړینه وي. په هغو ټولنو کې چې ټولنیز عدالت شتون ونلري، په شکل کې یې محسوسه جګړه نه لیدل کېږي، خو ماهیت یې په ژوره کې جګړه تشکیلوي. کومه سوله چې په اساسي ډول جګړه محوه کړي په هغې ټولنه کې د سیاست بنه عالي او ډېره لوړه وي. کومه جګړه چې د وروستۍ مرمۍ په سرېدو سره یې رښتینې سوله ټینګه شي، هغه د هماغې ټولنې د سیاست عالي او لوړ پړاو وي.

په سیاست کې تر ټولو محوري مسئله د قدرت ترلاسه کولو او قدرت ساتلو مسئله ده. دا دوه مسئلې که له سیاسته وغورځول شي، له یوې شلې شوتې ړندې پدیدې پرته به بل څه پاتې نشي او د سیاست مفهوم به له لاسه ورکړي.

د سیاست ډګرې کیدل جدي اړتیا رامنځته کوي چې څرګنده شي د سیاست بنسټ پر څه ولاړ دی او د همدغه ټکي پیژندنه د سیاست لورې مالوموي. خو دا کار هرومرو ستونزمن دی، ځکه چې سیاست یوه پیچلې پدیده ده او پرې پوهیدنه اوپیژندنه یې ساده کار نه دی.

هغه سیاست چې علمی بنسټ لري د واک اخیستنې او واک ساتنې منځپانګه یې له پامه نشي غورځیدلی. خو سیاست پر علم سربېره فن یا هنر هم دی. په سیاست کې هنر دا دی چې په یو ټاکلې سیاسي لوري کې په بریالیتوب سره د پرمختګ لار ووهل شي او د علم په اساس پر پیژندل شوو لنډو لارو تر هر څه دمخه ټاکلې سیاسي موخه ترلاسه شي. که چیرې په سیاست کې علم او فن یو له بله جلا وګڼل شی او له دواړو څخه کار وانخیستل شي، د بریا امکان له لاسه ووځي. د سیاسي هنر پیژندنې لپاره پر فلسفي کمیت او کیفیت سمه پوهیدنه اړینه ده، ترڅو د ځواکونو سمه لاربښوونه وشي. د ځواکونو انډول او برابروالی د بریا د هرومروتوب په مانا نه وي. کیدی شي د ځواکونو سم کارول او سمه لاربښوونه لس د سلو پر وړاندې بریالي کړي او د ځواکونو ناسمه رهبري سل د لسو پر وړاندې ناکامولی شي. لدغه ځایه د سیاست هنري اړخ چې اهمیت یې په رښتیا سره زیات دی ځلا مومي.

که یوه سیاسي ډله وکړی شي چې په سیاست کې خپل میدان پراخ کړي، ډېر پلویان په ځان پسې او د ډېرو خلکو ملاتړ خپل کړي، نو دا د سیاسي هنر کمي اهمیت څرګندوي.

شپیلۍ هم پرته ده او فنکاران هم ناست دي. یو فنکار شپیلۍ راپورته کوي او داسې آواز ترې باسي چې د نندارچیانو زړه توروي، هغوي له ځایه پاڅیږي او میدان خالي کوي. یو بل فنکار همدا شپیلۍ پورته کوي او داسې زړه راکښونکې نغمه ترې باسي چې نه یوازې د ویښو زړونو د راټولېدو لامل کېږي، بلکې ویده غوږونه هم بیدار او پر ځان یې راټولوي. په همدې توګه د سیاست کولو لپاره پر سیاسي هنر پوهیدنه مهمه او اړینه ده.

د سیاست هنر یا فن هیڅکله دا نه غواړي چې د میاشي (غماشي) د له منځه وړلو لپاره توپ یا ماشیندار وکارول شي.

سیاست هیڅکله په خپل سر مخکې یا وروسته نشي تللي.

سیاست یوه اړیکه ده چې د سترو اجتماعي ډلو ترمنځ شتون لري او دا اړیکې خپلې ځانګړې محرکې قوې لري. د سیاست پرمختګ د محرکو قوتونو پرمختګ او د سیاست شاتګ د محرکه قوتونو شاتګ بلل کېږي.

معقول او نه ماتیدونکی سیاست د ټولنې د اکثریت یانې د ټولنې د ډېرو خلکو پر ملاتړ متکي وي. د اکثریت ملاتړ هله ترلاسه کیدی شي چې د هغوي ګټې په پام کې ونیول شي. که د سیاست ملاتړی اکثریت په شعوري توګه له یو سیاسی جهت څخه ملاتړ وکړي، نو هغه جهت بریا ته رسیږي او نه ماتیدونکی وي. پر علمي بنسټ ولاړ سیاست پوخ او نه ماتیدونکی وي او د خپلې ټولنې د اکثریت ملاتړ ګټي.

ناکام او هرومرو ماتیدونکی او نسکوریدونکی سیاست هغه دی چې د ټولنې پر محدودو کسانو یې تکیه کړې وي او د اکثریت له ملاتړه بې برخې وي.

د سیاسي بریا لپاره د سیاست د فن پر اجزأوو (تعرض، پرشاتګ، ترصد) باندې پوهیدنه ډېره مهمه او اړینه ده. دا هم مهمه ده چې یوه سیاسي ډله خپله جوړه کړې سیاسي کړنلاره په سمه توګه خلکو ته ورسوي او هغوي پر ځان راټول کړي. دا کار هم د سیاسی هنر د زده کړې له مخې شونتیا مومي.

د یو هیواد ودانې د سیاسي خط مشې یا سیاسی کړنلارې سره تړاو لري. که یوه ټولنه بسیا بشري قوه او طبیعي منابع ولري چې په کار اچولو سره یې ټولنه ودانیدلی او د خلکو اړتیاوې پوره کیدی شي، خو که په سیاسي کړنلاره کې چاته د کار کولو لار نه وي خلاصه ټولنه نه ودانیږي. د بېلګې په توګه، که یوه ټولنه خورا زیات مسلکي کدرونه او پرسونل ولري، ترهغې د پام وړ خدمتونه نشي ترسره کولی ترڅو هغوي ته په خپل مسلک کې د پراخ فعالیت لار نه وي خلاصه. د فعالیت هسې شان لویه لار سیاست خلاصوي. له همدې امله ښه سیاست او یوه سیاستمدار د ټولنې لومړنۍ اړتیا ده .

د تعرض په وخت کې عقب نشیني او د پرشاتلنې په وخت کې تعرض او په دغو دواړو حالتونو کې ترصد پر سیاسي هنر نه پوهیدنه ښیي او ټاکلې حالت او جریان له حتمي ناکامۍ سره مخامخوي.

په سیاست کې هنر نه یوازې د عمل په وخت کې غوره ارزښت لري، بلکې د سیاسي هنر زده کړه د پروپاګند لپاره حیرانوونکی اغېز لري. سیاسي هنر د حریف قوت په سیاسي کړنلاره کې له یوې کوچنۍ تشې (خلا) څخه د خپل قوت په ګټه زیاته استفاده کوي. همدارنګه د سیاسي هنر په کارونې سره کیدونې ده چې د یوې تېروتنې په وخت کې یو قوت د مقابل قوت له پروپاګندې اغېز څخه خوندي شي، د ملاتړو د مأیوسۍ مخنیوی وشي او پرېښنبوول شي چې ملاتړ کمزوری شي .

په سیاسي هنر سره د ورځې شعار په چټک ډول خلکو ته رسول کېږي او ټولنیز ذهنیت له بېلارۍ ساتل کېږي.

هغه سیاست چې علمي بنسټ ولري او د هنر ملګرتیا ورسره وي نه ماتیدونکی دی، یانې سیاست هم علم دی هم هنر. د سیاست هنر له سیاست سره ټوکو کولو ته اجازه نه ورکوي.

# د دعوت ۳۴مه کلیزه مو مبارک

# طالبي حدود د اسلام او یوویشتمې پېړۍ په تناظر کې؛ څلور ټکي

رحمت شاه فراز

**۱- نه انکار پدونکې واقعیت**

له دې هېڅ عاقل انسان هم مخ نه شي اړولی، چې په بشري ټولنه کې به ارومرو جرایم او جنایتونه ترسره کېږي. په انسان کې د شر او جنایت پدیده نفي کول، پر یوه روښانه حقیقت سترګې پټول دي. د دغو جرایمو او جنایتونو د تلافي او په آینده کې یې د مخنیوي لپاره د سزاګانو ټاکل یو بدیهي امر دی. په دې ځای کې پوښتنه دا نه ده، چې آیا سزا ورکړو، که نه؟ بلکې بنسټي پوښتنه دا ده، چې یوه جرم ته کومه سزا وټاکل شي. د مسلمانانو لپاره الله تعالی دغه مسئله د ټولنې د لویو جرایمو لپاره واضح بیان کړې او مسلمانانو ته پکار دي، چې هماغه ومني. که له غیر اسلامي لیدلوري، دغه سزاګانې هر څومره غیرعادلانه او د بشر حقونو ضد هم وي، خو یوه مهمه پوښتنه دا ده، چې د دې پر ځای چې کومې سزاګانې ټاکل کېږي، د هغو د عدالت او انصاف ډاډ او ضمانت به څوک کوي؟ د لاس پرې کول که غیرعادلانه او بشر ضد وي، نو زندان ته استول د کومې مرجع له مخې انصاف او عدالت دی؟

په دې اساس، د غرب یا له غربي شعارونو څخه د اغېزمنو مسلمانانو له لوري، غوړ او پوړ جوړول، له منطق او عقل سره خلاف کړنه ده.

**۲- د اسلام حدود ټاکلي دي**

په اسلام (قرآن او سنت) کې د یوې ټولنې د ټولو جرایمو لپاره حدود یا سزاګانې نه دي ټاکل شوې، بلکې پنځه جرایم دي:

۱- په ځمکه کې فتنه او فساد خپرول.

۲- قتل او ټپي کول

۳- زنا

۴- تور پورې کول

۵- غلا

په دې اساس، که په یوه اسلامي ټولنه کې حاکم نظام، د دغو جرایمو په مقابل کې حدود پلي کوي، نو په غبرګون کې یې دا غوښتنه کول، چې په پلانکي ولې دغه حدود نه پلي کېږي، یوه بې ځایه غوښتنه ده. اوسمهال د یو شمېر وګړو یوه غیرمنطقي غوښتنه دا وه، چې دغه حدود دې د ا.ا.ا په پلانکي، پلانکي چارواکي هم پلي شي. که د هغوی جرم له پورتنیو پنځو جرایمو څخه یو جرم وي، نو باید پرې حد تطبیق شي، له هغه پرته د حد د تطبیق غوښتنه بې ځایه ده.

**۳- د جرایمو محاکمه د ولس مخې ته اېښودل**

هېڅ نظام د دې حق نه لري، چې په پټه یو څوک ونیسي، تر بندو خونو شاته یې تورن او مجرم ثابت کړي او یوازې د پورتنیو حدودو د تطبیق لپاره یې صحرا ته وباسي. پر ځای یې، د مجرمینو ټوله محاکمه باید د رسنیو او د ولس د استازو په وړاندې ترسره شي؛ د ټولنې یو لوی اکثریت باید په دې ډاډه شي، چې مجرمین په واقعي معنا له پورتنیو جرایمو څخه د یوه جرم مرتکب دي او په دې سربېره، ټولنه باید د هغې پروسې له عدالت او نیاو څخه ډاډه او راضي شي، چې له مخې یې یو کس، مجرم ثابتېږي. دغه چاره په څه ډول، په مؤثره بڼه ترسره شي، د حقوقي چارو کارپوهان پرې تر ما ښه پوهېږي، خو په غربي محکمو کې له ټولنې څخه یوه ډله (jury) ټاکل کېږي. د مجرمینو ټوله محاکمه د هغوی د سترګو په وړاندې سرته رسېږي او د پرېکړې او قضاوت وروستی واک له هغوی سره وي. په دغو محکمو کې قاضي، د (jury) د پرېکړې متابعت کوي.

**۴- د حدودو تطبیق به صحرايي/علني نه وي**

دغه حدود باید د شاهدانو په مخ کې پلي شي. په دې اړه د قرآن کریم د آیت الفاظ دغه دي: وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ

الْمُؤْمِنِينَ. ژباړه: او د مؤمنانو یوه طائفة (یو، دوه، یا څو تنه) دې د دوی د کړېدو شاهدان وي. په دې آیت کې حکیم او علیم ذات د خپل مخلوق د عقل او پوهې له مخې خورا مناسب الفاظ غوره کړي، داسې چې:

ولیشهد: ((او شاهدان دې وي))؛ یعنې دغه تطبیق دې یوازې د حاکم له لوري نه نافذېږي، بلکې یو درېمګړی هم باید موجود وي، چې پر دې شاهد واوسي. د اسلام له ټولنیزو احکامو سره بلد کسان پوهېږي، چې په اسلام کې شاهدي له یوې موضوع څخه د ډرامې او ننداري جوړولو په معنا نه ده، بلکې په ډېرو محدودو او ټاکلو شرایطو کې سرته رسېږي. مثلاً د نکاح شاهدي، د تجارتي معاملاتو په برخه کې شاهدي او داسې نور. په هېڅ اسلامي ټولنه کې هم نکاح یا تجارتي معاملات په صحرا کې نه ترسره کېږي، بلکې د شاهدي او شاهدانو شروط چې پوره شي، نو په یوه بنده خونه کې هم سرته رسېدلی یا سرته رسېږي.

طائفة من المؤمنين ((له مؤمنانو څخه یوه طائفة))؛ طائفة، کلمه په عربي ژبه کې له یوه تن څخه تر لسګونو زرو کسانو لپاره کارېږي. دا چې په دې ځای کې له ((طائفة)) څخه څو تنه مراد دي، په دې هکله ګڼ روایتونه وجود لري، په دې روایتونو کې يې شمېر یو، دوه، څلور، څلوېښت، ان تر زرو پورې ښودل شوی.

خو په دغه مسئله کې روایتونو ته اړتیا په دې نشته، چې دغه مسئله په قرآن کریم کې پخپله واضح شوې، یعنې دومره کسان باید حاضر وي، چې د شاهدي لپاره کفایت کوي. په دې برخه کې زما شخصي نظر دا دی، چې د دوو نارینه وو او یا د یوه نارینه او دوو ښځینه وو شتون بسنه کوي او تر دې زیاتو کسانو ته باید قانوناً اجازه ورنه کړای شي. خو یاده دې وي، چې دغه شاهدان هم باید د شاهدي په هغو ټولو شرایطو برابر وي، چې اسلام په نورو برخو کې لازم ګرځولي.

د پورتني ژبني بحث په تناظر کې دا نتیجه اخیستلی شو، چې د حدودو تطبیق باید په یوه داسې ځای کې ترسره نه شي، چې هلته د لوی شمېر کسانو د راټولېدو احتمال وي، بلکې هغسې چې په نکاح او نورو معاملاتو کې په یوه خونه یا دفتر بسنه کېږي، دغه محاکمه هم باید په بند ځای کې ترسره شي.

په دې سربېره، د دغې پېښې شاهدانو ته باید د دې اجازه ورکول شي او وهڅول شي، چې د خپلو سترګو لیدلی حال د رسنیو او د جومات د منبرونو له لارې د اسلام او ایمان د تقاضاوو په رڼا کې بیان او واضح کړي، تر څو سربېره پر دې چې عام وګړي د مجرمینو پر کړاو له خبرېدو څخه عبرت واخلي، باید د دغو مجازاتو په فلسفه او حکمت هم پوه شي.


## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي یا ډېره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړې کوي، زموږ راتلونکی ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر یا په ډېرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ.

د دعوت بانکي پته: DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب:NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره: Vipps: #557320

## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

DNB Bank AC # 0530 2294668

Account for international payments: NO15 0530 2294 668

Vipps: #557320

# یوه افغانه ښاپیرۍ په کیيف کې




## عبدالمالک بېکسیار

یوه افغانه ښاپیرۍ په کیف کې کتاب چې ښاغلي محمد طارق بزګر لیکلی ولوست . کیسه د لیکوال له قوله چې د رښتیني پېښې انځور دی، د اکراین پلازمېنې کیف ښار کې پیلېږي چې جرړې يې تر افغانستان- کابل – پروان -کورنیو جګړو او ناروې پورې غځېږي .

د ادبي ژانرونو او صنفونو له مخې چې زه خاص ورته ژمن هم نه یم او ډېر ځله يې تر منځه د پیاز تر پوټکي هم مهین دیوالونه وي دغه کیسه البته زما د ناقصې ادبي پوهې په معیار زیاته یوه راپورتاژ ته پاتې کېږي . حوادث د ډیالوګ په بڼه د یوه متکلم او مخاطب له خوا ډېر په ماهر ډول، ښکلې سلیقه او انځوریز ډول راسپړل کېږي او کیسه ګام پر ګام مخته ځي.

د کیسې په شروع کې لکه هماغه ډول چې تجربه کار او استاد سندرغاړي الاپونه، ګمکونه او زمزمې کوي، شابیتونه وایي او رباعیاني کوي څو په اورېدونکو هم د خپلو سندرو دم واچوي او هم خپله استادي ثابته کړي همدغه ډول پدغه کیسه کې لیکوال د پښتو نوموتو شاعرانو د بیتونو په راوړلو هم دا په ذبات رسولې چې د ادب پراخه مطالعه او مشاهده لري او هم کیسه په یوه ښکلي انداز د لوستونکي ذهن ته پداسې یوه مهارت ور دننه کوي چې لوستونکی له ځانه هېڅ نه خبرېږي خو د تلوسې په لومه نښلي .

کیسه له تلوسې ډکه او حتی زما له نظره لا لږ زیاته ډکه ده.

زموږ د یوه خپلوان خبره چې د جمهوریت د وخت د تلویزوني ډرامو غونډې کله کله ښځې د لوستونکي ملا ورته خوله شي چې اوس به نو څه پېښېږي ؟.

که د لیکوال د چای، ډوډۍ او کافۍ دمې پکې نه وای راغلې، چې زه فکر کوم لیکوال په عمدي توګه د speed breaker په توګه خو په مناسبو ځایو کې کارولي، نو تلوسه به ښځې پولیسي ناولونو او ډاروونکو فلمونو ته ورته وه، چې د کیسې په ژانر يې هم اثر ښندلی شو . د زلمي خلیلزاد په استازي کتاب کې مې یو مهارت ته پام ور اوښتی و چې کله دی د یوې سترې پېښې، غونډې یا خبري کنفرانس په باب خبرې کوي او بیا څنګه ژر او په خاص مهارت د دغې پېښې صحنه بدلوي او وړاندې ځي.

د پښتو ډېرى کیسه لیکوالو یوه تشه همدا ده چې لکه زاړه هندي فلمونه په یوه صحنه کې ډېر تم کېږي . په کیف کې د یوې افغانې ښاپیرۍ لیکوال ته هم لکه زلمی خلیلزاد ادا مهارت ورځي چې د یوې صحنې څومره برخه د ده پکار ده او څنګه بېرته ترې وځي.

زه ګومان کوم، ګومان څه چې عقیده لرم دغه مهارت به د لیکوال د کلونو کلونو خبریالۍ میراث وي .

د افغانې ښاپیرۍ دغه کیسه سره له دې چې له پیله تر پایه په یوه کافي کې بیانېږي خو جرړې يې لکه هماغسې چې د دغې لیکنې په شروع کې ورته اشاره وشوه تر لرې لرې پورې ځي او بېلابېل اشخاص پکې په اصطلاح کله کشک کوي، خو هېڅ ځای او هېڅوک پکې تر ضرورت زیات نه پاتېږي چې ادا د دغې کیسې د لیکوال یو ستر بریالیتوب دی.

د کیسې ژبه تر ډېره د ژورنالیزم او خبریالۍ ژبه ده چې ګومان کوم باید هم تر یوې کچې همداسې وي، ځکه پېښنه د سوالځواب په بڼه مخته ځي

اړینه بولم چې دلته دا یوه خبره روښانه کړم، ډېری خلک هغو فلمونو، ناولونو او کیسو پسې ډېر زور کوي چې په رښتینو او واقعي پېښو ولاړ وي، پداسې حال کې چې دا باید برعکس وي، ځکه هنري ښکلا او ځلا خو د لیکوال احساسات، عواطف او تخیلات دي چې هنري اثر پرې ښکلی کېږي، زموږ د ژوند واقعیتونه خو اکثر وچ او بې خونده وي .

په اصل کې خو دا د لیکوال د تخیل او قلم ځواک دی چې سلګونه او زرګونه پاڼې ناولونه، رومانونه او کیسې په موږ لولې او په ساعتونو ساعتونو د تلویزیون له ښیښې سره زموږ سترګې ګنډي .

وروستی خبره دا چې په کیف کې د یوې افغانې ښاپېرۍ کیسه پداسې بڼه او چاپېریال کې پېښېږي چې ډېر خلک به یې د بیان جرئت و نه کړي، ډاډه یم چې دغسې ډېرې کیسې به د ډېرو خلکو له سترګو او خیاله تېرې شوې وي خو د ویلو او لیکلو جرئت به یې پدې نه وي کړي چې بېرته یې بیا خپله غوټه شوې لمنه لدغسې چاپېریاله نشوای رانغاړلی، مګر بزګر چې ټول ژوند یې لدغسې مرداریو اړخ ته په پاکۍ، صمیمیت او ایمانداری ژوند کړی د یوه زړور، بې پرې او بې باکه ژورنالیست په توګه د کیسې له دغه اړخه په پوره بې فکرۍ او صلابت سره تېر شوی او دغه کیسه یې له خپلو ټولو هغو څنګزنو تاوانونو (عوارض جانبي) سره سره رانقل کړې، چې دغه جرئت یې د ځانګړې ستاینې وړ دی .

په پای کې ټول د دغې خوندورې او جلا سټایل کیسې لوستلو ته رابولم او پښتو ادب کې د دغې کیسې په زیاتولو له خپل دوست او ملګري ښاغلي او منلي بزګر څخه مننه کوم .



# د دعوت ۳۴مه کلیزه مو مبارک



## استاد تره کی: په لنډه توګه! د دعوت رسنیز مرکز د لیکنو آرشیف او کالمونه د محققینو د پاره ستر غنیمت ګڼل کیږي

مهاجر افغانان چه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تیت او پرک ژوند تیروي د لاندي دري لاملونو په بنسټ د یو اغیزمن کمونیکیشن لاسوند ته اړتیا لري:

ــ د خپلمنځي اړیکو د تآمینولو په مقصد .

ــ د وطن د حالاتو نه خبرتیا

ــ د کهوالۍ د ژوند د عقدې د تسکین یومنفذ ته اړتیا.

د افغانستان نه بهر، باندینیو اړتیاو ته افغاني میډیا او مطبوعات وطنوالو ته وړاندي کوي.

د کهوالۍ په لمړیو کلونو د نړۍ په ګوت ګوټ کي بې شمیره خپرونو په کار پیل وکړ چي زیاتره یې د بهرنیانو له خوآ تمویل کیدلې. د وخت د تیریدو سره جوخت افغاني مطبوعات د عامه ارزونې د فلتر نه تیرې شوې. یوازې هغه خپرونې پاتې شوې چې له یوې خواه یې د تمویل ډاډمنې سرچینې درلودې، او له بلې خوا یې د لوستونکو د هرکلي سره مخ شوې وې.

دعوت د دغه ستري آزموینې څخه بریالي ووت.

زه د دعوت مجلې د تاسیس د پیل نه ورسره د څو دلیلونو له مخې قلمي همکار پاته شوی یم. د دعوت مجلې :

- ډیزاین د معاصر ژورنالیزم او د مالوماتي ټکنولوژۍ پر اصولو ولاړ دی.

- د پښتو او دري خپرونو تر منځ انډول ته پام اړول شوی.

ـ تل یې د ملي او اسلامي ارزښتونو بیرغ اوچت ساتلی.

- د سکتاریستانو، فدرالیستانو او افغان ضد کړیو په وړاندې تبلیغاتي مورچل ته د وخت غوښتنې سره سم تازه نفس مطبوعاتي ملګري ورګډ کړي.

په لنډه توګه! د دعوت رسنیز مرکز د لیکنو آرشیف او کالمونه د محققینو د پاره ستر غنیمت ګڼل کیږي.

بره ټکو ته په کتو سره په وروستیو کلونو کې د دعوت قلمي همکاران زښت زیات شوي دي. د همکارانو په ډله کې علمي کدرونه او علي سویه پښتو او دري لیکوالان شاملیږي. داسې څرګندیږي چې دعوت د ملي وحدت د تینګښت رسالت ته ژمنه میډیا پاته شوی.

زه د وفادار قلمي همکار په توګه دعوت مجلې ۳۴ مه کلیزه څوان او تکړه ژورنالیست دروند بزګر ته مبارک وایم. د وطن په خدمت کې د محترم بزګر د لازیاتو لاسته راوړنو په هیله.





# د وربښمو کاروان



**چلوونکې او مسئوله: شپېه ګهېځ**

د وربښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او لیکوالانو له پیژاند نیولې تر طنزونو، لنډو کیسو، ادبي ټوټو، ادبي څېړنو او نور بیلابیل ادبي او غیر سیاسي لیکنې د هنري ذوق څروبولو او معلومات ورکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختیا او غوړیدا په موخه مو د نیک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هیله یو.

dawatafghanmedia@gmail.com

# حفیظ الله تُراب

## د دعوت د دې ګڼې هنري، او ادبي څېره

**منوچهر اذري وايي: طنز د ژوند هنداره ده او ژوند بې له طنز ښکلا نه لري.**

په طنز کې د انتقاد او ظرافت ارزښت په دې کې دی، چې دا ظرافت د انسان عواطف او انتقاد عقل راپاروي. کله چې لوستونکی په طنز کې ظریف انځور ویني؛ نو د خندا په بڼه غبرګون ښيي کله چې په انځور کې د ټولنې ناخوالو ته پام شو؛ نو عقل راپاریږي او په انځور کې د اجتماعي ناخوالو او بدمرغیو انځور وړاندې کېږي. دلته مو له داسې انځورګر طنز لیکوال سره مرکه کړې، چې لوستلو ته یې لوستونکي رابولو.

حفیظ الله تراب د میرزا حبیب الله زوی او د میرزا نورالرحمن لمسی د کونړ ولایت د پشد د تاریخي کلي اوسېدونکی دی. هغه په قام مومند او کورنی یې د میرزایانو په نامه یادېږي، چې له پېړیو راهیسې یې له لیک لوست سره اشنایي درلوده او ډېرو خلکو ته یې د زده کړې فیض رسېدلی دی. هغه لومړنی او د لیسې زده کړې د پشد، ارزګان، کامې او په لغمان ولایت کې سر ته رسولې دي. د پښتو ژبې د ادبیاتو پوهنځی یې تر هجرت وروسته په ننګرهار پوهنتون کې ولوست او په ۲۰۰۰ م کال کې ترې په لومړی درجه فارغ شو.

حفیظ الله تراب له تېرو دېرشو کلونو نه لیکوالي کوي، چې ټولې لیکنې یې د هیواد او له هیواده بهر خپرونو کې چاپ شوي دي.



نومورې په لومړیو کې شاعري کوله، خو وروسته یې د لنډو کیسو په لیکلو پیل وکړ، چې په ترڅ کې یې د ورکې، د پرښتې خواب، سلګۍ په لوېدیز کې، طلايي مرغان، ژوندی مړی، رومانتیک منیجر، اوښکې او ریالېسټ جاسوس په نامه ټولګې چاپ شوې. د تلوېزوني ډرامو دوه ټولګې یې پرېوتې څېرې او د پړانګ پر ځای نومېږي. هغه همدارنګه له انګلیسي او دري ژبې نه ځینې کتابونه ژباړلي، چې نومونه یې د افغانستان اوسنی او پخوانی پولې، د کمپیوټر اساسات، چېرته چې ساه پوه نه وي، پر ټولنې ولاړه بیا رغونه او ځینې نور دي. یو اثر یې رښتینی اتلان او د شعرونو ټولګه یې پر ګلاب دې مرغلرې په نامه چاپ شوې ده. سربېره پر دې یې د هند او جرمني یونلیکونه، د خبرو هنر او یوه شعري ټولګه چاپ ته تیاره ده.

د حفیظ الله تراب د لیکنو ډېره برخه په داستاني ادب څرخي، چې په کې لنډې کیسې، تلوېزوني سیریالونه او فلمي سناریوګانې شاملې دي. نومورې تر اوسه پورې ګڼې تلوېزوني ډرامې، سیریالونه او کلیپونه جوړ کړي، چې مشهورې ډرامې یې محلونه، پرېوتې څېرې،



څپې، دنیا، ښښتنه، د پړانګ پر ځای، خپلې متې، سلام، د ګلاجان مادوري، محاکمه، د پاڼې پر غاړه او نورې نومېږي.

**شېبه: د لومړي پوښتنې په توګه به دې ته راشو چې طنز لیکلو ته څنګه لیوال شوئ.؟**

تراب صاحب: خبره داسې وه، چې په لومړیو وختونو کې زما د لنډو کیسو جوړښت یا سټایل داسې و، چې له دردونو سره به یې خندا هم درلوده. زما د لیکنې دا ډول لاره ډېرو خوښه کړه، خو لکه څنګه چې د طنز تعریف یا آدانه ده، دې ته موږ طنز په دې نه شو ویلای، چې تراژیدي به هم وه. زما بشپړه طنزیه لیکنه د ګلاجان مادوري سیریال دی، چې له بده مرغه د نه امکاناتو له امله ټول فلم نه شو. نورې خورې ورې لیکنې مې په ټولګو کې چاپ شوې. طنز مې په دې خوښ و، چې یو خو یې له اره په ما کې د لیکلو متره وه او بله دا چې طنز د خلکو خوښېده او هم ورته اړتیا ډېره محسوسېده. څرنګه چې رښتیا ویل او پر نادودو ملنډې وهل د هر چا، په ځانګړې توګه د غلو او خاینانو نه خوښېږي، نو طنزونو به ما ته هم کله ستونزې جوړولې. که ما به پر کوم غله یا خاین طنز لیکلی و، نو پرته له دې چې ما یې نوم یاد کړی و، ډېری به رانه خپه او داسې به یې انګېرل، چې ګواکې همدا مې یاد کړی دی. پردې څه چې ان ځینې خپلوان به رانه هم خوابدي وو او فکر به یې کاوه، چې ګواکې ما سپک کړي دي، حال دا چې زما د لیکنې موضوع به عامه وه. د دې خبرې مانا دا ده، لکه په یوه مجلس کې چې څوک د خاینانو بد ووایي، خو په دې کې یو راپاڅېږي او ووایي، چې زه دې ولې یاد کړم؟!

**شېبه: ولې مو مستعار نوم کارولی لامل یې څه و او هغه لیکنې مو چې په مستعار نوم خپرې کړې وې بېرته مو پخپل نوم خپرې کړې دي که نه؟**

تراب صاحب: له تېرو دېرشو کلونو په ډېرو سختو او ترینګلو حالاتو کې به مې هم ډېرې تېزې لیکنې کولې. زه پخپله هم په دې پوهېدم، چې د هرې لیکنې له کبله زه وژل کېدای شم. ډېرو ملګرو به راته ویل، چې لږ نرم شم. له ځانه سره به مې هوډ وکړ، چې لږه ګوزاره وکړم، خو دا کار رانه نه کېده. په پای کې مجبور شوم، چې له حده تېزې لیکنې په مستعارو نومونو خپرې کړم. له بده مرغه تر

سلو پورې چاپ شوې لیکنې به مې په مستعارو نومونو وې. اوس يې راسره يوه هم نشته، خو په ځينو کيسو پسې مې اوس خپه يم، ځکه هغه ښې لیکل شوې وې.

**شپېه: تاسو د ګلاجان مادوري سيريال يادونه وکړه؛ د ده سيريال موضوع څه ده او څومره فلم شوی و؟**

تراب صاحب: د ګلاجان مادوري تلوېزوني سيريال ۳۰ قسطه و او کېدای شو چې تر دې هم ډېر شوی وای. له تخنيکي پلوه داسې ليکل شوی و، چې هرې برخې يې د نړۍ د سيريالونو په څېر کلېپ هينګر درلود. مانا دا چې هره برخه يې په داسې څه پای ته رسېده، چې راتلونکې ته د ليدونکو تلوسه ورته ډېره وي او په سيريال ليکنه کې دا يوه ګرانه برخه ده. ياد سيريال زموږ د ټولنې هغه شل برخې په ځان کې نغاړلې وې، چې زموږ د ټولنې خلک يې له ناخوالو سره لاس و ګرېوان وو. کيسه يې داسې وه، چې اتل يې لوړ خيالات درلودل، خو د ټولنې په نبض نه پوهېده. هيلې يې لوړې وې، خو وړتيا يې نه درلوده. هغه د ښځو پر بې بندو باره ازادۍ مين و. د ګلاجان مادوري يو طنزيه سيريال و، چې په کې پر شاعرۍ، ژورنالېزم، ټلوېزون، مدني فعاليت، ډاکټرۍ، سياست او حتی د جمهوري رياست پر نوماندانو په منطقي انداز ملنډې وهل شوې او يو رښتينې داستان ښکاره کېده.. د دې سيريال منځپانګه له طنزي پلوه داسې وه، چې په ګاونډيو هېوادونو کې يې سارې نه و. موخه مې دا ده چې د دې طنز په الفاظو او مکالمو کې و، نه په ټوپونو او مبتذلو حرکتونو کې. د وخت د اطلاعاتو او کولتور وزارت زه وغوښتم، د هغوی په غوښتنه مې پيل کړ، د پنځو برخو ناڅېزه بودجه يې ورکړه، په داسې حال کې چې افغان فلم او ملي تلوېزون يې مخالفت کاوه، شپږ برخې مې په داسې حال کې جوړې کړې، چې د بيک ګراونډ د موسيقۍ لپاره مې له خپل يوه ملګري روپۍ پور کړې. د شپږو برخو ليدو ته هيئت راغی او تر ننداري وروسته يې وويل، چې تر اوسه پورې دومره په زړه پورې سيريال موږ نه و ليدلی او نه مو په دېرشو کلونو کې کله هم دومره ډېر خندلي و. له بده مرغه د جهاني صيب او د حکيمي صيب د مشرۍ موده ډېره لنډه وه. د ياد سيريال سره مخالفت په دې کېده، چې د نورو دا نه لوربده، چې په پښتو ژبه دې داسې معياري سيريال جوړ شي، چې په هبواد کې يې بېلګه نه وه. که چېرته نوموړی



سيريال جوړ شوی وای، تر اتو مياشتو پورې يې د افغانستان خلک ډېر خوښ ساتلی شول او هم يې په تصويري داستاني برخه کې انقلاب راوست. څرنګه، چې د هغه وخت په حکومت پسات حاکم و، نو د کينې له امله د دوی دا نه لوربده، چې په پښتو ژبه کې دې يو داسې برياليی سيريال په لږو پيسو جوړ شي. د هرې برخې په شوټينګ کې به افغان فلم دومره ځورولم، چې حد يې نه و. د بېلګې په توګه د سيريال اتل ته به يې يو پتلون هم نه اخيست. په پای کې ملي تلوېزون، افغان فلم او د کولتور وزارت له همکارۍ لاس واخيست او دا هغه ناپوهي وه، چې په تېرو شلو کلونو کې د فرهنګ په برخه کې چارواکو د افغاني فرهنګ د ښېرازۍ پر ځای د هغې د پښو وهلو لپاره کوله. د فرهنګي چارو ډېری مشران داسې کسان وو، چې له بهره راغلي او پرته له غلا يې بله وړتيا نه لرله او لږ تر لږه په دې نه پوهېدل چې هېواد ته په دې برخه کې بايد څنګه خدمت وښيي؟! هغوی زما دا سپېڅلی ارمان درې ورې کړ او د زرګونو مينه والو پر انتظار يې خاورې واړولې. هغوی ګرم نه وو، هغو پښتنو ليکوالو يا فرهنګيانو چې پر

لوړو دولتي چوکيو يې کار کاوه، يوازې معاش اخيستل يې توره گڼله، نور نو نه د کومې ښې وو او نه يې هم دا جرات درلود چې د پښتو ژبې له حقوقو دفاع وکړي. ډېره هڅه مې وکړه، چې د ارگ د فرهنگيانو په وسيله د کرزي صيب سره په دې موخه وگورم، چې افغانستان بايد خپل تلوېزوني سيريالونه ولري، د هندي او ترکي سيرالونو نه خلاص شي. زما فکر دا و، چې يو ښه سيريال د زرگونو غونډو او دفترونو نه پر ټولنه او خلکو سل ځله ډېر اغيز لري او زموږ هېواد ورسره پرمختگ کولای شي. له بده مرغه د ارگ فرهنگيانو هم هېڅ مرسته ونه کړه، يوازې سحر صيب مې يوه ډرامه د کرزي صيب دفتر ته ورسوله، چې منته ترې کوم. وروسته مې ولسمشر اشرف غني په شمشاد تلوېزون کې وليد، خپل ډرامې مې ورکړې، خو په پايله يې پوه نه شوم. په هغه وخت کې چې به افغانستان ته په دې برخه کې کومه پروژه راتله، نو له مخکې به ورته غله په گونډو ناست وو. کيسه به يې په داسې يوه چا وليکله، چې هغه به ليکوال نه و، ډايرېکټر له هغه نه بدتر. پايله به يې دا شوه، چې په مليونونو ډالر به ضايع شول، خو د هغوی جوړ شوی شی به داسې و، چې يوه لېوني به هم ورپورې خندل.

**شبيه: د کيسې او اکسيرنې په نوم مو يو اثر دی، اکسيرنې څه مانا او د دغه کتاب د کيسو محتوا په څه څرخي؟**

تراب صاحب: زموږ په کلي او يا سيمه کې چې کله زه ماشوم وم، نو د اکسبرنې نوم به کارېده. لکه يوه جنۍ چې به ډېره توره وه، نو يوې بلې به وويل، چې نام خدا سپوږمۍ راغله. همدارنگه که يو ځوک به ډېر نرى او وچ کلک و او بل به وويل، چې ياره پهلوانه له نظره مه شې، نو زما په اند داسې خبرو ته طنز وايي، ځکه نو په پښتو کې ما ته د طنز نوم اکسبرنه ښکاري، چې په هغه وخت کې به ډېرى وخت اکسبرنې زړو ښځو کارولې.

**شبيه: د ډالۍ مجلې په هکله ووايئ او هم دا چې يادې مجلې کې مو څه لاسته راوړنه درلوده؟**

تراب صاحب: لکه څنگه چې مې پورته يادونه کړې، زما ټولې ليکنې د هنر په برخه کې دي. سربېره پردې د ډالۍ مجلې مسوول مدير او د نورو گڼو مجلو کتنپلاوی هم وم، چې په دې برخه کې د گندهارا او الفت مجلې نومونه د يادونې دي. همدارنگه د دوه سوه په شاوخوا کې مې سياسي ليکنې کړې، چې زما په خپل او مستعارو نومونو په ورځپاڼو کې خپرې شوې دي. ما د داستان ليکنې په برخه کې ډېر ستاينليکونه، د اتلولۍ مډال او د اطلاعاتو او کولتور وزارت نه لومړۍ درجه جايزه تر لاسه کړې ده. زما د لنډو کيسو او ډرامو موضوع گاڼي له بېوزلو نه دفاع، د خاينانو غندل، د ملي ارزښتونو ساتل او پالل، ولس ته رښتيا په گوته کول، پر چټياتو ملنډې وهل او د بې ننگه او مزدورو افغانانو پر رسوا کولو او غندلو راڅرخي. همدارنگه د خاينو گاونډيانو جنايتونه مې په جرات سره رسوا کړي دي.

ډالۍ مجله د ابرار خيريه موسسې له خوا چاپېده، چې زه يې مسوول مدير وم. د اداري د فعاليتونو، معلوليت، ادب، تاريخ، ساينس او تخنيک، طنزونو او غوره شاعرۍ په برخو کې به يې ليکنې خپرولې. ډالۍ يوه منلې او د خلکو د خوښې مجله وه.

**شبيه: د شاعرۍ په هکله مو ووايئ؛ په (پر گلاب دې مرغلرې) شعري ټولگې کې مو د محتوا او فورم له پلوه کوم ډول شعرونه راغلي؟**

تراب صاحب: زما د شاعرۍ ډېره برخه غزلې دي. د محتوى له پلوه مينه، درد، ارمانونه، پښتونولي، د هېواد پر حالاتو ژړا، بغاوت او ډېر نور څه په ځان کې لري. له بده مرغه زه د ناخوالو په راتگ ډېر مخکې پوهېدم او بايد هر لوستی افغان پرې پوه شوی وای، ځکه مې نو يو وخت په خپل غزل کې دا بيت هم وليکه چې،

د خزان وچې پاڼې هم لوی غنيمت وگڼه

ترابه دې وطن کې تمه د بهار مه کوه

**شبيه: د هېواد حالات کړکېچن دي؛ نو د علمي کادرونو او فرهنگيان وتل به څنگه اغېزه ولري؟**

تراب صاحب: له هېواده د یوه موچي او عادي افغان وتل هم ډېر زیان لري. د هغو خلکو وتل، چې حساب پرې کېدای شي خو بیا ډېره د خپګان او اندېښنې وړ خبره ده. له دې سره هېواد په یوې دښتې بدلېږي او په دښتو کې لېوان بیا پرته له وېرې په خپله خوښه هر څه کولای شي.

**شبېه: تاسو څنګه د هېواد پرېښودو ته اړ شوئ او څومره کړاو سره مخ شوئ؟**

تراب صاحب: له بده مرغه پاکستان ته د تللو زخمونه او کېسې مولا هېرې شوې نه وې، چې درې لسیزې وروسته بیا دې ته اړ شوم، چې د خپلې کورنۍ سره هېواد پرېږدم. له تېرو څلوېښتو کلونو راهیسې د افغانستان د حکومتونو هره دوره هغه د کفن کش کانه ده، چې یو له بله بدتر او تر ښو یې بدې ډېرې دي. په نوره نړۍ کې د حکومت دا دنده وي، چې خپلو خلکو ته د ژوند اسانتیاوې برابروي، له بده مرغه زموږ په هېواد کې چې کوم سیاسي بدلون راغلی، نو لومړی کار یې دا وي، چې پر خپل ولس او خلکو وطن تنور کړي. دا خلک لږ تر لږه دومره شرم او حیا هم نه لري، چې د هېواد پر میلیونونو یتیمانو او کونډو یې زړه درد وکړي. موږ د جمهوریت پر غلو نیوکې کولې، چې له بد نه بدتره شوه او هغه د چا خبره له بارانه لاړو ناوې ته کېناستو. همدا علت دی درې میاشتې کېږي، چې په قانوني توګه جرمني ته راغلی یم. تر اوسه پورې مې دلته کوم فرهنګي فعالیت نه دی پیل کړی او د مسافرۍ د کاغذونو په برخه کې لا منډې ترړې وهو.

**شبېه: د نظام له بدلون وروسته د ډرامې او فلمونو راتلونکی څنګه وینئ؟**

تراب صاحب: په هېواد کې لا پخوا د فلم او ډرامو چارې د حساب وړ نه وې او اوس خو ورسره اوسنیو واکمنو د ابد لپاره خدای پاماني وکړه. له بده مرغه د جمهوریت په دوره کې هم ډېرې فرهنګي چارې هغو خلکو ته سپارل شوې وې، چې پخپله له فرهنګ نه خبر نه وو او یا یې هم په ارزښت نه پوهېدل. په یاده موده کې دې برخې ته هېڅ کار ونه شو او که کومې پروژې به په دې برخو کې ورکول کېدې، نو موخه به یې غلا او د ځانونو مړول وو. د یوه هنري کار لپاره به یې په میلیونونو ډالر واخیستل، خو منځپانګه به یې د خندا او ملنډو وړ وه. په دې برخه کې که به چا ورتیا او مینه لرله، بې مسلکو خلکو به وخت نه ورکاوه.



**شبېه: د نورو هېوادونو په پرتله د سینما په برخې کې موږ ډېر شاته پاتې یو؛ نو ډرامو او فلمونو په برخې کې څه کول پکار دي؟**

تراب صاحب: تر هغو چې په هېواد کې سیاسي بدلون رانه شي، په هېواد کې خو د فلمي صنعت د ودې لپاره یو ګام هم څوک اخیستی نه شي. ډرامه او سیریال د هرې ټولنې د اصلاح او د خلکو د شعور لوړولو تر ټولو اغېزمنه وسیله ده. ډرامه داسې ژانر دی، چې میلیونونو خلکو ته ګټه رسولی شي. ډرامه د یوه ملت د کولتور تر ټولو لویه برخه ده، داسې چې ډېر څه په ځان کې رانغاړي. زما هم ستر ارمان دا دی، چې که امکانات ومومم، په دې برخه کې خپل هېواد ته ستر کارونه وکړم. هڅه به وکړم، چې په راتلونکې کې دلته د سیریالونو په جوړولو پیل وکړم.

**شبېه: کېدوالي طبعاً بدې پایلې لري او بیا په ځانګړې ډول د کادرونو وتل. تاسو پیغام له افغانستان وتلي کادرونو ته څه دی؟**

تراب صاحب: د پښتو متل دی چې، تیږه پر خپل ځای درنه ښکاري. یو انسان که څومره ستر هم وي، خو په پردي هېواد کې یې ارزښت لږ وي، ځان ورته پردی ښکاري، د یوازیتوب له امله په ډیپریشن اخته کېږي. که پردی وطن جنت هم شي، هغه د غني خان وینا رښتیا ده، چې

دا وجود د خاورې دی نه پایي جنتونو کې

دا د خاورې ګل مست وي د خاورې په ګلونو کې

له یوه هېواده د کادرونو وتل دا مانا لري، لکه یو موټر چې په یوې خطرناکې لارې په شپه کې بې څراغه روان وي. له بده مرغه بله لار نه وه، د بې عزتۍ او ظلم له ژونده بیا دا ښه ده، چې انسان په یوې وچې بېدیا کې په یوازیتوب کې ساه ورکړي.

**شیبه: د دعوت رسنیز مرکز، مجلې او ویبپاڼې په هکله مو نظر او د لا پرمختګ لپاره څه کول په کار دي؟**

تراب صاحب: د دعوت له خپروني مننه کوم، چې له ما سره یې مرکه وکړه. دعوت یوازینۍ خپرونه ده، چې د وخت جبر یې مخه ونه شوه نیولای. لسیزې وشوې، چې خپرېږي، په داسې حال کې هغه رسنۍ چې ډېر مادي امکانات یې درلودل، په لږ وخت کې له منځه لاړې، خو دعوت لا ګیا دی، خپلې هلې ځلې کوي. ملي ارزښتونه او ملي ګټې پالي او له دې سنګره په تشو لاسونو دفاع کوي.

کاشکې د دعوت خپرونه په فزیکي توګه په اوسني وخت کې هېوادوالو ته رسېدلای شوای، تر څو د ازادۍ او خپلواکۍ دوښمنانو ته دا جوته شوې وای، چې داسې څه لا شته، چې تاسې ځاري.

**شیبه: له تاسو او وخت ورکولو مو نړۍ مننه جناب تراب صاحب؛ ان شاءالله چې د ژوند په هر ډګر کې کامیاب او ځلاند**



**اوسئ. د کډوالۍ ژوند مو له رنګینو ډک او ښې شېبې ولرئ. د هغه ورځ په هیله چې افغانستان اباد او هر تللی علمي کادر دې بېرته خپل هېواد ته وګرځي.**

**تراب صاحب: خدای مو ژوندی او درنه لره.**

د دې لپاره چې لوستونکي مې په خپله مرکه ډېر ستړي کړي نه وي، نو د سنجیده او غمجن شعر پر ځای به خپل یو څه خوشالوونکی غزل هغوی ته ډالۍ کړم.

*د کلام بیلګه:*

## غزل

**ساقي ما به خراب کړې دا شراب چې لرې ته**

**له پاسه پرې د سرو شونډو کباب چې لرې ته**

**په ټول ایمان یې وایم چې ښېخي پرېښنته ښکارې**

**په دغو اداګانو کې حجاب چې لرې ته**

**تر اوسه لا د قاف ښاپېرۍ ورکې پسې ګرځي**

**د کوم لباس لپاره انتخاب چې لرې ته**

**ثاني یې د ښکلا او طراوت په جهان نشته**

**په دواړو اننګو کې کوم ګلاب چې لرې ته**

**اخر به دې د حسن صفت یوسي تر اسمانه**

**باور وکړه جانانه یو تراب چې لرې ته**



# د افغانستان او سیمې د ترنم د مَلِکې، میرمن قمرګل په یاد

**محمد داؤد مومند**

زموږ د هنر او ادب، او موسیقی د بڼ بلبله او دبزم د انجمن ډیوه آغلې او پیاوړی سندرغاړی بی بی میرمن استاد قمرګل، دد ی نړۍ څخه سترګی پټی کړی.

د نړۍ پرمخ پادشاهانو او مَلِکو، پرولسونو، حکومتونه کړی دی. د مَلِکو په سر به مرصع تاجونه ځلیدل او په غاړو به یی د الماس، زمرد، یاقوت، لعل، سفایر، مرغرلو او د نړۍ د قیمتی او کم یابو منرالونو لړی، لړۍ هارونه ځریدل.

خو دا مَلِکی ولاړی، تاجونه او هارونه یی نورو ته په میراث ورسیدل. هماغه پرګنو چی ددی مَلِکو د شان او شوکت د لیدو او یا هم د ددوی د فاخره تاجونو، هارونو او جامو د لیدو دپاره، په بی صبری سره انتظار ویست، نور یی نوم هم نه یادوی. ځکه دی مَلِکو، شان او شوکت ظاهری وه او د خلکو په زړونو یی حکومت نه کاوه.

ولی برعکس وینو چی د کامی د خوار کلی، خوارانګړ، خواری کورنۍ، خواری نجلۍ یعنی قمرګلی، یاد، مینه او قدردانی د ملیونونو انسانانو په زړنو کی ژوندی پاتی ده او د هغی په فرقت کی نظمونه لیکل کیږی، ښکلی خاطری راژوندۍ کیږی او دمینه والو او د هنر د مینانو د سترګو نه اوښکی توئیږی.

د ترنم دغی مَلِکی، یعنی بی بی استاد قمرګولی د ولس د پرګنو په زړونو حکومت کاوه. د نړۍ د مخ مَلِکو به لعلونه غوندېدل خو د میرمن قمر ګل په څیر هنر پالونکو د خلکو د مینی او محبت او اخلاص ګلونه راټولول. د قمرګلی انسانی پیغام به ذهنونو ته امیدونه او زړونو ته خوشحالی وربخله.

ښاغلی پوهندی آصف بهاند (د افغانستان د موسیقی مَلِکی، میرمن قمرګل ابدی بیلتون ) د عنوان لاندی لیکی: «هیڅ مرګ نشی کولای داسی طلایی غږ ، نسکور کړی. زما لپاره قمر ګله هغه قهرمانه ده چی ټول عمر یی له خپلی ښکلی

طلایي  حنجرې نه په دودیزو قیوداتو کې د بندي افغان میرمنو مظلومیت غږ وطنوالو او نړیوالو ته ورساوه.

بهاند صاحب لیکي چې میرمن قمرګل د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او سردار صاحب داوود خان له حضوره د سرو زرو مدالونه تر لاسه کړي وه. همدا راز د حامد کرزي، ببرک او نجیب لخوا يې هم مدالونه او خلعتونه نصیب شوي وه.»

خو ددې قلم په اند، دا چې د پاکستان صدراعظم او د معاصر تاریخ یو مهم سیاسي شخصیت یعنې ذوالفقارعلي بوتو هم استاد قمر ګلې ته د ( طلايي حنجرې) لرونکې سندر غاړې، لقب ډالۍ کړی وه، ماته خورا په زړه پورې او د توجه وړ بریښي، ځکه نوموړی معروف شخصیت په پښتو ژبه نه پوهیده.

واقعیت دادی چې که په اردو ژبه کې نورجهان د (ترنم د مَلِکې) خطاب تر لاسه کړی وه، زموږ د ولس د موسیقي په نړۍ کې استاد قمرګله د (ترنم مَلِکه) وه.

داچې ولې د اطلاعات او کلتور وزارت میرمن قمرګلې ته د استادۍ خطاب ورنکړ، لویه بې عدالتي تر سترګو کیږي.

میرمن مهوش، پرمیرمن قمر ګل څه امتیاز درلود چې هغې ته د استادۍ خطاب تر لاسه شو ولې  میرمن قمر ګل دد ی استحقاق نه محرومه پاتې شوه؟

ګوندې کوم نژادي یا ژبني تعصب به کوم رول لوبولی وي.

تقریبا څلویښت کاله دمخه یوه (چلوس) کابلۍ ماته داسې وویل:(ولا همی اولمیره، مردم کابل چندان خوش نداشت، خو حالا که همین ترانه «دا مو د بابا وطن» را میشنوم، گریه میکنم.)

ما په زړه کې وویل چې ای د ټولوکابلیانو وکیله، په افغانستان کې هیڅ دری ژبې سندرغاړې، د استاد اولمیر د طلایي آواز، انډول، مثل او مانند ندرلود، او ته وایې چې کابلیانو استاد اولمیر نه خوښاوه، دا غیر د تعصب نه بل کوم دلیل نشي لرلای!!!!

دلته د یادونې وړه ده، پرهغه مهال چې استاد جهاني د اطلاعاتو او کلتور وزیر وه، ما د افغان جرمن انلاین په ویب سایت کې، جهاني نه هیله وکړه چې میرمن قمر ګل ته د استادۍ د خطاب اعزاز ورپه برخه شي. په خواشینۍ سره، یا جهاني زما پیغام ترلاسه نکړ او یا هم، د دومره صلاحیت نه هم بې برخې وه.

خو دا مهمه نده چې استاد قمرګلې ته دا خطاب په رسمي توګه په برخو شو یا نه، مهمه داده چې استاد قمرګلې په خپل هنري لیاقت اواهلیت او تخصص سره دا مقام تر لاسه کړی دی.

آفتاب آمد دلیل آفتاب

پاتې دې نه وي چې جهاني په خپله هم په شعر او ادب کې د استادۍ مقام ته رسیدلی دی او منکر یې اعتراض کولای نشي. او هم زما په اند جهاني نه ځانله په شعراو ادب، بلکه په څو بعدي تحقیقي مهارت کې هم تخصص او د استادۍ مقام ته رسیدلی دی.

ماته د ژوند په خاطراتو کې دا سعادت هم په برخه شو چې زما د واده په مراسمو کې د باغ بالا په رستوران کې، چې دا ماڼۍ د امیرعبدالرحمن خان د دربار ځای وه، استاد قمر ګلې، د استاد زاخیل په ملګرتوب، په خپل ملکوتي آواز زموږ محفل ته تاریخي خوند او رنګ ورکړ.

دلته د محترم، پیاوړي او غښتلي لیکوال پوهاند صاحب دودیال په تأیید، په زغرده ویلای شم چې کوم هنري لیاقت او خلاقیت چې استاد محمد دین زاخیل د هارمونیې په غږولو کې درلود، استاد سرآهنګ هم د داسې خلاقیت نه بې برخې وه نور خو لا څه کوی.

استاد قمرګل په فزیکي لحاظ زموږ څخه جلا شوه، ولې د هغې هنري خلاقیت او بې رقیبه ښکلی آواز به، زموږ د موسیقي په تاریخ کې د تل دپاره خپل ځانګړی مقام اوځای ولري.

روح دې یې تل آزاد او ښاد وي



# قمرګل د خاطرو سندرغاړې

سرلوڅ مرادزی

زه لا ښوونځي ته نه وم تللې. د لمریز ۱۳۳۰ لسیزې د پیل کلونه ول. کلي کې د دیوال شریک ګاونډي چې زموږ خپلوان هم کېده، واده وو. زه د څو نورو همزولو سره زموږ د کور د یوې کوټې پر بام ناست وم او لاندې مو د ګاونډي د کور په حویلۍ کې د واده د مراسمو ننداره کوله. نرۍ باران ورېده چې ډېر مزاحمت یې نه کاوه. د ګاونډي د حویلۍ په یوه سرکې ښایسته لویه چوتره وه چې د موسیقۍ ارکسترا پرې ولاړه وه. هنرمندانو سره ارمونیه، دوه سره ډول، طبله او سورنی وو. سندرغاړې چې نوم یې راڅخه هېر دی، دا سندره ویله:

**سالوګی مې لمدوینه، نازکو**
**په څنګ جینکو، میده باران دی**

په حویلۍ کې سندرې ته بې توپېره نارینه، ښځې، هلکان او نجونې یو ځای ناڅي او یوه مسته او توده موسیقي ده چې موږ ماشومان ورته پاس د بام پر سر چکې کوو. زموږ د کلي ملا امام هم چې موږ ورته ملاکاکا ویل او زموږ تره کېده، د خپل کور د بام پر سر د موسیقۍ او نڅا ننداره کوله.

زه چې کله په ۱۳۶۲ کال د یو تحصیلي بورس (scholarship) له لارې اروپا ته راغلم او دلته مې د لومړي ځل لپاره ډېسکو ولېده، ما ته ۳۰ کلونه مخکې د خپل کلي ډېسکو رایاده شوه.

شاوخوا دوه لسېزې وروسته مې د میرمن قمرګل په خواږه اواز کې د خپل کلي د ډېسکو هغه پخوانۍ سندره بیا واورېده او زړه خاطره یې تازه کړه.

د قمرګل ډېرې سندرې سرې ته د ژوند د یوې برخې خاطره وریادوي او په همدې لحاظ، قمرګل د خاطرو سندغاړې بولم.

اروا یې ښاده او یاد یې تلپاتې!

د ۲۰۲۲ کال د نومبر ۱۱ مه

سرلوڅ مرادزی






گرگ ملامت‌کنان برای سگ گفت: انسان ها را چگونه یافتی؟
سگ: انسان ها هرگاه کسی را تحقیر کنند برایش سگ می گویند.
گرگ: آیا فرزندان آن ها را خوردی؟
سگ : نخیر
گرگ: آیا به آنها خیانت کردی؟
سگ: نخیر
گرگ: آیا از آن ها پاسبانی کردی؟
سگ: بلی
گرگ: انسان ها شخص شجاع را چه می نامند؟
سگ: گرگ می نامند
گرگ: مگر از اول برایت نگفتم که مانند ما گرگ باش!!؟
من کودکان شان را دریدم و چارپایان شان را بار ها خوردم... آن ها قهرمانان شان را گرگ می نامند... باید بدانی انسان ها قاتلان خود را احترام میکنند اما خادمان و وفاداران خود را توهین می کنند!

# د انترنیټ مضر او خطرناک عوارض!



عبدالرشید رشاد

انترنیټ د دی ترڅنگ چې ډېر معلومات ورڅخه ترلاسه کوو او زده کړی ورڅخه کوو، ځینی زیانونه هم لری؛ په تېره بیا له انترنیټ څخه زیات کار اخیستل یا کمپیوټر ته زیاته ناسته زمور بدن ته ښه نه ده.

څه وخت چې مور انترنیټ ته ناست یو نو نه یوازې گوتی او سترگې مو فعالیت کوی بلکی ټول بدن مو په فعالیت باندی اخته وی، مگر له بده مرغه چې زمور دغه فعالیتونه په ورزش کی نه حسابېږی.

هغه کسان چې زیات انترنیټ کاروی په یو شمیر جسمی او روانی مشکلاتو باندی اخته کېږی چې ځینی ناروغۍ یې په لاندی ډول دی:

**۱ ـ د سترگو ستړیا:**

که له سترگو څخه زیاته استفاده وکړو نو ستړي کېږو، دا د تعجب خبره نه ده چې کله د انترنیټ د کارولو په مهال سکرین یا صفحې ته زیات گورو نو سترگې مو سوځي

د مایو کلینیک د ډاکترانو په باور دا کوم خطرناک مشکل نه دی او له څه اندازه استراحت کولو وروسته خپله سمېږي.

**۲ ـ د خپلې سلامتۍ په اړه پریشاني:**

ځینی کسان انترنیټ د کارولو پر مهال په بدن کی د درد احساس کوی. اروا پوهان دی ډول حس ته د درد ناڅاپه پېښېدل وایی.

له سلامتۍ څخه وېره او پریشانی دا ده چې فرد داسی حس کوی چې یو سخت روغتیایی مشکل لری. او دغه ډول پرېشانی د ډاکترانو د طبی معاینو په نتیجه کی له منځه نه ځی.په انترنیټ کی د ناسمو معلوماتو د حجم د زیاتوالی له امله ځینو کسانو ته روانی مشکلات پیدا کېږی.

**۳ـ سردردي**

د انترنېټ له کبله ۳ ډوله سر دردي منځته کېږي:

۱/ د خلق تنگۍ سردردي:

دا ډول سر دردي د فشار په نتیجه کي منځته نه راځي اکثره وخت د غاړي د عضلو د کشېدلو او یا هم د سترگو د دردونو په نتیجه کي منځته راځي. د مایو کلینیک د ډاکترانو په باور دا ډول سر دردی له ۳۰ دقیقو څخه تر یوي هفتي پوري دوام مومي.

۲/ د ورځنیو کارونو عاجز کوونکي سر دردونه:

د ډاکترانو په باور د دي ډول سر درد لرونکو کسانو د هغو ورځو شمیر چي دوی پکي سر درد لري د هغو ورځو په نسبت چي دوی پکي سر درد نلري زیات دی. دا ډول سر دردي د سر درد له بدترینو دردونو څخه شمېرل کېږي.

۳/ ستریس او فشارډوله سردردي:

د سردرد پیدا کېدل له فشارسره زیاته رابطه نلري. فشار خپله په انترنېټ کي د معلوماتو د رااخیستلو د انتظار په نتیجه کي منځته راځي.

د ځینو انټرنیټي صفحو سستوالی، د کمپیوټرنو خرابوالی او نور د دي ډول سر درد لاملونه شمېرل کېږي.

**۴-د شا دردونه:**

کمپیوټر ته ناسم کېناستل په ځانگړي ډول هغه مهال چي له چاغوالي، د ورزش کموالي، او د سگرېټ څکولو سره مل وي نو د شا دردونه منځته راوړي

د دي ډول درد سرچینه معمولاً عضلات، اعصاب، هډوکي او د ملا د تیر بندونه وي. د زیات وخت لپاره انترنېټ ته ناسم کېناستل دا ډول دردرونه زیاتوي.

**۵- فیسبوکي خپگان:**

د هغو خبرونو په اساس چي په دیلي ورځپاڼه کي چاپ شوي دي فېسبوک او ځیني نوري ټولنیزي شبکو کم عمره نجوني په پرېشانۍ او خپگان اخته کوي.

د دي مقالي په اساس د پېغلوټو په منځکي تکراري بحثونه په ځانگړي ډول د میني د ناکامۍ په باره کي د هغوی حال نور هم بدوي او هغوی ته منفي هیجانونه ورکوي.

**٦- په انترنېټ باندي معتاد کېدل:**

دا یو ډېر جدي او ځیني وخت وژونکی مشکل دی دا ډول معتاد کېدل کېدای شي له زیات ټاپینگ کولو، او څو کسیزو لوبو څخه پیدا شي.

دا دومره جدي مشکل دی چې اوس د دې لپاره روغتیایي مرکزونه جوړ شوي دي. په انترنېټ باندې د معتاد کېدلو مسئله په جنوبي کوریا کې په وروستیو کې د یوې ملي مسئلې په توگه مطرح شوې ده.

# موسم (فصل)

ژباړه : محمدالله آرين

يو بوډا ځلور زامن لرل،غوښتل يې زامنو ته د ژوند خواږه او ترخه ور وښيي، د ځلورو زامنو پلار په وقفه اي بڼه ځلور زامن له کوره لرې د ګلاب يو بوټي پسې وليږل:

اول زوى يې په ژمي کې وليږه چې وګوري د ګلاب بوټی څنګه دی،دوهم يې په پسرلي کې وليږه،دريم يې په دوبي کې او څلورم هم په مني کې. کله چې د څلورو وارو نوبت ختم شو بوډا خپل زامن را غوښتل چې ووايي د ګلاب بوټی يا ونه څنګه وه؟

مشر زوی يې وويل: چندان بوټی نه وو،له اغزيو ډکه وه،ښاخونو يې ډېره سيمه نيولې وه او د سختو سړو له امله فکر نکوم که پسرلي ته را شنه هم شي.

دوهم وويل:نه دروغ وايي...د ګلاب بوټی تک شين وو زرګونو غوټی يې کړې وې چې د هوا په ګرميدو به را وغوړيږي.

دريم وويل: نه داسې نه وه،د ګلاب بوټي زرګونو ښکلي ګلان نيولي وو ټوله سيمه پرې ښکلې ښکاريده او بوی يې تر لرې محسوس کيده، که رښتيا ووايم ما کله هم دومره ښکلې منظره نه وه ليدلې.

څلورم زوی وويل:دغسې هم نه وه بوټی د ډېرو کلونو وو زرګونو ګلان يې کړي وو او فکر کوم بل کال ته به تر دې هم ډېر ګلان ونيسي.......

بوډا وخندل او ويې ويل: تاسو ټول رښتيا وايی د يوه خبره هم غلطه نه ده، خو له تاسو څخه هر يوه ددې ونې يا ستر بوټي د ژوند يوازې يو فصل ليدلی دی،تاسو نشئ کولای د يوې ونې يا انسان په اړه په يو فصل يا موسم کې قضاوت وکړئ.

که د ژوند ژمي ته تسليم شوی د پسرلي د غوړيدا، دوبي د ښکلا او مني د حاصلاتو اميد به له لاسه ورکړی.....

**يادونه:**

اجازه مه ورکوئ د يو موسم يا وخت دردونه، ستونزې، مايوسی او حقارتونه مو د نور عمر يا فصل ښکلاوې پيکه کړي.

ژوند ته د سختيو له هينداري مه ګورئ.

د ژوند ټول سخت موسمونه تيريدونکي دي.

سختې وزغمه ښې شيبې حتمن راتلونکې دي.



# منفي چار

## (پولیسي کیسه)



نعمان دوست

له څوکۍ پورته شو. دواړه لاسونه یې پر ملا کېښودل. دوه – درې ځلې په خپله کاري خونه کې تاو را تاو شو او بیرته خپلې څوکۍ ته راغی. ورو – ورو یې پر قلم مېز ټکاوه. کله به خرخکي څوکۍ کې شاته لاړ او کله به بیرته مېز ته نږدې شو. غنګ شو، ور پرانیستل شو،

د عسکري بوټونو ترق شو او بیا ځوان پولیس وویل: آمر صیب چاې دې سوړ شو، تازه یې کړم؟

آمر، د لاس په اشاره، د نه او له دفتره د وتلو اشاره وکړه او ګرپ شو، ور بند شو.

یو ځل بیا یې د مېز له سره د عریضې پاڼه راواخیسته، د قلم څوکه یې پر لیکل شوې نېټې کېښوده:

پېښه د تیرې پنجشنبې په ورځ شوې. نن دوشنبه ده. څلور ورځې شوې؛ خو هیڅ درک نه دی معلوم. هره شپه له ټولې مربوطه ساحې د خیریت راپور ترلاسه کوم. له ټول ساحوي پرسونل سره تماس کې یم؛ خو بیا هم... مېز ته یې ډب ورکړ: اخر دا څنګه امکان لري؟

بیا پورته شو. کړکۍ یې پرانیسته. بیرون ګلان په یوه او بله ډډه کېدل. باد دفتر ته راننوت او د میز له سره یې کاغذ په هوا کړ.

ژر یې بیرته بنده کړه او له ځان سره یې ورو وویل: اوس عریضه نادرکه نشي.

د مېز پر سر کوچنۍ بټن یې کېګاږله او له دې سره سم، ور پرانیستل شو. د بوټانو ترق شو، ځوان سلامکۍ ووهله او بیا یې وویل: آمر کوئ، صیب!

امر، نږدې راوغوښت: د قلم څوکه یې په عریضه کې په لیکل شوې، شمیرې کېښوده: همدې نمبر ته زنګ وواهه او سړی را وغواړه!

عسکر، شمیره ډایل کړه. زنګ ورغی:

سلام،

کاکا انور یې؟

هغه منفي چار (...۹۴۶) پلیټ والا...؟

ښه، ښه، د ماسپښین تر دوه بجو حوزې ته راشه. بیا یې تکراروم، همدا نن د ماسپښین دوه بجې.

د حوزې امر، سپین کاغذي دسمال په مخ راکش کړ. شاته څوکۍ کې یې تکیه وکړه:

څنګه امکان لري؟

په ساحه کې هیڅ د قتل او اختطاف نښې او شواهد نشته. ګزمې فعالې دي. چیک پواینټونه فعال دي، خو په دې شپږو میاشتو کې دا څلورمه قضیه شوه. دا باید....

ورپرانیستل شو: عسکر له سلامي وروسته وویل: صیب، عارض راغلی، اجازه ورکړم؟

امر، ځان راټول کړ او د (هو) اشاره یې وکړه.

سړی، په چټکو ګامونو د مېز مخې ته ودریده:

زوی مې پیدا شو، صیب؟ کوم درک یې معلوم شو؟ چیرته دی؟

په خدای ټول کور ناقراره دی. واړه بچي یې هیڅ خوب نکوي....

سړي، چې د آمر خاموشي ولیده،غلی شو. شاته لاړ او دیواله ته تکیه ودرید.

آمر، له څوکۍ پورته شو. عارض یې له لاسه ونیوه، کوچ کې ورسره کیناست:

حوصله، حوصله! ستا زوی به خامخا پیدا کیږي او دا کار هله امکان لري چې ته لږ تکړه شې او موږ سره دقیق معلومات شریک کړې. ښه:

زوی دې کله، له کوره ووت؟

- مازیګر اذانونه کېدل
- له وتلو مخکې یې څه ویلي و، یعنې د خپل تګ په اړه؟
- نه
- هره ورځ مازیګر وتلو؟
- نه، خو چې کله یې دا نوی موټر اخیستی و، نو د هرې پنجشنبې مازیګر وتلو.
- آمر، لږ نور هم ور وړاندې شو: د څه لپاره؟ چیرته تللو؟
- موټر یې وینځه او د جمعې به یا خپلوانو کره تللو او یا به یې ماشومان چکر ته بیول.
- آمر، ځای کې رانیغ شو: کومه موټر شویې کې؟
- نه یم خبر
- څومره وخت بعد بیرته کورته راتللو؟
- دقیق نه یم خبر، خو یوه ورځ مې پام شو چې آن د ټایرونو شاوخوا ځایونه یې لا وچ شوي نه و.

آمر، سر وخوځاوه او سړی یې رخصت کړ.

د حوزې امر، هغه نخچه راواخیسته چې د مربوطه سیمې مهم موقعیتونه پکې ثبت و.

په ځیر ځیر یې وکتله: له ټولو نږدې موټر شویې، همدا د عمومي سړک ښې لاس ته ده. د عارض له کوره، ایله یو کیلومتر واټن لري. بیروبار وي، نو تر کوره تګ شاوخوا شل دقیقې اخلي.

آمر، شخصي کالیو کې د شخصي موټر مخکې سیټ کې کیناست او جنايي کارمند یې موټر روان کړ.

د دریډو یې ورته وویل. له موټره کوز شو. د موټر شویې، شاته لاړ. یو اوږد، پلن او لوړ اتاق د موټر وینځلو له دفتر سره جوخت نښتی و. هیڅ کړکۍ یې نه درلوده، د هوا کش لپاره ځای پکې هم نه ښکاریده. بیرون خواته یې توره وسپنیزه دروازه وه. دا له بل ځایه نه ښکاریده. شاید د دفتر لخوا ورته مخفي دروازه شوې وي.

آمر، بیرته موټر ته وخوت او روان شو.

ټوله شپه همدې چورتونو کې غرق و: څلور ورځې شوې، د ځوان درک نه دی معلوم. دا موټر شویې، دا اوږد او ګودام غوندې اتاق... نفس یې ژر ژر اخیست. خریده: کیدای شي ټول فساد همدلته وي. یو دم یې میرمنې ور غږ کړ:

و سړیه د څه شي فساد!؟ دا ولې له درې ورځو راهیسې داسې نارامه یې؟

سړي ژر اوبه وغوښتې: هیڅ خبره نشته، هسې خوب مې لیده او بیرته کمپله کې تاو شو.

سهار یوه شیبه دفتر کې کیناست. یوه پیاله چای یې وڅښه او بیا یې عسکر ته وویل چې حوزه کې ولاړ شخصي موټر چالان کړي. تشناب ته ننوت. خپل یونیفرم یې بدل کړ. ملکي لباس یې واغوست او جلب ته کیناست. عسکر حیران ول، خو چاته یې د پوښتنې اجازه ورنکړه.

مخامخ په موټر شویې ور ننوت. له موټره ښکته شو. کارګرو ته یې وویل: ښه سم یې ووینځئ.

برنډې ته وخوت. پر څوکۍ کیناست. مخامخ د دفتر دروازه پرانیستې وه. هلته د میز شاته یو څوک، چې مخې ته یې له نیمه سوزیدلو سګرټو ډکه سګرټ داني ایښې وه، ناست و.

آمر هم ور ننوت او بیا یې ویل: وروره، دې کاریګرو ته دې وواېه چې موټر مې سم ووینځي!

سړي، کړکۍ پرانیسته. په موټر یې نظر ولګیده او بیا یې په خندا وویل: څه دو هزار(*) دې راوستی چې داسې فرمایشونه ورکوې!

آمر هم موسک شو: مړی ژوندی پکې کیږي، ماته همدا دو هزار دی!

- تاته به دو هزار وي، خو... ژر یې خبره پرېښوده.
  کړکۍ ته نږدې شو: هلکانو، نوی مشتري دی، موټر یې ښه ور پاک کړئ.

آمر، ټول دفتر غلی غلی له نظره تیراوه. د دفتر په کونج کې الماری وه. دفتر والا، ور پورته شو، پرده یې لرې کړه. دی هم ورځیر شو. یو کونج کې د درې څلورو نمبر پلیټونو کونجونه ښکاره شول ،چې توره ټوټه کې تاو ول. یو ټکان یې وخوړ. بیرته غلی شو. دیوال ټول داسې و، لکه د لرګي له یوې تختې چې جوړ وي. په ځیر ځیر یې ورکتل. و دریده، یو ځای ورته درز په نظر ورغی. دې وخت کې کارګرو غږ کړ:

د موټر کار خلاص شو!

امر، د دفتر له مسوول سره راووت. موټر یې لاندې باندې وکوت: ستاسو کار مې خوښ شو. د ورور دو هزار مې هم همدلته وینځلو ته راولم. ډیر نوی موټر دی.

دفتر والا موسک شو: موږ دې خدمت کې یوو. دلته چې یو ځل ځوک راغلي، بیا بل ځای ته نه دي تللي. راوله، راوله!

امر، هم موټر چلوه او هم په فکر کې غرق و: موټر شویې او اضافه نمبر پلیټونه... دا دیواله کې مخفي دروازه...

خپلې حوزې ته ننوت. کالي یې بدل کړل. تازه چای یې راوغوښت.

په دواړو لاسونو کې یې پیاله نیولې وه او بیا چورت کې لاړ:

په شپږو میاشتو کې دا ځلورمه قضیه ده. هیڅ درک نه معلومیږي. دې موټر شویې کې حتما څه فساد شته. دا نمبر پلیټونه، دا مخفي دروازه....

نن بیا همدې چورتونو کې غرق و. د میز پر سر د زنګ بټن یې کیکاږله. عسکر د احترام مراسم په ځای کړل.

آمر: هغه سپینه کرولا چالان کړه.

آمر، موټر ته وخوت. عسکرو غوښتل څه ووایي، خو ده اجازه ورنکړه او بیا یې ویل: که له یوه ساعت زیات وخت تیر شو، هغه ... موټر شویې ته ځانونه را ورسوئ.

په موټر شویې ننوت. یو کاریګر، موټر ته پایپ نیولی و او بل پرې صافي واهه. امر، برنډې ته وخوت. د دفتر مسوول راووت ، ستړې مشي یې وکړل او دا ځل چې یې د سراچې په ځای ورسره کرولا ولیده، نو په موسکا یې وویل: هغه دوهزار دې همدا دی؟

آمر وخندل: نه، هغې کې مې ورور بل ولایت ته تللی. سبا بل سبا راځي. هغه به هم درولم. دوه نورو ګاونډیانو ته مې هم ستاسې صفت کړی . یو اس کلاس ټوډې لري او بل فورنر، هغه به هم در ځي. سړی موسک شو. کارګرو ته یې غږ کړ:

د دې ورور، موټر کې سپرې هم وکړئ، سړی شوقي دی.

دواړه دفتر ته ننوتل. آمر، پر دیواله لاس واهه:

ډیر صاف کار یې کړی. خوښ مې شو. هیڅ درز پکې نه ښکاري، لکه یوه تخته. لاس یې همداسې راکش کړ. د درز په سر یې ګوته وهله، ستر ګې یې ور نږدې کړې. د دفتر والا ور پام شو:

کینه زوروره! څه بنګله جوړوې، چای دې واخله.

خو امر پر هماغه درز ګوته ایښې وه.

دفتر والا غاړه صافه کړه:

دلته، دلته.. دروازه ده. چې کله تا غوندې نازولې خلک راشي او کار ډیر وي، نو همدلته استراحت کوي. اوس بنده ده. کاریګر پکې ویده دي. چې دو هزار دې راوست، ته به هم پکې ویده شې... ژر یې خبره په خندا تیره کړه.

آمر، له دیواله لرې شو: ښه دې وویل. او بیا مخ په دروازه لاړ. شاته یې وکتل. دفتر والا، لکه یو دم چې خولې شوی وي، په کاغذي دسمال مخ وچوه.

آمر، خپل کاري دفتر ته ننوت. حمام یې وکړ. خپل یونیفرم یې واغوست او بیا یې عسکر ته ویل: جنابې امر او د استخباراتو کارکوونکي زمری او باز را وغواړه. نور هیچاته د راتګ اجازه ورنکړې.

جلسه شروع شوه:

د حوزې آمر: امر صیب جنابې، څه دې وکړل؟ کوم پیشرفت؟

- سمونوال وال صیب، بیخي مې خوب ورک شوی. هره ورځ له استخباراتي مسوولینو سره جلسې لرم. هر مشکوک ځای پلټو؛ خو هیڅ کومه نښه او نښانه نشته.
- سمونوال: خو ما ځای پیدا کړ!

ناست کسان ټول په خپلو ځایونو کې را نیغ شول.

جنابې امر: دا څه وایې سمونوال صیب، یقیني یې؟

- یقین ته نږدې یم. زه د عمومي سړک کیڼ اړخ ته په موټر شویې شکمن یم.
- موټر شویې؟
- هو. غلی شو. چورت کې لاړ: مخفي دروازه، نمبر پلیټونه، د دفتر د مسوول وارخطایي...

ما پلان جوړ کړی. چمتو یئ؟

ټولو په یو غږ: چمتو یوو صیب!

آمر، خط کش راواخیست. په نخچه یې کیښود، ټولو سرونه را نږدې کړل: دا موټر شویې ده. شاته یې داسې ګودام غوندې اتاق دی چې له بیرونه، نه ښکاري. دفتر کې مخفي دروازه ده. دا دروازه همدې ګودام ته خلاصیږي. ټول فساد راته همدې ګودام کې ښکاري.

جنابې امر: سمونوال صیب، پلان مو څه دی؟

- پلان دا دی چې دوه موټرو کې به ځو. ماته سور دو هزار موټر چمتو کړئ. دوه ډکې تومانچې هم راوړئ. امر صیب جنابې: ته له پټو لاندې قاتکې کلاشنکوف راواخله، شاژور دې باید ډک وي. کمیس لاندې چانته وتړه.

باز او زمریه: تاسو، د موټر شویې شاته راتاو شئ. دروازې ته مخامخ کمین ونیسئ. د کلاشنکوفونه قیدونه مو ښکته وساتئ. هر څوک چې له دروازې و وتلو، فایر؛ خو کوښښ وکړئ چې مړه نشي!

امر صیب جنابي! زه موټر، موټر شويي ته ورم. تاسې لږ لرې پياده شئ. ورو – ورو، موټر شويي ته ځان راورسوئ. همدې مخې ته اوسئ خو چې څوک شکمن نشي. زه دفتر ته ننوځم که د ډزو غږ دې واورېد، په دفتر رامنډه کړه.

ټکنده غرمه ده. ماموريت پيل شو. آمر، د واسکټ دواړه جيبونو کې ډکې تومانچې ايښې دي او په پټو کې تاو دی. موټر شويي ته ننوت. له موټره ښکته شو. د دفتر والا، له کړکۍ ور پام شو. راووت: وايم، بيشکه. واقعا قيمتي موټر دی. هلکانو، هغه بل پايپ وتړئ. که نور خلک راغلل، ځواب يې کړئ. د د دې ورور موټر شوقي دی، ښه سم يې پاک کړئ!

دواړه دفتر ته ننول. دفتر والا څو ځلې په يوه پلمه کړکۍ ته نږدې شو. ټول ځای يې وڅاره، بل هيڅ موټر نه و.

يوه کارګر، د دفتر د مسوول اشارې ته پام شو. راغی: صيب، پايپ کې خرپ اوبه راځئ. شايد شګې هم ورسره وي. د ماما شوقي موټر دی. واټر پمپ به يو ساعت ګل کړو، چې ځاه کې اوبه پيدا شي، بيا به يې ووينځو.

دفتر والا، د تاييد سر وخوځاوه او بيا يې آمر ته ويل: مشره، زموږ کاريګر ډېر مخلص دي، له نوو موټرو سره ښه احتياط کوي. ميز لاندې يې لاس تير کړ. لکه کومه بټنه يې چې يې کيکاږلې وي. بيا يې ويل: آ بله ورځ دې، د دې کوټې پوښتنه کوله. اوس ښه وخت دی. زه به د دفتر دروازه درپسې له بيرون بنده کړم، که کومه سترګه خوب کوي.

د آمر يو دم ستونی وچ شو. بيرته يې ځان کنټرول کړ. غاړه يې صافه کړه: ښه خبره ده. ودريده، دواړه لاسونه يې پټو لاندې د واسکټ جيبونو ته تير کړل. تومانچې يې موټې کې ونيولې.

دفتر واله يو ځل بيا له کړکۍ بيرون ځای وڅاره او بيا يې ويل: مهرباني.

دفتر والا، دروازه وټکوله. لږ وروسته شاته شو. له کړکۍ بيرون ځای يې له نظره تير کړ. دی يې مخکې کړ، چې دروازې ته نږدې شو. د شا له خوا يې په لغته وواهه. په دروازې ورغی دروازه پرانستل شو. يو دم د تومانچې دوه ډزې وشوې.

جنايي امر په دفتر رامنډه کړه، کلاشنکوف يې دفتروالا ته ونيوه او له اوګې يې مرمۍ ووتله. ډب شو، له لاسه يې وسپنه ولويده. ګودام ته ننوت: د دروازې دواړو خواو ته دوه تازه مړي پراته ول. د يوه لاس کې بيهوښه کووونکې دسمال و او له بل سره چاړه.

درې نورو کسانو لاسونو جيګ نيولي و. د اوږدې کوټې منځ کې حلقه شوی پړی ځوړند و. يوه خوا د موټرو چوکاټونه پراته ول. بله خوا سپړل شوې پرزې. ور يې پرانست. باز او زمری هم راننوتل. د دريواړو لاسونه يې ولچک کړل. مخابرې چالان شوې. د پوليسو د موټرو غږونه شول. آمر، د دفتر د الماری خلاصه کړه. نمبر پليټونه يې راواخيستل. يو يې مخې ته ونيوه:

منفي چار (...۹۴٦) د دفتر د مسوول سر پر اوږه ځوړند و. داسې يې سترګې پرانيستې وې، لکه د آمر په لاس کې نمبر پليټ ته چې ګوري.

۱۴۰۱/ ۲۵/ قوس


# دعوت رسنيز مرکز

دعوت خپرونه چې دا يې د ديرشمې کلېزې په وياړ ځانګړې ګڼه ده د نن څخه پوره ديرش کاله وړاندې يې لومړی ګڼه د ناروې هېواد د هارايد په سيمه کې له چاپه راووته. چې د وخت په تيريدو سره دعوت خپرونه په يو رسنيز مرکز بدل، چې د چاپي خپرونې ترڅنګ يې څو ويبپاڼو په درلودلو سره لا هم د يو انټرنتي پښتو ټلويزيون له پاره په کوښښ کې يو.

دعوت ميډيا پرته له کوم مادي امتيازه، يوازې د وجدان د مسئوليت له مخې د خپل هېوادولس اوژبې له پاره کار کوي.

که غواړې زموږ سره په داوطلبانه ډول کار وکړی نو د اړيکې په نيولو سره د خير په دې کار کې شريک شئ. که وړتيا او علاقه ولرئ له هر ځايه کولی شئ د کمپيوټر او انټرنت ته د لاسرسي په صورت کې همکاري وکړی. نو په ليکلې توګه زموږ سره په لاندينې بريښناليک اړيکه ونيسی

dawatmedia@gmail.com
Dawat Media Center
V/ M. Tariq Bazger
Voldgata 37A
2000 Lillestrøm, Norway

د انټرنت په نړيوال جال د دعوت ميډيا ويبپاڼه:
www.dawatmedia24.com
د دعوت د بريښنا ليکونو پتې:
dawatmedia@gmail.com
dawatafghanmedia@gmail.com
afghansabawoon.com@yahoo.com

د خبرو پر ځای بايد عمل وکړو د هرې لارې چې کولی شی د دعوت ميډيا ملاتړ وکړئ

نو! تر خپله وسه د دعوت ميډيا مرسته وکړی او د دعوت ميډيا د ټولو فعاليتونو مخته وړل زموږ ګډ کار او مسئوليت دی

# د لیکنښو اړتیا او مناسب ځای کې کارول



**راټولونه: خالد سمیر**

انسانان د پوهاوي او خپل پیغام د رسولو لپاره ژبه کاروي، خو بله یې تحریري (لیکنۍ) ژبه ده چې په وسیله یې بل ته د خپل فکر، پیغام، احساساتو او گروهو د لېږد هڅه کوو.

لیکنۍ یا تحریري ژبه د خبرو پرتله سخته او پېچلې ده او د مقابل لوري ښه ترا پوهاوي لپاره اړینه ده چې لیکنښې په مناسبو ځایونو کې وکاروو چې لوستونکی له متن څخه هغسې مانا واخلي، لکه متن یا لیک چې ورته غړېږي.

**لیکنښې څه ته وايي؟**

لیکنښې هغه بې غږه منل شوی سمبولیک سېستم دی چې په لیک او لوست کې اسانتیا راولي.

که لیکنښې و نه کاروو او دغه چاره یوازې د ادیبانو او ژورنالېستانو کار وبولو، نو بیا به د ټولنې نورو باسوادو افرادو باندې د بې سوادو گومان وشي.

په لیکنو کې د لیکنښو کارول د کلمو او تورو د کارولو په څېر ارزښت لري او ستاسې متن له ابهاماتو څخه پاک او واضح کوي. د لیکنښو ناسم کارول ستونزې پېښولای شي؛ یو ځای کې مې په دې اړه لوستي وو چې (( یوه ورځ دریم الکساندر غوښتل چې یو سیاسي بندي د سزا ورکولو لپاره سایبریا ته واستوي؛ نو ملکې ته یې لارښوونه وکړه چې د جلاوطنۍ فرمان ولیکي. د فرمان موخه او پیغام دا ډول و: ((بښل لازم نه دي، سایبریا ته یې واستوئ))، خو کاتب په‌دې ډول لیکلی و چې ((بښل، لازم نه دي سایبریا ته یې واستوئ.)) له دغه ډول لیکلو او د یوې ځنډنښې (کامې) بې ځایه کارونې له امله مجرم له ستر عذابه وژغورل شو.

**لیکنښې:**

۱ -ټکی یا تمکی:( . )

دا نښه د غونډلې (جملې) په پای کې لیکل کېږي او دا راښیي چې جمله پای ته رسېدلې ده.

بېلگه: محمد اشرف غني د افغانستان منتخب ولسمشر دی.

۲ -کامه یا تړونی ) ، :(

دا نښه په جمله کې د یوه لنډ ځنډ لپاره کارېږي، خو ډېری وخت د کلمو او نیمگړو خبرو ترمنځ د عطف لپاره راځي.

لومړی بېلگه: زما د افغانستان تور، سور او زرغون رنگی بیرغ خوښېږي.

دویمه بېلگه: چې د کامې د ځای بدلون پکې معنوي بدلون راولي: ((ماته پیاله راوړه. ((ما، ته پیاله راوړه((.

۳ -سیمي کولن یا ځنډنښه ( ؛ ):

دا نښه د زیات څنډ لپاره کارېږي، خو له کامې سره یې توپیر دا دی چې دا د کلمو تر منځ نه راځي، بلکې په هغو مرکبو جملو کې راوړل کېږي چې په مانا کې یو له بله سره تړلي وي.

بېلګه: کابل چې د افغانستان پلازمېنه ده؛ تر نورو ولایتونو پکې د ژوند زیاتې اسانتیاوې برابرې دي.

۴ -شارحه یا څرګندنې:( : )

د یوې فقرې، لغت یا موضوع د تشریح لپاره کارول کېږي.

بېلګه: د لوی افغانستان مشهور ښارونه عبارت دي له: کابل، بلخ، کندهار، کویټې، پېښور، ننګرهار، هرات او پکتیا څخه.

۵ -سوالیه یا تپوسنې ( ؟ ):

دا نښه د پوښتنې لپاره کارول کېږي. یانې د هرې سوالیه جملې په پای کې راځي.

بېلګې: کامه چېرته ده؟ څنګه یې؟ ملګری لرې؟

٦ -ندایه یا خوځکې:( ! )

دا نښه د ندا، غږ، تعجب او حیرانتیا لپاره کارول کېږي. د تنبیه او امر په وخت کې هم راځي.

بېلګه: اتله! راشه. واه! څومره ښکلې. دا لنډۍ په غور واورئ!

۷ -کش یا بېلنې:( ــ )

دا نښه د یوې جملې د جلا کولو لپاره کارېږي. په سوال او ځواب کې د هرې جملې په سر کې راځي او سوال او ځواب سره بېلوي.

بېلګه:

اتل ووېل: چېرته ځې؟

ننګیالي ووېل: کابل ته ځو.

ــهلته څه کوو؟

ــهلته له ملګرو سره ګورو.

۸ -دوه غبرګ کشونه یا سمسمې:( = )

دا نښه د دوو نومونو یا خبرو د برابرۍ او مساوات ښودلو لپاره راځي او په ریاضیکي مسایلو کې زیات کارول کېږي.

بېلګه: ۲+۲=۴

۹ -دوه قوسونه یا لېندۍ: ()

دا نښه د خاصو نومونو، د پام وړ شیانو او په منځ کې رالوېدلو جملو د ښودلو لپاره لیکل کېږي.

بېلګه: زه غواړم سبا ته له یعقوب سره (چې زما نږدې ملګری دی) د برلین له دېوال څخه لیدنه وکړم.

۱۰ -دوه غبرګې لېندکې: 《》

ددې نښې په منځ کې د بل چا خبره، نظر، یا د کتاب عبارت او یا د زیاتې توجه وړ کلمه راوړل کېږي.

بېلګه: محمد اشرف غني وایي: (( هېڅ افغان له بل افغان کم او زیات نه دی.))

۱۱ - څو ټکي:( ... )

کله چې لیکوال د یو نوم یا یوې خبرې لیکل نه غواړي، نو په ځای یې څو ټکي ږدي او ورنه تېرېږي.

بېلګه: ما د ډېرو شاعرانو شعري ټولګې لوستې دي. لکه: د غني خان، خوشحال ختک، عبدالرحمان بابا، حمید مومند او...

۱۲ -درې ستورې:( *** )

دا نښې د یوې رسالې یا یوې مقالې د یوې برخې د بشپړېدو او د بلې برخې د پیلېدو په منځ کې لیکل کېږي، یانې یو بحث له بل څخه جلا کوي.

۱۳ -یو ستورۍ:( * )

دا نښه ډېر کله د هغو کلمو د پاسه لیکل کېږي چې غواړو په فوټ نوټ (د لیکنې اخرنۍ برخه) کې تشریح ورکړو او یا یې هملته ماخذ ولیکو.

۱۴ -مایل خط:( / )

دا نښه د میاشتو، کلونو او ورځو د بېلوالي لپاره کارول کېږي.

بېلګه: ۱۳۹۴/۹/۲

یا هم د دوو بېلو تاریخي سنو لپاره کارېږي.

بېلګه: ۲٦-۱۱-۲۰۱۵/ ٦-۹-۱۳۹۴

ځینې وخت مایل خط د (یا) معنا هم ورکوي.

۱۵ -ایضاً یا د تکرار نښه:( // )

دا نښه ډېر کله هلته کارول کېږي، چې موږ د یوې کلمې د تکرار مخنیوی غواړو نو پر ځای یې دا نښه کارول کېږي.



# د دعوت رسنيز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه

دعوت رسنيز مرکز وياړي چې د خپلو نورو فرهنگي فعاليتونو په څنګ کې چې هغه د دعوت مجلې خپرول، د دعوت ميډيا ۲۴ او افغان سباوون ويبپاڼو تر څنګ په دې وروستيو يو شمېر په زړه پورې، مهم او ارزښتمن کتابونه د خپلو خلکو د چوپړ له پاره خپاره کړي دي. چې دلته په لنډ ډول د کتاب پېژندنه او د لاس ته راوړلو طريقه او د کتاب بيه او پوستي بيه ښوول کيږي.

## يوه افغانه ښاپيرۍ په کييف کې

**ليکوال محمد طارق بزګر**

۱/ دا کتاب چې د يوې ريښتنې پېښې له مخه ليکل شوې او د افغان جګړې د ناخوالو، نتيجو ، تاثيراتو او په ټولنه او خلکو يې اغيز، ښځه په افغاني ټولنه کې او د يوې افغانۍ د دردونکې او تريخ ژوند کيسه چې بلاخره بدلمنۍ ته مجبوريږي.

د کتاب بيه ۱۵۰ ناروېژي کرونه يا د هغې معادل او پوستي د لياږې ۲۰۰ ناروېژي کرون (د نړۍ ټولو هېوادونو ته).




---

## ملي رسالت (د محمد طارق بزګر کارنامې)

**ليکوال ارواښاد مصطفی عمرزی**

۲/ دا کتاب چې د دعوت رسنيز مرکز او مسئول مشر بيلابيل فعاليتونه او د لسګونو مطرحو افغانانو نظرونه هم په بر کې لري د دې کتاب ژبه پښتو او دري ده. کتاب د ګټې له پاره نه دی مينه وال يې يوازې د چاپ د مصرف په ورکولو سره تر لاسه کولای شي د کتاب د چاپ بيې تر څنګ پوستي مصرف يې ۷۰ کرون ياني (۷) ډالرو په ورکړې سره تر لاسه کولای شي.




---

## زموږ کاکا مُراد (ډاکټر ناکامورا)

۳/ د ژوند، کار، فعاليتونو او د دغه ستر انسان په اړه د لسګونو افغانانو نظرونه او نور ډير څه د عکسونو سره راغونډ شوي دي، د کتاب ژبه پښتو او دري ده، دا کتاب هم په وړيا ډول يوازې د پوستي مصرف (۱۰۰ ناروېژی کرون يا ۱۰ ډالر) په ورکولو سره هر افغان چې د نړۍ په هر ګوټ کې وي او غواړي ورته ليږل کيدای شي.






